| کرونايي کیسې ـ ۲ |

د کابل، پروان، کاپیسا، پنجشیر، بغلان، کندوز، بدخشان او بلخ کیسې



# هغه سړی چې له خپل سیوري سره لاړ

| خالده تحسین |

ژباړنه: پاکیزه ارزو

ACKU

ACKU

هغه سړی چې له خپل سیوري سره لاړ | خالده تحسین

چاپ لړ:۴۴۰

Factual Stories on COVID-19

**The Man Who Gone After His Shadow**

Khaleda Tahseen

”... په شونډو یې ترخه موسکا را خوروي. پر نړۍ او کاروبار یې خندا ورځي او ورو ورو له ځانه سره زمزمه کوي: «تیر خطاست زنده‌گی»

داسې احساسوي چې د مني بادونه یې هډوکو ته ننوتي او ځوروي یې. د خپلو کتابونو الماری ته دریږي، د خپلو ۱۴چاپ شوو کتابونو په لیدو خوشالیږي.

د هغه کس چې خپل سیوري هم پرېښود کیسې هیجاني کوي یې او له غم او خوشالۍ نه ډک غږ سره وايي: «ژوند، عجیبه لوبه ده، ډېره عجیبه لوبه! په پای کې خپل سیوری هم سړی پرېږدي».

“ ...

توانا

برنامه‌ای برای نشر کتاب، ترویج فرهنگ کتاب‌خوانی و توسعه‌ی کتابخانه‌ها در افغانستان

ACKU Box Library Extension

ISBN 978-9-9366622-4-7

9 789936 662247

# هغه سړی چې له خپل سیوري سره لاړ

کروناییي کیسې

# هغه سړی چې له خپل سیوري سره لاړ

**کرونایي کیسې**

## لیکواله: خالده تحسین

**ژباړنه: پاکیزه ارزو**

**هغه سږی چې له خپل سیوري سره لاړ**

کرونايي کيسې

**ليکواله:** خالده تحسين

**ژباړنه:** پاکيزه ارزو

سموونکی (ايډيټر): صديق الله بدر

انځورګر: زينب رضايي

ادبي ناظر / پراجکټ کواليټي کنټرولر: محب الله زغم

اوډونکی او ګرافيک: محمدکاظم کاظمی

خپروونکی: په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز

د پروګرام مسوول: کاظم‌حمیدی‌رسا

خپرنيزه کمېټه: عبدالوحيدوفا، رشمی دانګل، فيض محمدناياب او زينت الله قانت

چاپ لړ:۴۴۴

شابک: ۷ - ۲۴ - ۶۶۲ - ۹۹۳۶ - ۹۷۸

چاپ کال:۱۴۰۱ هـ.

# لړلیک


له لوستونکو سره خواله ........ ۷
هغه سړی چې له خپل سیوري سره لاړ ........ ۱۱
د بلال پنډغالی (کمپ) ........ ۲۹
هټیوال، عزیز کاکا ........ ۴۱
د کرونا درمل کشفوونکی ........ ۵۱
بوډۍ درمل جوړوونکې ........ ٦۷
سپېڅلي سپین چپني ........ ۷۹
د توتانو مېله ........ ۹۱
مات خوبونه ........ ۱۰۳
د دنیا نانځکې ........ ۱۱۳
خوبونه ........ ۱۲۳
د مور تش مقام ........ ۱۳۳
انسانیت ژوندی دی ........ ۱۴۳
د کتاب کوډې ........ ۱۵۳
د مور ښوونځی ........ ۱٦۵

## له لوستونکو سره خواله

ځیني انساني پېښې یوازې تاریخي پېښې نه دي چې په ثبتولو سره یې د تاریخ لیکلو کار وکړو. دغه پېښـــې پخپله دقیقاً د تاریخ مبدأ دي: نوي پېر ته د ســـفر پیل او د اوښتون ټکی. دا د تاریخ لوری بدلوي او تر هغه وروسته به د تاریخ په اړه د بشر پوهه بل کیفیت ولري.

د کورونـــا نړۍوالـه وبا هم دغســـې پېښـــه ده. دا یـــوازې د یوې ســـاري ناروغۍ خـــورا تېز خپرېدل نه وو. په یوه شـــپه کې د نړۍ د اقتصاد راپرځېدل، د بـــېروزګارۍ بې‌خرته زیاتېدل، د دنیا د صحي سیستمونو ګډوډېدل وو، او تر ټولو مهمه د یو ویشتمې پېړۍ انسان د ناچارۍ او بې‌چاره‌ګۍ نښه هم وه. هغه انسان چې د تخیل او ځان غوښـــتونکي تکبر په وجه د خپل چاپېر جهان پر پوهې مسلط شوی و خو د داســـې موجود په وړاندې ډېر آسان په ګونډو شو چې تر ده میلیونونه ځله کوچنی و.

نو، د کورونا ویروس راڅرګندېدل او خپرېدل یوازې د یوې ساري

او نيوونکې ناروغۍ خپرېدل نه وو. د بشر د تاريخ داسې نوی پړاو و چې ثبتول او خاطره کول يې يوازې د تاريخ او تاريخ ليکنې په وس کې نه دي. دا په دې چې تاريخ د روايتګرۍ د سنت پر بنا يوازې د لويو پېښو روايت کوي خو جزئياتو او وړو کيفياتو ته پام نه کوي، د ټولنيز ناورين مختلف بُعدونه نه راسپړي، د فاجعې پر خاصې زمينې تکيه نه کوي، همدا ځای دی چې ادبيات ميدان ته وردانګي او د پېښې ماهيت په لا زيات دقت سره ګوري، کيفيات او جزئيات يې توصيفوي، له تخيل سره يې ګډوي او په آخر کې يې د بشر جمعي خاطرې ته ور ننباسي.

په همدې وجه، لازمه وه چې د کورونا غوندې عالمګير ناورين دې يوازې په رسمي او غير رسمي تاريخ سره مکتوب او پايېدونې نه شي. ادبيات هم بايد د هغه په تل پاتې کولو کې خپله ونډه واخلي. ادبيات بايد تر تاريخ ډېر څه وکړي چې د ثبتولو او خوندي کولو چاره يې لا ډېره وپايي.

همدا وه چې د افغانستان د معلوماتو مرکز (ACKU) د داسې فرهنګي مرکز په توګه چې په مختلو برخو کې د بشري تجربو خوندي کول خپله يوه اصلي وظيفه ګڼي، را مخکې شو او هڅه يې وکړه چې د دې ستر او حياتي کار مديريت په لاس کې واخلي.

دغه کتاب د همدې هڅې او موخې نتيجه ده. له کورونا ويروس سره د ځينو افغانانو د مجادلې کيسې؛ د هغو واقعي انسانانو چې د ژوندي پاتې کېدو او بقا لپاره يې هڅه کړې ده؛ د اتلوليو، مېړانو، ماتو او برياوو حکايتونه، هغه هم په داسې هېواد کې چې په دې نابرابره

جگړه کې یې د نــړۍ تر ډېرو هېوادونو په ډېـــرو برخو کې خورا لږ امکانات او ځواک درلود.

دا چې دغه کتاب څنگه ولیکل شــو، لنډه توضیح یې دا ده چې پــه هېواد کې د کورونا ویروس د خپرېدو د لومړۍ څپې په پای کې، د افغانســتان د معلوماتو مرکز له دې وبا ســره د مجادلې د تجربو د راټولولو پروگرام طرح کړ. پرېکړه داســې وشوه چې د هېواد له شپږو زونونو څخه دې د دې مجادلې بشري تجربې راټولې شي. دغه شپږ زونونه کابل، شــمال، جنوب، شــرق، غرب او مرکزي زون وو. په لومړي ســر کې د پروگرام گزارشــگرانو له وگړو سره د مصاحبې له لارې اطلاعات او عیني تجربې راټول کړل. وروسته، دغه خام مواد د کتونکې ډلې پــه لاس لیکوالو ته ولېږدېدل. لیکوالو له یوې یا څو تجربو یوه لنډه کیســه جوړه کړه. نو، د دې ټولگې کیسې په ټوله کې د عیني واقعیتونو پر اســاس لیکل شوې دي. پېښې ټولې واقعي دي او په دې کیســو کې د لیکوال د تخیل ونډه یوازې د فضا جوړولو، د صحنو اوډون او د لحن تولید و.

د کیسو په لیکلو کې هڅه شوې ده چې د امکان په حد کې د هغو سیمو د بومي فرهنگ گوټیو خوند او رنگ وساتل شي چې دغه پېښې په کې شــوې دي. دغه لحن د کرکټرونو نومونــه، د ځایونو، جامو، خوړو، بوټــو او ... نومونه رانغاړي چې په ټولو داســتانونو کې یې خوندي کول عمدي کار و.

بله خبره دا چې، لیکوالو په لومړي سر کې کیسې په یوه ژبه یعنې یا پښتو، یا فارسي، یا اوزبیکي ژبه لیکلې دي. وروسته بیا د هرې ژبې

کیسې دوو نورو ژبو ته هم ژباړل شوې او چاپ ته چمتو شوې دي.
د کار نتیجه په شـــپږو جلا جلا دفترونو کـــې راغلې ده چې دغه کتاب یې یو دفتر دی.

**په کابل پوهنتون کې د افغانستان د معلوماتو مرکز**
**د توانا پروګرام**



## هغه سړی چې له خپل سیوري سره لاړ

لیکوال، پرده را کشوي او کړکۍ خلاصوي. د بلاک بڼوال هغه زېړې پاڼې چې خزان، دغه ناشکره فصل، پر ځمکه تویې کړې، جارو کوي. د لیکوال سترګې په یوه لس، دوولس کلن ماشوم لګېږي. ماشوم هڅه کوي هغه کاغذپران چې تار یې په لاس کې دی او د اکاسي ونې په وچو ښانګو کې بند پاتې دی، را وباسي.

د اکاسي وچې او لغړې ونې په کتو، د لیکوال زړه له نهیلیو ډکېږي. د پسرلي ورځې یې ورپه یادېږي، د ثور میاشتې هغه ورځې چې دا ونه قیامت کوي او سر تر پایه له سپینو غوټیو ډکېږي. لیکوال په نهیلۍ له ځان سره وایي: «اخ، چې څومره د دې ګلونو په بوی مین وم. له دې کوټې او دې کړکۍ سره یوازې د همدې ګلونو د عطر له کبله مینه لرم».

د ډډبېکي (پوکانۍ) پلورونکي غږ یې را په خود کوي. په ګلابي او سپینو رنګونو کې د ډډبېکیو لویه ګېډۍ د لیکوال سترګې نازوي: «څه

وختونه وو ، په مینه او شـــوق به مو ډډېبکي اخیستل، کله به مو چې له لاسه خوشې شول او هوا به یې وکړه، زړه به مو پسې ولوېد او چې څومره به مو سترګو کار کاوه، په هوا کې به مو د هغه ننداره کوله، تر هغې چې په هوا کې په یوه وړوکي ټکي بدل شول».

لیکوال لاســونه پر ملا نیسي او پر دېوال تکیه کوي. کلونه کېږي چې هغه د مکروریانو په همدې اپارتمان کې یوازې اوســېږي. نژدې شــل کاله کېږي چې بیخي یــوازې دی. یوازېتوب هېڅکله هم لکه دا دوه، درې وروستۍ میاشــتې دومره نه و ځورولی:«چا کله داسې فکر کاوه، چې نړۍ به له داســې یوه برخلیک سره مخ شي، چا فکر کاوه، چې د کرونا افت به د نړۍ ټول خلک داسې بې وزله او حیرانه کړي؟»

دوه درې میاشتې کېدې چې لیکوال په خپل کور کې بیخي یوازې اوســېده، د هغه په خپله خبره، د دې وره او پنجرو بندیوان و، ناچاره و له کوره ونه وځي او ان خپل ډېر نږدې دوســتان او ملګري هم ونه ویني.

په شــونډو یې ترخه موســکا را خورېږي. پر نړۍ او کاروبار یې خندا ورځي او ورو ورو له ځانه سره زمزمه کوي:

«تیر خطاست زنده گی»

داســې احساســوي چې د مني بادونه یې هډوکو تــه ننوتي او ځوروي یې. کړکۍ بندوي او په شمېرلو ګامونو خپل کتابتون ته ځي.

پلټونکې ســترګې یې برېښېږي، د مېز له ســره خپلې عینکې را اخلي، د مېز پر ســر پر خورو ورو کاغذونو سترګې ګنډي. د خپلو

کتابونـــو الماری ته دربړي، د خپلو ۱۴ چاپ شـــوو کتابونو په لیدو خوشالېږي.

د هغه کس چې خپل سیوري هم پرېښود کیسې هیجاني کوي یې او له غم او خوشـــالۍ نه ډک غږ ســـره وايي: «ژوند، عجیبه لوبه ده، ډېره عجیبه لوبه! په پای کې خپل ســـیوری هم سړی پرېږدي، په پای کې خپل سیوری هم سړی پرېږدي».

په سوچ کې ځي، عینکې له تندي راښکته کوي او پر خپلې پوزې ږدي. داسې احساســـوي چې د عینکو هینداري یې دوړو کمزورې کړې دي. تر ژبې لاندې بوډاتوب ښـــکنځي او ورو ورو له ځانه سره زمزمه کوي:

«پیري رسید و فصل جواني دیگر گذشت...»

په ډېر شـــور و ځوږ سره د احمد ظاهر نوم اخلي او په لوړ غږ له ځانه سره زمزمه کوي:

«ای غرقه باد کشتی عمری که روز و شب... .»

له ډېر درد او هیجان سره وايي:

«ظاهر جان، ظاهر جان!»

یادېـــږي یې چې له احمدظاهر ســـره د ځوانۍ لـــه دورې ډېرې خاطـــرې لري او له غږ ســـره یې مینه لرله. هر ځل چې به شـــهدای صالحیـــن ته د غبار او محمودي زیارت ته لاړ، یو ځل به هرو مرو د احمدظاهر زیارت ته ورته او ان ځینې وخت به نیمه شپه هم له ملګرو سره هلته روان و.

د ســـنځلې تر ونو لاندې ماران یې په ذهـــن کې ګرځي او د دې

كيســـې له جوړښته او له بلې څمكې د مارانو راتلل يې خوښېږي. په لوړ غږ وايي:

«لوى هندوستانه، لوى او مرموزه هندوستانه»

له خيالونو را بهر كېږي او د خپلو كتابونو په ننداريې بوختېږي. له مغزو يې لكه غشى فكرونه تاو راتاوېږي:

« اخ، چې څومره ډېر مې په دې كتابونو زحمت ايستى»

غږ يې له خوښى لړزېږي:

«نه، نه، ژوند مې بې ځايه نه دى تېر كړى، ښه گټه مې كړې او له فُرصت مې گټه اخيستې».

يادېږي يې چې شپه او ورځ يې په دې كتابونو كار كړى، څو نور كتابونه يې مطالعه كړي او ډېرې څېړنې يې كړې دي، تاريخي سيمو ته يې ســـفرونه كړي او د سيمې له خلكو سره يې له نژدې ليدلي او د دوى كيسې يې اورېدلې دي.

سترگې يې په «گلنار و آيينه» لگېږي، پر كتاب په مينه لاس تېروي او په خوښى وايي:

«اخ، اخ! يـــو تر ټولو په زړه پورې كتـــاب مې وموند. هى هى دا هندوان هم عجبې فلسفې او افسانې لري»!

«په رښـــتيا چـــې د زرو په قدر زرگر پوهېـــږي؛ زه خو زرياب يم ههههههه زرياب»!

ليكـــوال، د خپلو كتابونـــو الماري ته تكيه كېـــږي، خو په خپلو هډوكو كې د درد احساس كوي، له څه مودې راهيسې د پښو درد يې ځوروي. هغه څه يې په ذهن كې گرځي چې پخوا يې اورېدلي وو:



«چې د شپېتو شي د ويشتو شي.»

خاندي، خاندي او خاندي. چيغې وهي او په چيغو چيغو وايي:

«زه نېکمرغه يم، نېکمرغه! عمر مې له ۷٦ هم اوښــتى خو اوس هم د سالم عقل خاوند يم. بيا خاندي هاهاهاهاها.»

د شيخ وويل...، کتاب په ليدو ليکوال موسکى کېږي؛ ځکه دى په خپله هماغه کس دى چې په لومړي ځل يې په داستاني ادبياتو کې د داستانيت اصطلاح کارولې ده:

«دا اصطــلاح مې په خپله ومونده او جوړه کړه او لومړى ځل مې خپله وکاروله. يو شــمېر مې مخالف وو، بيا هم وايم څه توپير لري، ښه دى چې د نظر اختلاف موجود وي؛ خو دا نړۍ او نظرونه يې ټول د نظرونو د اختلاف پر بنسټ ولاړ نه دي؟»

هغه ځوړ چې ادم ذاتو او ځناورو جوړ کړى و، د دې کتاب ليدل د ليکــوال پــه زړه او ذهن يو عجيب حس پيداکــوي: «اخ! دا ځوړ څومره رښتينى دى، په رښتيا هم په دې ناول کې مې په ليکوال غريب زړه ســوزي. په رښتيا که زموږ د ټولو داستانونو شخصيتونه يوه ورځ واقعيت ومومي او له موږ ســره لاس او ګرېوان شــي چې موږ ولې دوى لکه څنګه چې زموږ زړه غوښته هسې مو جوړ کړي، زموږ ورځ بدېږي، زموږ ورځ بدېږي. ورک يې کړه دا فکرونه سرى بيخي لېونى کوي.»

لاس يې په يــوه مجله لګېږي، هغه را اخلــي. يوه برخه کې يې دى راپېژندلــى دى، ليکلي يې دي، اصلي ځاى يې غزنى دى؛ خو د کابل په ريکاخانه کې زېږېدلى دى. ليکوال د دې برخې په ويلو سره

ملنډې وهي:

«تـــل لیکي چې اصلي ځای مـــې غزنی دی. خـــو زه د کابل په ریکاخانه کـــې زېږېدلی یم. فکر کوم اصلي ځای مې هم کابل دی، کابل دی.»

لیکوال، په مغرورانه انداز چیغه وهي:

«خو څه توپیر کوي چې انسان د کوم ځای دی او چېرته زېږېدلی دی، هېڅ مهمه نه ده چې څوک یم او د کوم ځای یم! هاهاهاهاها دا نړۍ خپله چېرته ده، ناکجاآباد، ناکجاآباد!»

بې اختیاره ژاړي او د خیام پر روح درود وایي:

«د هغـــه لوی حکیم پر پاک روح دې درود وي! څومره ســـم یې ویلي چې موږ نانځکې یو او اســـمان په نانځکو لوبې کوونکی دی، موږ نانځکې یو او اسمان په نانځکو لوبې کوونکی دی، موږ نانځکې یو او اسمان په نانځکو لوبې کوونکی دی».

خپلې اوښکې په لستوڼو پاکوي او وایي:

«هسې هم نړۍ کې هرڅه بې معنا او خندوونکی وي، بې معنا او خندوونکی، بې معنا او خندوونکی!»

لیکوال نېغ درېږي او پر شونډو یې د ویاړ موسکا را څرګندېږي. خو ناڅاپه یې رنګ بدلېږي او په حسرت وایي:

«دریغه چې ژوند راته یوه بله موقع هم راکړې»

په ذهن کې خپل نابشپړ شوي کتابونه شمېري:

منه او ارسطاطالیس، د بودۍ شیدې ورکوونکې رازونه، او په پای کې ســـهارخېزه ښاغلی راپاڅېږي، بدخشانۍ مېرمن. کاش چې دغه

کیسې پوره کړم. باید پوره یې کړم. باید باید...

دم شېبه کې یې پرېشانه څېره لا نوره پسې ګونځې ګونځې کېږي او یو ناپېژندل شــوی غم یې پر زړه سیوری کوي، لیکوال له نهیلۍ چیغه کوي:«لا ډېر وخت دی، لا ډېر وخت دی باید نابشــپړ کارونه مې بشپړ کړم او بیا لاړ شم.»

دوه درې میاشــتې کېږي چې لیکوال یوازې له خپلو کتابونو سره وخت تېروي، نه چېرته ځي او نه هم شوکویني؛ ځکه چې د کرونا افت هغه هم وېرولی او پوهېږي عمر یې داســې حالت کې دی چې دا ویروس کولای شي زیان ور ورسوي.

یوازېتــوب یې ډېر ځوروي او زړه یې په هغو ورځو پســې چې د ټلویزیون له همکارانو سره یې په ګډه کار کاوه، تنګېږي. کله کله هم هغه ځوان لیکوال ته چې خپل انتشــارات یــې هغه ته د ډېر درناوي په خاطر د هغه په نوم کــړي وو، زنګ وهي او کله یې هم ملګري د پوښتنې لپاره زنګ ورته وهي.

هغه د دې لپاره چې ځان ته تســلي ورکړي، وايي:«تریخ واقعیت همدا یوازېتوب دی. انسان نړۍ ته یوازې راځي. یوازې ژوند کوي او یوازې مري. نور هرڅه افسانې او دروغ دي، افسانې او دروغ دي... چل دی... چل! د دې فضا هر لور ته یوازېتوب دی. په شــمال کې یوازېتوب دی؛ په جنوب کې یوازېتوب دی. په ختیځ او لویدیځ ټولو ځایونو کې یوازېتوب دی. دغه یوازېتوب په خپله لکه د فضا غوندې بې پایه دی.لکه د هستۍ فضا.»

***

بله ورځ د کمزورۍ، زړه بدوالي او سختې سردردۍ احساس ورته پيداکېږي. هغه له ځوانانو يوه ته وايي، د درد درمل ورته راوړي. د ليکوال حالت نور هم خرابېږي، ملگري او خپلوان يې ورته انديښمن کېږي او هغه د کرونا د ازموينې لپاره روغتون ته وړي. د ازموينې پايله منفي کېږي، د ليکوال ټول ملگري ډېر خوشالېږي او د خپلو کيسو پير ته چې له يوې سليزې ډېر يې د خبرو زړي کړلي، دعا کوي. يو ځل بيا يې حالت خرابېږي، ملگري يې چې بيا هم د کرونا د تشخيص روغتون ته بيايي، بيا يې هم پايله منفي کېږي. ټول حيران دي چې د ليکوال ناروغي څه ده او ولې نه رغېږي.

ملگري يې ځان اور ته ورکوي، په پای کې هغه په بگرام کې يو روغتون ته بيايي چې د امريکايي نظاميانو لپاره ځانگړی شوی دی. هلته ډاکټران تشخيصوي چې ليکوال ۱۹ ورځې وړاندې په کرونا اخته شوی دی.

د دې خبر په اورېدو د ليکوال ملگري ساړه ساړه اسويلي کوي. هغوی له اوښکو په ډکو سترگو او له غمه په ډکو سينو گوري چې د وطن معنوي پانگه يې د له منځه تلو په حال کې ده.

منوچهر فراديس او څو نور ځوان ملگري يې شپه او ورځ نه پېژني او تل د خپل استاد تر څنگ وي. سهار منوچهر په يو زر او يو انديښنو سره د ادبياتو دغې لوړې او د پياوړي بنسټ څوکې مخ ته گوري او وروستۍ خبرې يې ور په يادېږي چې ويلي يې وو: «خدای دې څوک نه بوډا کوي، که يې بوډا کړ، يوازې دې نه شي.»

سره له دې چې استاد يوازې و، پرويز شمال، ښينه (د مېرمنې

خور) يې او يو شـــمېر نورو دوســـتانو يې تل پوښتنه کوله. يو ځل د منوچهر پام اوړي چې که خدای مه کړه استاد مړ شي، کېدای شي د حکومتي او غیرحکومتي چارواکو له لوري، له القابو او ســـتاینو ډک په سلګونو د تســـلیت پیغامونه را ولېږل شي، ایا استاد به هغه وخت دې ستاینو ته اړتیا ولري؟

رهنورد زریاب، د خان سخاوت ته اړتیا نه لرله. د نړۍ هېڅ ځای يې د خپل خلوت له ښنډې او د مکروریانو له هماغه اپارتمان سره نه برابراوه. منوچهر ځان ته ټکان ورکوي او پر شیطان لعنت وایي چې ولې يې ذهن ته دا ناوړه فکرونه راګرځوي. غواړي په کوم بل څه فکر وکړي؛ خو د اســـتاد اهونه چې هر ځل به يې له ستوني بهر کېدل، د هغه ارامي ترې اخلي:

«وئ وئ، وئ وئ...»

«استاده، څنګه يې»؟

«ستړی یم، ډېر ستړی یم...»

درد وخت نه ورکوي، احساســـوي چې اوږې يـــې د دواړه نړۍ ستړیاوو درنې کړې دي، هغه رهنورد چې هېڅ کله يې هم له ژوند او د ژوند له دردونو شکایت نه کاوه، اوس ستړی دی.

فرادیس تـــه لومړۍ ورځ ور په یادېږي چې د اســـتاد له ناروغۍ خبر شـــوی و، د ۱۳۹۹ لمریز کال د لړم ۲۶مه د دوشنبې ورځ وه. له ماسپښـــین وروسته يې چې له معمول سره سم استاد ته بلنه ورکوله د دوی کور ته ورشي، زنګ يې ورته وکړ:

«استاده! په څو بجو چېرته درپسې درشم، ټلویزیون که کور ته؟»

«زویه! غږ مې اورې، ناروغ شوی یم.»

«استاده څه کیسه ده؟»

«نه پوهېږم، سر مې درد کوي.»

په یادېږي یې، څو ورځې تېرېږي خو له استاد سره په ټلیفون خبرې کوي، اســتاد ډېر په عذاب نه و، تــر دې چې یوه ورځ یې زنګ ورته وکړ خو استاد ټلیفون وانه خیست. اندېښمن شو، استاد به معمولاً د شپې تر یوولسو یا دوولسو بجو ویښ و او بیا به ویده کېده. که به یې د ورځې ټلیفون ګل و، پوهېده چې اســتاد د ورځې تر دوولسو بجو لیکل کوي او له دوولسو وروســته خپل مبایل روښانه کوي، خو په هغې شپه یې مبایل روښانه و، خو نه یې اخیست، ماسپښین یې کور ته ورغی: «زنګ ته دې ځواب ونه وایه، اندېښمن شوم.»

«سر د شپې ډېر ښه ویده شوی وم.»

«څنګه یې؟»

«ستړی یم او څه ته مې زړه نه کېږي، ویې خورم.»

«استاده داسې نه کېږي، یو څه وخوره.»

«له پخلنځي چای او بوره راوړه.»

خوږ چـــای یې نوش جان کړ، بیا یې درمـــل وخوړل. فرادېس د هغې ورځې په ماسپښین له استاد لاړ؛ خو ورته اندېښمن و. سبا یې له ځوان پاییز سره کور ته ورغی. پرویز شمال دروازه پرانیسته. استاد یې په کوټه کې اوږد غزېدلی او ســتړی ښــکاري: «پرویزه! د استاد ناروغي به څه وي؟»

«نه پوهېږم، وایي ستړی یم؟»

هغـــه وخت ټولو هېره کــړې وه، د کومې ناروغـــۍ په زمانه کې اوســـېږي، اصلاً دوی دې مسلې ته هېڅ پام نه کاوه؛ ځکه چې استاد چېرته تګ راتګ نه کاوه او په کور به و. یوازې دوشـــنبه او چهارشنبه بـــه ټلویزیون ته ورته، د دوی په ذهن کې دا هېڅ نه راته چې دا عادي ساره به بدې پایلې ولري:

«فرادیس زویه، یو سګرېټ راکړه.»

«واخله استاده.»

یوازې ســـګرېټ یې څکـــول او څه ته یې زړه نه کېـــده. پرویز د ســـبزیجاتو ډېر ښــــه خواره راوړي وو چې استاد لږ وخوړل. له ځان ســـره یې ګازي بخارۍ هم راوړې وه چې وړوکې کوټه یې پرې توده کړې وه.

هغه او ځوان کوربه لاړل چې د شـــپې لپاره خواره راوړي، پرویز شـــمال له استاد سره پاتې شـــو. فرادیس او ځوان بېرته د شپې په اوو بجو د استاد کور ته، د خوړو له لوښو سره را ورسېدل:

«استاده اش او وریجې مو راوړل.»

«لږ وریجې راوړه.»

وریجـــې به یـــې د ملنډو له کبلـــه د واو په پېښن تلفـــظ کولې او خوښېدې یې. څو قاشقې یې وخوړې او قاب یې بېرته راکړ. په هغه شپه یو څه ښه شو، له ځوان سره یې ډېرې کیسې وکړې.

سهار چې کله لاړل، هغه د تېرې شپې استاد نه و. ښینې یې دروازه پرانیســـته او د استاد کوټې ته راننوتل. سینې یې غژ غژ کاوه او ناارامه وه. همدا چې اســـتاد هغه ولید او څو دقیقې تېرې شوې، لږ ورته په





ځیر وکتل او په لږه تنده لهجه او بیړه یې وویل: «د بدخشانۍ مېرمنې رمان بشپړ نه شو!»

دغه جملـــه یې د روح له ژورو راتله، خو فرادیس ځان نه و ورک کړی، ویې ویل:

«نه استاده، داسې مه وایئ».

پرېکړه دا شوه چې اســـتاد روغتون ته یوړل شي. د مکروریانو په هغه سوړ کور کې یې اوسېدل مناســـب نه وو. پرویز شمال د کرونا ازموینـــې لپاره، له یوه خصوصي روغتون نه دوه تنه راغوښـــتي وو. هغـــوی ازموینه واخیســـته او لاړل. هغه یې باید له شـــپږم پوړ څخه راښکته کړی وای، له هغې لکښې سره چې په وروستیو ورځو کې یې د پښـــو د درد لپاره اخیستې وه، ورو او په ډېر زحمت په زینو کې څو قدمه راښکته شو. فرادیس ولیدل چې داسې نه کېږي او په هغه سوړ دهلېز کې استاد نور هم په عذابېږي:

«استاده لاسونه دې ماته راکړه او را په شا شه.»

«نه، خپله کوزېږم.»

«استاده نه کېږي، دهلېز ډېر سوړ دی او زینې هم ډېرې.»

نه یې منله، خو پرې ویې منله او استاد یې په شا کړ. راښکته او په موټر کې د روغتون په لور روان شول. ډاکټرانو ډېره مهرباني وکړه. په ورې دستګاه یې د زړه ټکان وکوت او اکسېجن یې ورکړ. د زړه ټکان یې ۹۱ او د وینې اکســـېجن یې له ۸۱ تر ۸۵ حرکت کې و. وینه یې معاینه شـــوه، ادرار، د مغز عکس، د سږو عکس او تقریباً په عمومي ډول معاینه شـــو. له دې کوټې هغې ته، له یوه ماشـــین بل ماشین ته

یې ووړ، اســتاد یې ښکته او پورته کاوه، خو هغه صبر درلود او نه بې حوصلې کېده.

اســتاد بستر شو. منوچهر ته عجیب و، ډېر عجیب. استاد په دې عمر کې هېڅ ډول ناروغي نه لرله هېڅ ډول، نه د وینې غوړ، نه شکر، نه د زړه تکلیف، نه د ګردې، نه ینه او نه هم بله ناروغي.

د هغه په یاد دي چې د دې ورځې په سبا له هغه شخصي روغتون نه د کرونا د ازموینې پایله راغله چې منفي وه. بله ازموینه هم وشــوه چې دا هم منفي وه.

د استاد ملګري او دولتي او نادولتي کسان تلل راتلل، ملګرو یې له ټولې نړۍ او داخل څخه پیغامونــه رالېږل، فرادیس به ورته ویل. هغه اســتاد ته وویل: «استاده تېره ورځ دې ویل خوب مې لیده، اوس دې د خوب کیسه وکړه».

«په خوب کې مې امام ابوحنیفه ولید چې دواړه واړه یو او مدرسې ته ځو... دا خوب به بل وخت ټول induced».

د اســتاد دغه خوب فرادیس ته ور په یــاد کړل چې یو وخت یې ویل: «ته پوهېږې چې قران مې خو ځلې له معنی سره ویلی دی؟»

«نه استاده، په دې اړه هېڅ نه پوهېږم».

«دیارلس ځله مې قران کریم له ترجمې ســره لوستی او یوه دوره مې حجیم کشف الاسرار وعده الابرار میبدي هم لوستی دی».

مازیګر و چې لیدو ته یې دوې خبریالانې راغلې. د کوټې چاپېریال بل ډول و. څنګه چې د اســتاد سترګې پرې ولګېدې، په ارامه خو په روښانه او بیدار ذهن یې د امیر خسرو دهلوي بیتونه وویل:

«که جنازې ته رانغلې زیارت ته به راشې...».

د فرادیس ستونی را ډک شو او لومړۍ اوښکې یې هلته وبهولې.

استاد شپږ ورځې په بستر کې پاتې شو او په عمومي ډول یې حالت ډېر ښه شوی و، خو یوه ورځ سهار د روغتون مرستیال له یوې ډلې ډاکټرانو سره راغی او ویې ویل تاسې بهر لاړ شئ. کله چې هغوی لاړل استاد وویل:

«فکر کوم نور تلونکی یم، همدومره وخت چې راکړی د بدخشانۍ مېرمنې ناول بشپړ شي، نور څه نه غواړم.»

«نه استاده داسې نه ده، دا ډاکټران نوي فارغ شوي او د عملي زده کړې لپاره یې دلته راوستي.»

«زویه، اوس مې ته هم تېر باسې؟»

د دې ورځې په سبا د روغتون لوړ پوړي چارواکي راغلل او ویې ویل:

«استاد باید ارام ځای ته یوسئ، له کوم غالمغال پرته ځای ته یې یوسئ چې په تکلیف نه شي، د روغتون چاپېریال ورته مناسب نه دی. د استاد سږي جوړ نه دي. په سبا یې، پرویز شمال په هر ډول چې وو، همغږي وکړه چې استاد بگرام ته ولېږدول شي.»

پرویز وویل:«د باگرام د روغتون ډاکټران وایي چې استاد پوره ۱۹ ورځې مخکې د کرونا ویروس په ناروغۍ اخته شوی دی.»

پنځه ورځې په بگرام کې پاتې شو، خو په خپله خوښه بېرته کابل ته انتقال شو. د بگرام روغتون مسوولینو ته یې ویلي وو:«له مرگ نه وېرېږم، خو خوښېږي مې چې له ملگرو سره مې وم او مړ شم.»

لیکوال یې چې سردار داوود خان روغتون ته انتقال کړ. فرادیس هم پر کرونا ویروس اخته شوی و، استاد ته ورتلل او د هغه لیدل ورته ناشوني شوي وو.

لیکوال په دې هېواد مین و مینه یې ورسره لرله. له همدې کبله له ټولو ستونزو سره سره چې برېښنا او اوبه به هم نه وې د کابل له سړې هوا سره جوړ و، خو د اروپا ارام ژوند یې خوښ نه و.


لیکوال وویل:«کله چې مړ شوم، بې شر وشوره مې ښخ کړئ، پام مو وي چې زما په مړینه ناارامي ونه کړئ. په پوره خوشـــالۍ مې ښخ کړئ.»

***

د منې سړه شپه وه، شمال زېړې پاڼې پورته کوي، پاڼې د خپلو ونو سرې تنې پرېږدي او د ناکجاباد لور ته یې وړي. ساعت څلور بجې او ۵۳ دقیقې دی، د سهار اذان ته یوازې درې څلور دقیقې پاتې دي چې لیکوال د ده په خپله وینا د پوچې او ناخوښـــې نړۍ لور ته پښې وهي او د یوه اوږده او تور خوب په لور ځي.

فرادیس سهار، هغه تر ټولو تریخ خبر چې هېڅ کله یې هم اورېدو ته تیار نه و، له پرویز شمال اوري:

«د اســـتاد روح څو دقیقې وړاندې د ارامۍ په لور لاړ او موږ یې پرېښودو.»



## د بلال پنډغالی (کمپ)[۱]

شـــپه د کوڅه ډبو سپیو انګولاوو وېروونکې کړې او د الوتکو غږ بیا دغه وېره دوه چنده کړې ده. شـــېراحمد پرېشانه د لوېې ویالې تر څنګ چې د دوی د انګړ له منځه تېره شوې، ناست او په اوبو کې له څپولی وېښتو او بې خوبه سترګو سره د خپل ځان په ننداره بوخت و.

خپلې پیڅې یې بډ وهلې، یو سوړ اسویلي کوي او بیا وایي:«کلونه کېږي، د ارامۍ مخ مو نـــه دی لیدلی. کلونه کېږي ارام خوب مو نه دی کړی. زړه خو مې په نازنین ســـوځي. څه ګناه مو کړې چې دعا مو نه قبلېږي؟»

د الوتکو غرهار یې پوښتنې پر شونډو وچوي. وېره یې پر ټول بدن

۱. دا کیســـه د یوې رښتینې پېښـــې پر بنسټ لیکل شـــوې ده. بلال پنډغالی په مزار شریف کې دی چې جونګړې یې له خامو خښتو او خټو جوړې شوې دي. په پنډغالي کې اوسېدونکي د سرپل ولایت له جګړو بې ځایه شوې کورنۍ دي.

خوربېـــږي او په بد حالت کې ویني چې بم یې د کور له بامه لوخړې پورته کوي، چیغه کوي: «نازنینې!»

«د پلار نازنینې!»

وروسته یې د مېرمنې نوم شیرین په ژبه تاوېږي:

«شیرینې!»

«زما شیرینې!»

په یوې کړیکې له خوبه را ویښېږي. زړه یې په زوره زوره درزېږي، ان د خپل زړه د ټکان غږونه اوري. پر تندي یې ســـړې خولې روانې دي.

په لړزېدلي بدن لږ را پورته کېـــږي، د اوبو ګیلاس راپورته کوي؛ لاسونه لپه یې دومره لړزېږي چې له ګیلاس اوبه تویېږي.

له وېرې په ډکو ســـترګو لور او مېرمنې ته ګوري چې ویدې دي. لاسونه کوي او شکر کوي چې یو خوب و او تېر شو.

بـــاد ځورږ جوړ کړی، په زاړه کنډوالـــه کور کې هغه کړکۍ چې د هندارو په ځای یې پلاستیکونه ورته ټک وهلي دي، داسې دربی کوي چې شېراحمد فکر کوي اوس به را ولوېږي.

په کراره هغه پوخ رنګ لرونکې برېـــتن چې مېرمنې یې تازه ورته ګنډلې، پر نازنینه او شیرینه ورکشوي او ور په یادېږي چې مېرمنې یې د خیاطي له پاتې ټوټو څخه د ده برېستنې ته پوښ جوړ کړی و.

د مېرمنـــې رنګ الوتې څېره او ډنګر وجود د شـــېراحمد درد نور هم ډېروي، ســـترګې یې د شیرینې په لاســـونو لګېږي. اوښکې یې په ســـترګو کې تاوېږي شي. دغه لاســـونه نور هغه ښایسته او لمرین

لاســـونه نه دي. داسې ایسي لکه چې د دې فرښتې له بدن سره یې د بل چا لاسونه پیوند کړي وي.

شـــېراحمد کریغې ته ورته غږ ســـره وایي: «زما شیرینې، څومره هیلې مې لرلې چې تا نېکمرغه کړم، زړه مې غوښتل چې له خوبه یې وخورې، له خوبه یې وځښـــې او سپین لاس سپینې پښې وګرځې او سپین رانه لاسونه دې خراب نه شي.»

اوښـــکو وار نه ورکاوه. پـــه کلي کې یې خپـــل کوچنی کور ور یادېږي، خپل وړوکی خاورین کور یې په ســـترګو کې ګرځي. ور په یادېـــږي یې چې د کور د مخې ځمکه یې د خپلې مېرمنې په مرســـته څنګه په شنه کرونده بدله کړې وه. یوه ورځ یې خپلې مېرمنې ته ویلي وو چې نور په کرونده کې کار ورسره ونه کړي؛ خو شیرینه په ښایسته او مالګینه موســـکا، وروځې پورته اچوي او ورته وایي:«شـــېرجانه، پوهېږم چې تا غوندې کار نه شـــم کولای، خو زړه مې نه مني چې ته شپه تر سهاره کار وکړې او زه دې په کور کې وم.»

هغې همدا چې له خپل غوړېدلي او سپین تندي څخه کړی شوې او په خولو لامده خرمايي وېښتان لرې کړل، ویې ویل:«پرېږده چې زه هم کار درسره وکړم چې راپسې خپه نه شې.»

شـــېراحمد چې له کومې ورځې شیرینه لیدلې وه، په یو نه په سلو زړونو پرې مئین شوی و او په دې ښه پوهېده چې دا یوازې د شیرین مینه ده چې ژوند یې ورسره معنا پیدا کوي.

هغه ته له شـــیرینې سره د لومړي ځل پېژندنې او لیدو ورځ ور په یاد شوه. هغه ورځ چې غوښتل یې د ختګر غلام په مرسته د خپل کور

د دېوال لومړۍ پخسې ووهي. ور په ياد شول چې د شيرينې مستانه خنداګانو د کلا شاته ور کش کړې و.

نازنينـــه وچونګېده او د مور غېږې ته نوره هم ورجوخته شــــوه. د يوازينۍ لور د زړو لســـتونو ليدو زړه ور کباب کړ. سوړ اسوېلی يې وويســـت او په لوړ غږ يې وويل: «ولې؟ خدايه! ولې دې زموږ هرڅه واخيســـتل، څه ګناه مو کړې وه چې په هغې بدبخته جګړه کې زموږ هر څه لولپه او ايرې شول؟»

ناڅاپه شــــيرينه په زېږه بڼه او حيرانو ســـترګو يو ټکان وخوړ او په خپل ځای کې نېغه کېناسته. د خپل خاوند له اوښکو ډکو سرو سترګو ته اندېښمنه شوه.

په پرېشانۍ يې وويل: «شــــېرجانه! بيا څه شوي چې له ځانه سره غږېږې؟»

شـــېراحمد چې په خپلو کرېږو د مېرمنـــې خوب خراب کړی و، وشرمېد او په نرم او مهربانه غږ يې وويل:

«هيڅ خبره نشته ښځې، ويده شه!»

شـــپه اوږده وه، ډېره اوږده. شــــېراحمد فکر کاوه چې شــــپه لکه ولاړې اوبه توره او بدبويه ده چې د انسان زړه غواړي ژر ترې تېر شي او بيا هېڅکله هم د هغه لور ته ور ونه ګرځي.

هېڅوک نه پوهېږي چې هغه شـــپه څومره اوږده وه او شېراحمد څومره وځورېد. له ســـپيده چاود سره د چرګانو اذانونه له ليرې پورته شول، شېراحمد له ځايه پورته شو، د منې ګل په زاړه دسمال يې ملا وتړله چې د کار او غريبۍ لپاره بهر ووځي.



څـــو ورځې کېدې چې دولت قرنطین اعــلان کړی و او خلک د کرونا په نوم له یوې نوې بلا ســـره اشنا شـــوي وو. شېراحمد په دې ورځو کې نه و توانېدلی چې خپله کراچۍ بازار ته وباسي او د خلکو ســـودا د هغوی کورونو ته یوســـي او یو څو غرانه پیداکړي، نهیلي ودرداوه:«خدایه، دا کرونا له لوږې نه هم بده ده؟»

د شیرینې غږ اوچت شو:«شېرجانه، دومره اوړه هم نه لرو چې د موږک لکۍ په کې سپېره شي.»

په همدې وخت کې د نازنینې غږ هم پورته شـــو:«مورې! مورې! ډېره وږې شوې یم، ډوډۍ راکړه.»

«صبر وکړه لورې، در وړم یې.»

«شیرینې! نازنینې ته رښتیا وایې که یې تېر باسې؟»

«په سترخان کې یوه ټوټه وچه ډوډۍ پاتې ده.»

«ورکوه یې ښـــځې، د انسان بخت چې کوټه شي، نادوده له هرې خوا را مخه کوي. اوس دا کرونا او بېکاري وګوره!»

«شېرجانه! اندېښنه مه کوه، له هرې تیارې وروسته رڼا راځي.»

«اندېښمن څنګه نه شم، په سرپل کې مو یوه ټوټه خپله ځمکه او یو ختین کور درلود. څه وچ لامده مو چې پیداکول ورته خوشاله وو. اوففف له هغې ورځې چې له کلي بې ځایه شـــوي یو او دې لعنتي پنډغالي ته راغلي یو، ښه ورځ مو نه ده لیدلې. زموږ څلورو خواوو ته له شګو او دوړو پرته بل څه نشته، دلته یوه ونه هم نه وینې.»

«زړه مه خوره، دا ولایت هـــم د خدای د زمري ځای دی، خلک وايي چې دلته څوک بېنوا پاتې کېږي نه.»

شېراحمد په غوسه شو:

«نور به څنګه نه تنګلاسي کېږو، په دې ساړه ژمي کې نه کالي او نه هم ډوډۍ، رښـــتيا يې ويلي چې د غريب سړي غاښ په حلوا هم ماتېږي.»

***

وليد د خپلې غاړې دسمال له پوزې او غوږونو تاو کړ. وچ ساړه وو او سړه هوا ان هډوکو ته ننوته. د خپل ورور سعيد مټ يې ونيوه، ورته يې وويل چې يوه شـــېبه به د ســـړک غاړې پـــه ډبره دمه وکړي. ستونی يې را ډک شـــو، سعيد ته يې په نيولي غږ وويل:«لالا نن مې ځکه د بلال کمپ ته راوستې چې د دې بې ځايه شوو حال له نږدې ووينې.»

«وليده رښـــتيا وايې، په خدای چې په دې خلکو د سړي زړه ټوټه ټوټه کېږي. په سپېره ډاګ کې پراته دي.»

« هو، پـــه اوړي کې يې لمر او ګرمي نفس وکاږي او په ژمي کې ساړه.»

«ماشومان دې ورته وليدل چې په دې سړه هوا کې لوڅې پښې او په يوه نازک کميس کې بهر ګرځېدل؟»

«هو، څو تنه مې وليدل چې د ځان تودولو لپاره يې زړو پلاستيکونو ته اور ورته کړی و.»

«آخ چې جګړو زموږ خلک څومره بدبخته کړل.»

«وادې وربېدل چې هغه سپين ږيري څه وويل؟»

«ويـــل يې، په خپل ولايت کې يې يو کور او يوه ټوټه ځمکه لرل،

عزت يې درلود، خلکو پېژانده، خو اوس هېڅ هم نه لري.»

«هغه بل ځوان بیا له بېکارۍ، کرونا او قرنطین شکایت کاوه.»

«لالا! هغوی رښتیا وايي، دوی بې ګناه دي، که په کور کې بېکاره کېني نو مېرمن او اولادونه يې څه وخوري.»

«هـــو، دا بېچاره ګان خو ورځ مزدوري کوي، ایله همدومره ګټي چې د سبا بېګا ډوډۍ پرې کېږي خو هغه هم په مړه ګېډه نه.»

«خدای شته چې پر دې خلکو د کافر زړه هم سوځي.»

«سعید لالا!»

«اورم!»

«موږ خو شکر دی یوه وړوکې ســـوداګري لرو او کولای شو له څو کورنیو ســـره مرســـته وکړو، راځه چې یو څو کورنیو ته خوراکي توکي راوړو.»

«ولیده، لږ مخکې مې په ذهن کې همدا خبره وګرځېده، خو څنګه به له څو کورنیو سره مرسته کوو او له نورو سره نه؟»

«لالا رښتیا وايې، موږ کېدای شي یوازې له ۳۰ یا ۴۰ کورنیو سره مرسته وکړای شو، دلته خو له ۲سوه ډېرې بې ځایه شوې کورنۍ دي چې ټولې يې بېوزله او بېچاره دي.»

«کاش، چې زموږ د تره زامن او ملګري هم په دې کار کې را سره مرسته وکړي.»

د همدې جملې په ویلو ســـره د ولید زړه په شـــور راغی. هوډ يې وکړ چې په دې اړه د خپل تره له زامنو سره هم خبرې وکړي، ورور ته يې هم وویل چې له خپلو ســـوداګرو ملګرو سره دا موضوع شریکه

کړي.

له هغې وروســـته، ولید څو پرله پسې ورځې د خپل تره زامن او د ورور ملګري را وبلل، دوی یې په قابلي او کباب ســـره وهڅول چې له بېوزلو او مستحقو کورنیو سره مرسته وکړي.

کابو لس کسه شوي وو. ټولو هوډ وکړ او د خوراکي توکو او هغو لوازمو په اخیســـتو چې بې ځایه شـــویو ته د ژمي په سړه هوا کې په کارېدل اخته شول.

***

اســـمان وریځ دی او دانه دانه واوره ورېږي. شـــېراحمد کور کې ناست او فکرونو کې ډوب دی:

«زموږ کلی څومره شـــین دی، لکه هماغه د ژمي مابنـــام خوند کوي. دغه د خدای سپېره دښـــته وګوره، نه پوهېږم څه ګناه مو کړې چې دې ډاګ ته اړ شو.»

پـــر خپلو اوږو د یو لاس درونوالی حس کوي، په نهیلۍ ســـر له ځنګنو پورته کوي، سترګې یې د کلي په مشر عبدالباي لګېږي. ژر له ځایه را پورته کېږي او مشـــر ته سلام کوي:«مشره! وګوره له څه حال سره مخ یو.»

«ډېر فکر مه کوه، دا حال په ټول کلي راغلی!»

«ټول همدا وایي، خو بې چرت و فکره هم نه کېږي.»

«زویه اندېښنه فایده نه لري، که په یوه کس وای زړه به یې چاودلی وای.»

«مشـــره رښتیا وایې، لومړی ځان ته وګوره ملک وې، ډېر ملک او

مال دې درلود، خو اوس زموږ غوندې په دې کمپ کې لوېدلې یې.»

شېراحمد د کلي له مشر سره د زړه راز وایه او په شکایت کې ډوب و چې گاونډي غږ وکړ:

«شېراحمده، وه شېراحمده، هله دلته راشه.»

«دا خو د غفار کاکا غږ دی، لکه چې کومه خبره شوې، ودرېږه ژر ورشم.»


له پنډغالي بهر د خلکو ځوږ او د ماشومانو چیغو د شېراحمد پام ور واړاوه. ویې لیدل چې د ولید په نوم ځوان له نهه تنو نورو ځوانانو سره خلکو ته د ژمنیو جامو کڅوړې او یوه اندازه خوراکي توکي وېشي. ټول خلک ډېر خوشاله وو، ټول خپلو جونگړو ته ډک لاسونه تلل. ولید په تور موټر کې ناست و چې د موټر هنداري یې هم بندې وې.

ولید په خپلو تورو او صافو وېښتو لاس کش کړ. تورې عینکې یې په سترگو وې او له ډېرې خوښۍ لړزېده، د خپلو اوښکو پاکولو لپاره یې سر لږ ښکته کړ. یوې بلې هیلې ته یې رسېدلی و. له ماشومتوبه یې غوښتل چې دومره شته ولري چې له نورو سره مرسته وکړي.

***

شېراحمد چې د خپلې مېرمنې او لور پر ځان تودې ژمنۍ جامې ولیدې، د خپلې خټینې کوټې یوه کنج ته تکیه شو او د هغو ځوانانو لپاره یې دعا وکړه چې د دوی لاسنیوی یې کړی و: «یا الله عمر یې ډېر کړې!».

د شیرینې غږ یې واورېد چې خپلې لور نازنینې ته یې ویل:



«د مور خوږې، ته پاکه ماشــومه یې، دعا وکړه چې خدای ج دغه بدبختۍ او جګړې ورکې کړي او موږ بېرته خپل کلي او خپلې سیمې ته لاړ شو او له دې احتیاجه خلاص شو.»

«مــورې، زه خو هر وخت له خدایه غواړم نوره دې جګړه نه وي، بېرته خپل کور ته لاړ شــو، نور مې پلار له سهاره تر ماښامه غریبۍ پسې ورک نه وي او زموږ په خپلو ځمکو کې کار وکړي.»

«د مور خوږې خدای ج دې ســتا دعا قبوله کړي! خدای ج دې بېرته هماغه ورځې راولي چې ما به له پلار ســـره دې یو ځای په خپل وړوکي پټي کې کار کاوه.»

«امین مورې، زه به هم بېرته خپلو سېرلیو ته ورشم، بیا به یې په غېږ کې ونیسم او واښه به ورته واچوم.»

شېراحمد د بلال کمپ چارچاپېره له نظره تېر کړل، زړه یې د کلي په تازه هوا او د ځمکو د وحشـــي بوټو په بوی پسې تنګ شو، دا ځل یې په لوړ او دردناک غږ سره وویل:

«د پلار خوږې امین او زر ځله امین»!



## هڅیوال، عزیز کاکا

نیمه شـــپه وه، تیارې او چوپتیا له خپلو درنو ســـاګانو سره د کلي خوب لا درونړ کړی و.

د سیند وېروونکی غږ او د څپو یو له بل سره لګېدو، کله کله دغه ســکوت ماتوي او فضا نوره هم وېروونکې کوي. غرونه او درې، په شـــپه کې وېروونکې وي، فکر کوې د هرې ډبرې او غونډۍ تر شـــا څوک ناست دی او تاسې څاري.

دره، د هغه مړه شـــوي ښامار په څېر ده چې لاروی ګومان کوي، کېدای شي دغه بلا خوله پرانیزي او ژوندی یې تېر کړي. په همداسې یوه شـــپه او همداسې یوه دره کې، سرور په نیولې ساه او له په خولو لوند داسې منډې وهي چې هر لیدونکی فکر کوي کوم ظالم دښمن ورپسې دی او د وژلو هوډ یې لري.

ســرور، د چهارمغزو (مټکو) د ونو کتار ته رسېږي او د یوې زړې ونـــې ډډ ته چې له ســلو ډېر کلونه عمر لري تکیـــه وهي او په ډېرې

اسرې سره وايي:

«عجب برخليک!»

په ونه کلکه تکيه لګوي، د متــک ونه ټکان خوري او لوی مرغه ورو ورو له ونې پورته کېږي او د سيمې نژدې غره ته الوځي. سرور د مرغه د وزرونو له غږ لږ لږ وېرېږي، له ځان سره وايي:

«دا بيا څه ډول مرغه و، تر اوسه مې دومره لوی مرغه نه و ليدلی.»

تر اوسه يې هم ستمی کېږي او ستړيا يې ټول بدن شکنجه کوي. په کراره پر خپلو ډنګرو ګونډو لاس ږدي او خپله ملا نېغوي:

«خدايه! ټول عمر مې دومره منډې وهلې نه وې او ستړی شوی نه وم.»

هغه د متکو د ونو له کتار تېرېږي او د درې پای ته رســېږي. زړه يې له مينې او جوش ډک شــوی، وړه لرګينه دروازه ټکوي، د سيمې دوکاندار عزيز کاکا دروازه ورته خلاصوي:

«بسم الله بسم الله، زويه خيريت خو به وي؟»

کاکاجانه، تر دې ځايه په را رســېدو مې ســاه په ځان کې نه ده پاتې.»

«څه خبره ده، پلار خو دې روغ دی؟»

«کاکاجانه! ټول روغ دي، پلار مې په تاسې پسې را ولېږلم.»

«په دې نيمه شپه کې؟»

«هوکې، زموږ ستونزه بايد له لمر ختو مخکې حل شي.»

«ســروره زويه! زړه دې راته له ګوګله را وويســت، ژر ووايه څه غواړې؟»

«کاکاجانه، داسې یو څه غواړم چې د ټولو ګاونډیانو په کورونو کې مې ونه موندل.»

«زویه، سپینه یې ووایه.»

«په رښتیا کاکاجانه، په یوه وار تور چای پسې راغلی یم،اول مو هیله خدای ده بیا تا ده، نهیلې کوې به مې نه.»

«تور چای!»

«هو کاکاجانه! د شـــپې له ســـره بیا تر اوســـه مـــې څو دروازې وټکولـــې، دروازې خلاصې او بندې شـــوې، هېچا هم تور چای نه لاره، ټولو همدا ویل کلونه کېږي چې شـــین چای څښي، خلکو دا هم ویل چې تور چای اوس په پوړیو کې راځي او یوازې ستاسې په دوکان کې موندل کېږي او بس.»

«بیخ دې شین مه شه زویه، دا تور چای دومره مهم و چې په دې نیمه شپه دې ان له درې څخه ځان دلته را رسولی؟»

«هو کاکاجانه، ډېر مهم دی، نن شپه زموږ او تاسې ټولو د ژوند نجات په همدې تور چای پورې تړلی دی.»

«توبه وباسه، دا څه اوتې بوتې وایې؟»

«کاکاجانه رښـــتیا وایم، ترور زوی مـــې له کابل نه زنګ کړی و، ویې ویل که نن شپه ټول تور چای وڅښئ، په کرونا نه اخته کېږئ.»

«هی هی، ســـړی حیران پاتې شـــي، ودې نه ویل ترور زوی دې خنګه پوه شوی و.»

«کاکاجانه باور به دې ونه شـــي، د کابل په یوه روغتون کې یوه د دریو ورځو نوزېږي ماشوم همدا خبره کړې ده.»

«لا حول ولله، بیا تاسې هم باور وکړ، درې ورځنی ماشوم څنګه خبرې کوی شي؟»

«کاکاجانه! معجزه شوې ده، معجزه»

***

عزیـــز کاکا نیمه لپه چای په یوه کاغذ کې تاو او ســـرور ته ورکړ. ســـرور پوره توګه هیجاني شـــوی و او یو مخ یې عزیز کاکا ته دعاګانې کولې. همداسې په مننه مننه یې له عزیز کاکا سره خدای په امانې وکړه او بېرته د شپې په تیاره کې ورک شو. عزیز کاکا بېرته کور ته ننوت. مېرمن یې بېګم چې په خپل ځای کې پرته وه، د عزیز کاکا له راتګ سره  ترې ویې پوښتل:

«چېرته ورک شوې، په دروازه کې څوک و؟»

«د عزت خان زوی و، په تور چای پسې راغلی و.»

«تور چای! په تور چای یې څه کول، په ورځ کې نه شوای راتلی چې په دې توره شپه په تور چای پسې راغلی و.»

«نه پوهېږم، ویل یې له لمر ختو مخکې باید تور چای وڅښي چې د کرونا له شره په امن پاتې شي.»

بېګم هېښنه پر خپل ځای کېناسته:

«څه؟ ته څه وایې وه سړیه؟»

«وایي په کابل کې یوه نوي زېږېدلي ماشوم د خدای په قدرت له زېږېدو ســـره ســـم خبرې کړې، ویلي یې دي که څوک نن تور چای وڅښي، هیڅ کله یې کرونا نه نیسي.»

«له خدای مې قربان کړې، صدقه یې شـــم، ســـړیه وګوره خدای



خپل مسلمان بنده هېڅ کله يوازې نه پرېږدي او مصيبت يې له سره لرې کوي.»

عزيز کاکا خپل پټکی له سره لرې کړ، واسکټ يې هم وويست او له زېږېدو سره سم ويې ويل:

«ته پورته شه وه ښځې يو تور چای دم کړه، اولادونه هم را ويښ کړه چې لمر را ونه خېژي. دا اسماني بلا څوک سمه نه پېژني. يوه ورځ مور له دې نړۍ يونسي.»

بېگم په بېړه له ځايه پورته شوه او ټپېدلې ټپېدلې په خپل ټکري پسې هاخوا دېخوا وگرځېده. وروسته د طاقچې لور ته لاړه څراغ يې ولگاوه. څو دقيقې وروسته عزيز کاکا، بېگم او څلورو وړو او غټو اولادونو يې تور چای دم په دم نوش جان کاوه او د کوټې له کړکۍ يې بهر ته کتل. له کړکۍ بهر بشپړه تياره وه:

«وه ښځې! په کور کې څومره تور چای لرې؟»

«نه پوهېږم هغه د غوړو پيپ نيمايي ډک دی.»

د عزيز کاکا رنگ ورسره تازه شو:

«رښتيا؟ هېر دې نه شي چې سهار هغه دوکان ته يوسې، کله چې له لمانځه وروسته دوکان ته ځم، دوکان بايد بې چايه نه وي.»

«د څه لپاره؟ خرڅوې يې؟ خو سهار چې لمر را وخېژي بيا تور چای څه گټه لري؟»

عزيز کاکا ورغبرگه کړه:

«د لمر د راختلو خبره نه ده. داسې نه ده چې د سهار لمونځ قضا شي، بيا نو تور چای څښل گټه نه کوي.

د عزت خان د زوی مطلب دا و چې خلک کولای شـــي تر غرمې پورې تور چای وڅښي. خپله هماغه ماشوم همداسې ویلي وو.»

«ویځ له خدای مې ځار کړې، خپلې معجزې څنګه ښیي!»

یو ســـاعت وروسته عزیز کاکا په مســـجد کې و او بېګم هم هغه اوره چې بېګا یې خیشـــته کړي وو داش ته یوړل. د کلي څو مېرمنې هم له بېګم مخکې هلته ته رســـېدلې وې او تنور یې د ډوډۍ پخولو لپاره تیار کړی و. په دې توګه خبر له دوو ســـرچینو څخه په خپرېدو شو. لمر لا راختلی نه و چې ټول کلی د نوي زېږېدلي ماشوم او تور چای له کیســـې خبر شو. عزیز کاکا یو څو لمونځ‌غاړو سره دوکان ته راغی. له جوماتـــه راغلي دغه خلک ټول په یوه کتار ولاړ وو چې له عزیز کاکا د خپل تور چای برخه واخلي. ډېر وخت وتلی نه و چې د تور چای د اخیستونکو کتار د عزیز کاکا د دوکان مخې ته اوږد شو، څنګه چې لمر را پورتـــه کېده، د عزیز کاکا د تور چای د یوې پوړۍ بیه هم ورســـره لوړېده او په وړاندې یـــې په زاړه پیپ کې د تور چای سطحه ښکته کېده.

د عزیز کاکا د تور چای د بیې لوړولو له کبله د خلکو غږ پورته شو. عزیز کاکا یوه پوړۍ تور چای په ســـل افغانۍ پلوره. یوه پیرودونکي چیغې وکړې:

«د خدای په پار، په کابل کې یوه کیلو په سل اوغانۍ ده او تاسې یو مثقال په سل اوغانۍ ورکوئ؟»

«دادخـــدا څه وایې! په کابل کې تور چـــای نه پیداکېږي، قحطي شوې ده، له هغې شېبې چې ماشوم دغه خبره کړې، څوک اصلاً تور

چای افغانســتان ته نه راوړي. په نورو هېوادونو کې هم تور چای نه پیداکېږي. ولې اوربېدلي دې نــه دي چې په هند کې د کرونا له کبله څومره خلک مړه شول؟ خپله اړتیا ورته لري، ما ستاسې لپاره چې کار مو وشي د کور چای راووړ. اوس یې که اخلې وایې خله او که یې نه اخلې له مخې چپ شه چې بل کس راشي.»

دادخدا نور څه ونه ویل په ارامۍ یې د چای پوړۍ واخیســته او لاړ. عزیز کاکا ته ناڅاپه یو فکر پیداشــو، په بیړه له ځایه پورته شو او سر یې د دوکان له شا دروازې چې انګړ ته وتلې و وویست او چیغې یې کړې:

«امینه!..وه امینننه!»

له هغه لوري یوه زلمکي وویل: آغا! څه وایې؟

ده ور ناره کړه:

«ژر راشه چې په کار مې یې!»

عزیــز کاکا، د دوکان مخې ته را ټول شــوي خلک صبر کولو ته وهڅول او ویې ویل چې ژر بېرته راځي. یو څه پیسې یې د دوکان له دخل واخیستې او له دوکان ووت...

***

لمر تقریباً د اســمان منځ ته رســېدلی و. امین ستړی ستومانه له اصلــي لارې په ګرځېدلې فرعي لاره د کلي په لور روان و او بوجۍ یې پر اوږه وه. کور ته نژدې شــوی و. د پلار د دوکان مخې ته یې بې شــمېره خلک ولاړ وو. دوی ټولو له نژدې او لیرې کلیو څخه په تور چای پســې د عزیز کاکا دوکان ته ځانونه رسولي وو. ښکارېده چې



ټول منتظر دي. امين د کور په اصلي دروازه نه راځي او د انګړ شا ته ځي. د دېوال تر څنګ يې له اوږې څخه بوجۍ ښکته کړه. بيا يې په هغه پړي چې له کور يې دې خواته را اچول شـــوی و، وتړله. پړی يې د ځان لور ته دوه درې ځله کش کړ، بيا له هغه لوري پورته کش کړل شوه. مرسته يې وکړه چې بوجۍ ډېره درنه پورته نه شي، بوجۍ پورته شـــوه خو د دېوال له څنډې سره بنده شـــوه. امين پورته ټوپ کړل او بوجۍ يې ټېله کړه. بوجۍ د دېوال له څنډې خوشې شوه. په ځمکه د بوجۍ د لګېدو غږ واورېدل شو. لاسونه يې په خپلو جامو پاک کړل او بېرته د کور په اصلي لاره روان شو. د دوکان مخې ته منتظر خلک له يو بل سره خبرې کوي:

«داکرونا څه بلا وه! موږ يې له کار او ژونده وويستو.»

«خدای دې په خير سره تېره کړي!»

«دا ده غرمه شوه، وېرېږم چې تور چای را ونه رسېږي!»

«نه بابا! ماشوم ويلي چې تر مازيګره هم تور چای څښنلی شئ.»

«توبه خدايه! د خدای قدرتونو ته وګوره!»

په همـــدې وخت کې عزيز کاکا د دوکان له شـــا دروازې راغی، چيغه يې کړه، هلئ چې چای را ورسېد:

«ژر راشئ چې چای را ورسېد!«

خلک په دوکان ور ټول شول.



## د کرونا درمل کشفوونکی

گلالۍ، اندېښـــمنه او مضطربه د خپل خاوند پر بســـترې ناسته ده. همدا څو میاشـــتې وړاندې یې ډګـــروال خاوند په هند کې د زړه عملیات وکړ او تر اوسه هم له زړه څوربږي؛ خو ګلالۍ یې د زړه له ناروغۍ اندېښنه نه لري، هغه تر دې هم له لوی درد څوربږي.

له ســـترګو یې خوب تښتېدلی،د سر په سترګو ويني چې ډګروال وېلي کېږي او له منځه ځي. هغه دنګ پیاوړی انســـان اوس داســـې ډنګر شوی دی چې ځرمن یې په هډوکو پورې نښتې ده. ننوتلې ژامې او سترګې یې ګلالۍ نوره هم وېروي او له ځانه سره وایي:

«دا کرونا څه بلا وه چې پر موږ را نازله شوه.»

خپلې شـــنې سترګې چې غمونه او اندېښنې په کې په څپو دي، د اسمان لور ته اړوي:

«خدایه! دغه افت په خیر سره دفع کړې. زموږ غریبانو نور غمونه او پرېشانۍ کم وو چې اوس د کرونا په بلا هم اخته شوو.»

ګلالۍ ته ور په یادېږي چې لومړی ځل یې له رسنیو د کرونا نوم اورېدلی و، خلکو به په بې باکۍ ســره ویل چې دا ناروغي د چین په ووهان ښار کې ده، زموږ یې پرې څه.

پــه لنډ وخت کې، ټــول ایران په دې بلا اخته شــو او هره ورځ خبرونه خپرېدل چې څومره کسان پرې اخته شوي او څومره ترې مړه شــوي دي. کرونا د دې لامل شوه چې هره ورځ له ایران څخه هرات ته تر ۱۲ زرو پورې افغان کډوال راشــي او خپلو ښــارونو ته لاړ او خواره شي.

ډېــر وخت نه تېرېږي چې کرونا له هــرات ولایت ډېرې قربانۍ اخلي او کابل ته هم را رســېږي. د ګلالۍ یوازې دغه یوه اندېښنه نه ده له بل لوري یې مشر زوی ته هم چې په هرات ولایت کې صاحب منصب دی اندېښمنه ده.

هغه په ځلونو له خپل زوی نعیم ســره اړیکه نیسي، ترې غواړي رخصتي واخلي او کور ته راشــي. په پای کــې نعیم اړ کېږي د مور خبره په ځمکه ونه غورځوي او کور ته راشي.

هغه کور ته راځي؛ خو یوازې نه بلکې د کرونا له ویروس ســره. نــه خپله پوهېږي او نه یې هم کورنــۍ، د ډګروال پلار په ګډون ټول یې تود هرکلی کوي، پلار یې زوی په ځلونو په غېږ کې نیسي سر او وېښتان یې مچو کوي:

«زړګیه، ښــه شــو چې په خیر راغلې، مور دې په ډېرو اندېښنو نژدې وه هم ځان او هم موږ لېونیان کړي.»

«مور مې ډېره تشویشي ده.»

«زویه، پلار خو دې هســې غږېږي، هر ځل چې به مې په هرات کې د کرونا په اړه خبرونه واورېدل، لېوه به مې زړه ته ننووت او خوب به مې له سترګو والوت.»

دوه درې ورځې لا نه وې تېرې چې نعیم د ګنګسیت، سترړیا، سر دردۍ، تبې او زړه بدوالي احساس وکړ:

«مورې فکر کــوم ټول وجود مې ټوک ټوک دی، ډېر ســتړی او ګنګس یم.»

«زویه، درد دې په غرونو پرېوځه، فکر کوم هغه د چا خبره، د کابل هوا ښه نه ده درباندې لګېدلې.»

«څه ووایم مورې، تېره شــپه مې تر ســهاره سترګې پټې نه کړې، خوب مې له سترګو تښتېدلی و.»

«زویه! خــدای دې مه ناجوړه کوه، ته صبر چې لږ د ترکاري اش درته پوخ کړم، ګرم ګرم یې چې وخورې، له خیره جوړېږې.»

«مورې مه یې پخوه، هیڅ شــي ته مــې زړه نه کېږي، زړه مې یو ډول بد بد کېږي او د خوړو بوی را باندې بد لګېږي.»

نعیم، پرله پسې وچ ټوخی هم لري او د شپې یې خوب له سترګو الوځي. اوس هم خپله او هم یې کورنۍ اندېښمنه شوې ده.

مور یې په ډېر ټینګار ورته وایي چې څهار صد و بســتر (ســردار داوود خان) روغتون ته لاړ شــي؛ ځکه کــوم درمل یې چې په خپل سر اخیستي هېڅ ګټه یې نه ده کړې، ان دا چې ټوخی او ناروغي یې ورسره ډېره شوې ده:

«مــور دې صدقه شــه، ټوخی دې ډېر شــوی، بیخي دې رنګ

تښـــتېدلی، نن دې له پلار سره سردار داوود خان روغتون ته لاړ شه، دواړه نظامي ياست او هغه روغتون هم ستاسو لپاره دی.»

«موري نه ځم، د روغتون بوی رابانديې ښه نه لګېږي.»

«د روغتون په بوی پســـې مه ګرځه، که نن نه ځې سبا بايد حتما لاړ شې.»

د ډګروال ورو ورو زګيروي ګلالۍ له خپلو خيالونو را بيداره کړه. رنګ يې تښتي، ګوري چې خاوند يې سوکه سوکه ساه اخلي او هڅه کوي د اکسيجن ماسک يې له خولې لرې کړي.

ګلالۍ يـــې منعه کوي او پـــه مهربانۍ يې لاس نيســـي او مينه ورکوي. د اوښکو څاڅکي يې د ډګروال په بې روحه او وچو لاسونو بهېږي او اوږې يې د ژړا له زوره لړزېږي.

هغه بيا هم د تېرو ســـختو ورځو په اړه فکر کوي او ور په يادېږي، له هغه راهيسې چې ډګروال د خپل زوی نعيم د معاينې له پايلې خبر شوی و، څومره انديښمن او پرېشانه و:

«ډګروال صيـــب زوی دې په کرونا ناروغۍ اخته شـــوی دی او لازمه ده چې ډېر ژر بستر شي.»

«څه وايې ډاکټر صيب؟»

«پلاره! مه وارخطا کېږه، بيخي دې رنګ وتښتېد، زه ښه کېږم.»

«ډګروال صيب ښـــه دا ده چې د زوی مو ډېر ژر درملنه وشـــي، معاينات يې ښـــيي چې سږو يې يو څه ســـتونزه پيداکړې، که ژر يې درملنه ونه شي...»

«سمه ده ډاکټر صيب، هرڅه چې تاسو واياست.»

د دې خبر په اورېدو د پلار غنمرنگی مخ تور اوړي. نعيم يې مشر زوی دی، ان د هغه د خوب د ځنډېدو زغم نه لري.

ډاکټران غواړي نعيم بستر کړي او جدي څارنه يې وشي. پلار يې چې نه غواړي زوی يوازې پرېږدي په ناارامۍ او انديښنې وايي:

«ډاکټر صيب ما هم له زوی سره مې يو ځای بستر کړئ.»

«نه کېږي ډګروال صيب، دا ناروغي ساري ده او ستاسو لپاره ښه نه ده چې له نعيم سره يو ځای بستر شئ.»

«پلاره! ډاکټر صيب رښتيا وايي، تاسې خپله هم د زړه ناروغي لرئ او کرونا ستاسو لپاره ډېره خطرناکه ده».

«وه د زړه سره! زه تا نه زيات نه يم، زما زړه کله طاقت کوي چې ته دلته يوازې اوسې.»

«پلاره! رنګ دې ولې تور اوښتی، زه له ځانه تا ته ډېر پرېشانه يم.»

«زويه، کېدای شي ستا د ناروغۍ اغېزه وي، ماغزه مې برېښ کوي او داسې سر درد يم چې په ټول ژوند مې داسې سر درد نه و ليدلی.»

«ډاکټر صيب، ډاکټر صيب، خير دی پلار مې هم معاينه کړئ، حالت يې سم نه ښکاري.»

«ډاکټر صيب، د سينې قفس مې سخت درد کوي.»

پلار چې وايي، شديد سر درد دی او د سينې په قفس کې يې شديد درد حس کوي، ډاکټران يې معاينه کوي او پايله ښيي چې هغه هم په کرونا اخته شوی دی، ډاکټران يې له زوی سره بستر کوي.

سبا ته د ډګروال حالت خرابېږي، دا چې زړه يې هم ناروغي لري،

دا ويروس ډېر زيان ورته رسوي.

د گلالۍ پرېشاني لا سيوا شـــوه، هغه خپل ځوان زوی ته هم په اندېښنه کې ده چې ډاکټرانو ويلي کرونا يې سږي ټوک ټوک کړي او بايد چې له خدايه شفا ورته وغواړي.

گلالۍ ســـوړ اسوېلی کوي، په هغه کوټه کې چې زوی او خاوند يې په کې بســـتر دي قدم وهي اوويني چـــې جامې يې په ځان کې لوېې شوې دي او د لمنې ملا يې ښکارېږي. هغه ډېره مزې او غښتلې وه؛ خو دې ورځو کې خوب او خوراک پرې حرام شوي او ان ور په يادېږي چې ډېرې ورځې کېږي ځان يې په هنداره کې کتلی نه دی.

يوه پښـــه يې تر روغتون او بله يې تر کوره وي. هره ورځ ســـهار وختي د ترکاري له ښـــوروا، مېوې، ليمو او زنجبيل ســـره روغتون ته روانېږي؛ ځکه چې اورېدلي يې دي تاوده مايعات، په ځانگړي ډول د ليمو او زنجبيل چای د کرونا ناروغانو لپاره گټه لري.

د تنکي ځوان زوی د خوښۍ او هيجان غږ گلالۍ را بيداره کړه. زوی يې زېری ورکوي، يو کس سيلو ته نارسيده کلينيک خلاص کړی او ســـره له دې چې ډاکټر نه دی، وايي چې د کرونا واکسين يې جوړ کړي دي:

«مورې، د يوه کـــس نه بلکې له ډېرو کســـانو مې واورېدل چې حکيم الکـــوزی خلکو ته د کرونا درمل وړيا ورکـــوي او درملنه يې کوي.»

«څه ووايم زويه چې ســـری د دې حکيم الکوزي درملنې ته زړه کوی شي کنه؟»



«د ګاونډي زوی رشاد وویل خلک یې پر معاینه خانې لکه میږیان داســې ور مات دي او له شپې تر سهاره یې په دروازه کې منتظر پاتې کېږي.»

«جلاله زویه، نو چې داســې ده کېدای شــي هغه کوم حکمت ولري، راځه خدای مهربانه دی، ګونډې همدا درمل ورته وســیله او پلار او ورور دې ورســره روغ شي. په زړه کې مې په ځانګړي ډول د نعیم لپاره وینه په جوش راغلې، له کله مې چې اورېدلي ســږي یې عیبي شوي، نه په ورځ پوهېږم او نه هم په شپه.»

ګلالۍ غریو نیولی ژاړي او جلال یې اوښــکې ور پاکوي او ډاډه ورکوي په هر ډول چې کېږي د حکیم الکوزي ځاځکي پیدا کوم.

مــور یې د دې خبرې په اورېدو دومره احساســاتي کېږي چې په هماغه لحظه ټکسي نیســي او د کندهاري کس په لور چې الکوزی یې بولي روانېږي.

کله چې هلته رسېږي، د خلکو راټولېدو ته حیرانېږي. ورځ ماښام او ماښام شپه کېږي خو دوی ته نوبت نه رسېږي. اړ کېږي بېرته کور ته لاړ شي او سهار له لمانځه مخکې ځان ورته را ورسوي:

«زویه لا تیاره ده، زه او ته به لومړي کسان وو چې هلته به رسېږو.»

«مورې، زه له همدې ځایه وینم چې څو کتاره خلک یې له معاینه خانې سره درېدلي دي.»

«هو په رښتیا، لکه چې دې خلکو شپه همدلته تېره کړې ده.»

هوا لا هم تیاره ده، مــور او زوی، د حکیم الکوزي معاینه خانې ته ورســېدل . هغه لا هم دې ته هېښه ده، چې دوی لومړي کسان نه

دي چې راغلي. له خلکو اوري چې دوی شــپه هم همدلته د حکيم الکوزي له معاينه خانې سره د سرک په سر تېره کړې ده.»

جلال هغه وخت هک پک کېږي چې د دوی د ښي لوري ګاونډی ډاکټر حميد هم د الکوزي د پيرودونکو په کتار کېويني:

«خدای مې دې نه غلطوي، هاغه سړی حتما ډاکټر حميد دی!»

«زويــه، ډاکټران په دې خبرو باور نه لــري، کوم بل څوک به دې ليدلی وي.»

«نه مورې، خپله دی.»

«نو زويه، کومه قطره چې دا حکيم ورکوي په رښتيا هم ګټه لري، اوس مې نو ګمان پوره په يقين بدل شو چې حکيم الکوزی د کرونا درملنه کوی شي.»

جلال، له ځانه ســره پټ پټ پر ډاکتر حميد خاندي، خو تلقين کېــږي هم او د الکوزي په قطره يې چــې د کرونا د درملنې لپاره يې ورکوي بــاور راځي او په ځوان زړه کې يې هيلې را ويښــېږي چې کېدای شــي د ورور او پلار درملنه يــې تر همدې معجزه لرونکې او جادويي قطرې پورې تړلې وي.

په داسې حال چې په افغانستان کې کرونا ويروس په ډېرېدو دی، د يو حکيــم ادعا چې د دې ناروغۍ لپــاره درمل جوړوي جنجالي شوې ده.

همدا تېره يکشنبې (۲۰۲۰د مې ۳۱مه) عامې روغتيا وزارت، په ۲۴ســاعتونو کې پر کرونا د ٦٨٠نوو کسانو د اخته کېدو خبر ورکړ. دې خبرونو خلک اندېښمن کړي دي.

په همداسې یوه چاپېریال کې حکیم الکوزی ادعا کوي چې د دې ناروغـــۍ درمل یې جوړ کړي او د ډېرو ناروغانو درملنه یې کړې ده، خو د عامې روغتیا وزارت بیا وایي:

«تـــر هغې چې درمل یې په نړیوالـــو لابراتوارونو کې ونه ازمویل شي، نه باید وکارول شي.»

دغه حکیم دعوه لري، کوم درمل یې چې د کرونا لپاره جوړ کړي دي، هوډ لري د پارلمان وکیلانـــو په همکارۍ یې د عامې روغتیا له جواز پرته په ټول افغانستان کې وویشي.

تر اوسه په نړۍ کې هېڅ لابراتوار هم د کرونا ناروغۍ د درملو په جوړولـــو توانېدلی نه دی، دا حکیم وایي درمل یې د ټریاکو په ګډون له ۱۱ ډوله بوټو جوړ کړي دي.

د عامې روغتیا وزارت معین وحید مجروح وویل:

«دغه درمل پـــه نړیوال لابراتوار کې ازمویـــل کېږي، که د حکیم الکوزي ادعا سمه ثابته شوه نو د نړیوال روغتیایي سازمان په سلا به نړۍ ته وړاندې شي.»

له عامو خلکو پرته، په لسګونو وکیلان او وزیران د حکیم کلینیک ته ورځي، د ځان او کورنۍ لپـــاره درمل ترې اخلي. د دې حکیم له لوري د کرونا درمل جوړولو جنجال، سیاسي رنګ هم اخیستی دی.

د ســـبحان کلینیک په مخ کې د عامـــې روغتیا وزارت پر وړاندې په ســـلګونو کسانو لاریون کړی او له عامې روغتیا یې غوښتي، چې حکیم ته د فعالیت اجازه ورکړي، په داسې یوه حالت کې د هېواد له پخواني ولسمشـــر حامد کرزي سره د حکیم ملاقات هم د بحث وړ

دی.

په پارلمان کې د کندهار د خلکو اســتازی سیداحمد سېلاب، په ولســي جرگه کې له حکومته غوارې چې د حکیم الکوزي درمل ډېر ژر و ازمويي او حقیقت معلوم کړي.

له هغې مخکې، د کندهار ولایت د ولایتي شورا رییس سیدجان خاکرېزوال هم گواښ کړی و، که د حکیم فعالیت ودرول شي خلک به یې د ملاتړ لپاره سرکونو ته ووځي. د کندهار دغه دوه استازي ادعا کوي، حکیم الکوزي د کرونا د زرگونو ناروغانو درملنه کړې.

له افغانســتانه بهر ډاکټران، لکه د المان په هایدلبرگ ښــار کې د یوه روغتون متخصصه ډاکټره ســمیرا بیات او په هالنډ او جرمني کې د ډاکټرانــو د ټولنې غړی اســدالله ژرفبین بیا د الکــوزي درملو ته د لسگونو کسانو راټولېدل د اندېښنې وړ بولي.

«نړۍ له ټول پرمختگ سره ســره تر اوسه توانېدلې نه ده د کرونا درمل جــوړ کړي، نو د یوه حکیم درمل حجــرو ته څنگه ننوتلی او ناروغ ژغورلی شي»

د عامې روغتیا وزارت سرپرست احمدجواد عثماني بیا وایي:

«د حکیم الکوزي فعالیت چې د کرونا د درمل جوړولو ادعا کوي دروو او خپله حکیم هم د کورنیو چارو وزارت له لوري تر نیول کېدو وروسته عدلي او قضایي ارگانونو ته ور پېژندل کېږي.»

هغه زیاته کړه:

«د درملو اغېزناکتیا هم ثابته شــوې نه ده، بلکې په دې درملو کې نهه ډوله تســکین کوونکي او نېشه لرونکي مواد کارول شوي او پرله

پســـې کارول یې خلک معتاد کوي. دغه روغتیایي مرکز، د رســـمي فعالیت جواز نه لري او همداراز په دې مرکز کې چې کوم واکسین او د کرونـــا درمل پلورل کېږي، نامعلوم دي او خپله حکیم هم د یوناني درملو د جوړولو کوم علمي سند او جواز نه لري.»

حکیم الکوزی چې ځان یوناني طبیب را پېژني وایي:

«دغه درمل د طبیعي بوټو له شـــیرو ترلاســـه کوم. له ډېرو اوونیو هڅو او څېړنې وروسته مې د کرونا لپاره درمل جوړ کړل.

هغه په خپله یوه بیانیه کې ټول عالم ته چلنج ورکوي او وایي:

«زه په لوڅو لاســـونو د کرونا هر ناروغ ته لاس ورکوم، تاسې او نړیوالې ټولنې ته چلنج درکوم، ما دې په کرونا اخته کړي. که تاســـې ټولو زه کرونا کړای شوم نو زما درمل هم بې ځایه دي.

د حکیم مبارک خبرې لا خلاصې نه وې چې د ناروغانو لویې ډلې چې تبه، ټوخی، سر دردي او نفس تنګي یې لرل، د حکیم د کارځای مخـــې ته راغلل او د حکیم الکوزي په پلوي یې شـــعارونه ورکول او ویل یې:

«طبیبه! ســـتا ملاتړ کوو او باید چې د افغانســـتان دغه بې جوړې لارښوونکي ته د فعالیت اجازه ورکړل شي».

***

د ډګروال رنګ ډېر تور شـــوی و او د سترګو د شاوخوا کړۍ یې هم تورې شوې وې. د ګلالۍ زړه له ګوګله بهر کېده او ګوګله. هغه هم د ځان درد او ســـتړیا احساس کاوه، سر یې هم درد کاوه او خوله یې له اوبو ډکېده. له ځان سره وایي:

«پوهېږم درد مې څه دی؟ څو شپې مې خوب نه دی کړی او د ورځې هم سرګردانه یم. پرېشاني مې د دې لامل شوې چې خوړو ته مې هم زړه ونه شي، په رښتیا څو ورځې کېږي چې هېڅ مې سمه ډوډۍ خوړلې نه ده. کېدای شي فشار مې ښکته شوی وي او ګنګسیت او بې حالي مې هم له همدې وي».

جلال په خوښۍ چیغې وهي او ګلالۍ مور یې له خپلو خیالونو را باسي. هغه په داسې حال کې چې غږ یې له ډېرې خوشالۍ لړزېږي، مور ته یې د حکیم د درمل اخیستو زېری ورکوي.

مور یې په دردناک غږ جلال او خپلو نورو زامنو ته د اوږده عمر دعا کوي او وایي چې په دې جادویي څاڅکي سره به یې اوس ناروغ پلار او رورور روغ شي.

دواړه په بیړه روغتون ته ځي او همدا چې روغتون ته رسېږي، مور یې په دوو ګیلاسونو کې جادویي څاڅکي اچوي او له لږو اوبو سره یې زوی او خاوند ته ورکوي.

سبا سهار په زرګونو هیلو سره د زنجبیل او لیمو چای برابروي او د خپلو عزیزانو په لور بیړه کوي. ځان او ګنګسیت یې هېرېږي، هېڅوک نه شي کوی حالت یې بیان کړي. که هلته تکړه نقاش شته وای، کېدای شوای له دوی یې د نړۍ تر ټولو دردوونکی تصویر ویستی وای! د یوې مېرمنې او مور تصویر چې هره لحظه وېلې کېده او زړه یې څاڅکی څاڅکی تویېده. د هغه انسان تصویر چې په هر کاته کې یې په زرګونو اندېښنې او بېچارګۍ څپې وهي.

هغه همدا چې د هغې کوټې دروازه چې زوی او خاوند یې په کې

بستر وو پرانيزي، ويني چې ډاکټران له ماسک، لاس ماغونو او ځانګړو جامو سره تيار انديښمن ولاړ دي، د ګلالۍ رنګ الوزي او د خپل زړه غږ اوري. په سر کې يې په زرګونه بد خيالونه ګرځي:

«خدايه خير! له ځانه سره وايي، ولې ټول ډاکټران انديښمن ښکاري؟ ودرېږه پوښتنه وکړم».

ګلالۍ له ډاکټرانو معلومات غواړي. يو ډاکټر چې تور او سپين ګډوډ وېښتان لري او ګلالۍ يې هلته ډېره ليدلې، ورته وايي: «مورې! ستاسو د ناروغانو وضعيت ښه نه دی او جدي مراقبت ته اړتيا لري.»

ګلالۍ چيغې وهي:

«دا نو څنګه کېدای شي؟ په څومره زحمت مو د الکوزي جادويي ځاځکي ورته پيدا کړل او پرې ومو څښل، دا نو څنګه شونې ده؟»

يو بل په عمر پوخ په ناخوښۍ او ملنډو ورته وايي:

«درېغه پوهېدی چې هغه معجون يوازې چل دی».

څو ورځې تېرېږي. نعيم زوی يې د خپلې ځوانۍ په ځواک سره کولای شي له کرونا سره مبارزه وکړي، خو د خاوند وضعيت يې ورځ په ورځ خرابېږي.

ګلالۍ ډګروال ته ګوري، دوې ورځې کېږي چې سترګې يې پرانيستې نه دي او له سينې يې يوازې يو کمزوری غږ اورېدل کېږي.

ور په يادېږي، چې له ډګروال سره يې په ۲۸ کلن ګډ ژوند کې د ژوند څومره لوړې ژورې تجربه کړې وې. خاوند به يې چې هر ولايت ته بدلېده، دا به هم ورسره ملګرې وه.

پر شونډو يې غمجنه موسکا خورېږي او دردوونکې کړيکه کوي:


داروی کرونا
حلیم الکوزی

«اه، ژوند یو اوږد او عجیب ســفر دی، د نېکمرغه کســانو لپاره کېدای شــي اوږد وي. زموږ ټولو لپاره فکر کوم سفر ډېر لنډ و، ډېر لنډ»!

د نعیم غږ هغه له خوبــه بیداروي او د ورځې تر ټولو دردوونکی خبر ورته اوروي. ګلالۍ په وېرېدونکو ســترګو د خاوند د جسد په لور ګوري او په داسې چیغو یې چې د ډېرې زړه وېلې کوي، د بسترې تر څنګ لوېږي او بې هوښه کېږي.



## بوډۍ درمل جوړوونکې[1]

پسرلی دغه جادوګر فصل ، مړ طبیعت را ژوندی کړی دی. بي بي افتاب په خپل اویا کلـــن ژوند کې له دې فصل او د هغه محصولاتو سره ښه اشنا ده.

هغه داسې مېرمن ده چې په ټول عمر کې یې د بدخشان له همدې جوزګون پرته بله ســـیمه لیدلې نه ده او بل هېڅ ولایت ته یې سفر نه دی کړی. د کابل نوم چې کوم وخـــت له کومې ملګرې یا خپلوانې واوري، زړه یې هیجاني شي او پایتخت ته تلل ورته یو خوب ښکاري.

پـــه زړه پورې دا ده، کله چې خورلڼو ته د کابل کیســـه کوي، فکر کـــوې اوس هم پنځوس کاله پخوا وخت کـــې ژوند کوي؛ ځکه تل

---

۱ . دغه داستان د بدخشان په جوزګون کې د یوې واقعي کیسې پر بنسټ لیکل شوی دی. جوزګون د بدخشان په فیض اباد کې یوه دره ده چې د غنمو او اوربشو د لرلو له کبله په جوزګون وپېژندل شوه.

پادشاه، تاج او تخت، شاهي او د شاه زاده ګانو او شاهزادګیو ارشن درشن یادوي.

هغه د بدخشان د کلیوالو خلکو ډېره ځانګړې او خوږه لهجه لري او وروسته له هرې جملې، د (زویه یا لورې) کلمه په خپل هغه اصلي ګړدود (لهجه) ادا کوي. په دې پســـرلنیو ورځو کې چې ټول ځایونه شنه او تازه شوي دي او د دوی د کلیو درې، جوزګون دره د جنت په څېر شـــوې، افتاب توری هره ورځ په شنو ځمکو او پټیو کې ګرځي او له طبیعي بوټو ډول ډول درمل راټولوي. که څوک یې له نژدې ونه پېژنـــي او له عمر نه یې خبر نـــه وي، فکر نه کوي اویا کلنه دې وي، ځکه چې قد یې تر اوسه ښایسته، لوړ او ښکلی دی.

هغه په خپلو چالاکو او تېزو لاسونو بوټي راټولوي او د هر بوټي نبض ورته معلوم دی. د کلي ټول خلک یې پېژني او (افتاب مور) یې بولي. د افتابې توری وېښـــتان تر اوسه مې و وریجې دي او سترګې یې اغېزناکې او ځلېدونکې دي. د کلي نارینه او مېرمنې ټول له هغې ســـره مینه لري، د دې غریبانه جونګړه د ټولو مېلمستون دی. دا او د کلي ډېری اوسېدونکي څاروي ساتي او ژوند یې د څارویو په وړیو او نورو محصولاتو تېرېږي.

افتاب، د څارویو ساتنې تر څنګ د خلکو درملنه هم کوي. د کلي یوازینۍ ډاکټره ده. که په کلي کې د چا په سر درد شي همدې مور ته راځي، که کومه مېرمن زېږون کوي افتاب مور یې خدمت ته رسېږي.

له همدې کبله یوه ورځ چې هغه غواړي خپلو پســـونو ته وابنـــه واچـــوي، د کلي یوه کلیواله یې پـــه وارخطایۍ او بیړه د هغې په لور



منډې وهي:

«خیریت دی لورې!»

«مورې، گلنار وریندار ماشوم راوړي، ما ویل چې شته یې کنه؟»

«مور دې ځار شـــه، چېرته به لاړه شم؟ ژر یې راوله زه هم کور ته ځم.»

آفتاب لکه لمر د ټولو په ســـر یو ډول گرځېده او درملنه یې کوله. له هېچا یې هېڅ هیله نه لرله. دا به بیا خلک وو چې دې ته به یې یوه کټوه مستې، څو د چرگو هگۍ یا هم یوه بوجۍ وابنه راوړل.

خو په دې ورځو کې د مور گڼه گوڼه بیخي ډېره شوې وه. د کلي له هر کونجه به ښځو او نارینه وو، بوډاگانو او ځوانانو هم مخه کړې وه او د درملنـــې لپاره به راتلل. ځکه چې جوزگون کلی له ښـــار او بازار او روغتیایـــي مرکزونو ډېر لرې و، خلک کلینیک او روغتون ته په اساني تلای نه شـــول. کلینیک او روغتون یې، همدا د افتاب مور غریبانه خو له سخاوت ډک کور و.

په دې شپو او ورځو کې، د مور ناروغان دومره ډېر شوي وو چې پخـــوا یې دومره ناروغان هېڅ لیدلي نه وو. مور اړ وه، هر ســـهار په درمل لرونکو بوټو پسې ووځي. یوه ورځ د کلي ملا، ملا سهراب په شنه سهار په کروندو کې ویني.

«مور وه مور، په دې شنه سهار څه کوې؟»

«سلام ملا کاکا، شخلی، ځیره، خوبروڼې، خاکشیر، گل خیرو او بادیان راټولوم.»

«مور! په دې ورځو کې دې گڼه گوڼه بیخي ډېره شوې.»

«هوکې زویه څه وکړم؛ خـــدای پوهېږي او کار یې، په ټول عمر کې مې دومره ناروغان نه وو لیدلي.»

«مورې رښـــتیا وایې، زموږ په کور کې هم ټول په ستوني درد او زکام اخته دي، تېره شپه د مراد د مور هم داسې تبه وه چې یو خدای پوهېږي.»

«درېغه لږ شـــخلی مو ورته جوش کړی وای او اوبه مو یې پرې څښلې وای او میده ګې مو یې په تندي ورته اېښې وای.»

د افتـــاب مور ناروغان ورځ په ورځ ډېرېږي. اوس یې دوې لونړې هم بوختې وي چې له بوټو په درمل جوړولو کې مرسته ورسره وکړي. خدای به چې څنګه ســـهار کړ، مور او دواړه لونړې به یې له کور سره نږدې غونډیو او ځمکو کې د شخلي، ځیرې، خوږه ولې، خاکشیر، ګل خیرو، بادیانو، جمبېلک، ګلاب، بنفشه او داسې نورو ګلونو او بوټو په ټولولو چې یوازې مور او لونړو یې پېژندل اخته وې. هره ورځ به یې لـــه کوره د بوټو ټکولو او اوکلۍ غـــږ پورته کېده. یوه ورځ یې لونړې ای خانم او ظریف ماه شکمنې شوې:

«مورې، له ډېرې ستړیا یې مړې کړو، نه پوهېږم په دې خلکو څه شوي چې ټول له سر دردي او زکام ځورېږي؟»

«ای خانـــم لورې! په رښـــتیا زه هم حیرانه یـــم. ټول عمر دومره ناروغان نه وو راته راغلي.»

«مورې! ای خانم رښـــتیا وایي نور نو ستړې شوې یو، نه لاس را پاتې دی او نه متې. نن زه هم ښه نه یم، سر مې نری نری خوږېږي.»

«ظریف ماه لورې! دردونه دې په غره او کږنگونو شه، ځه کور ته لاړه شه اوس جوشانده در وړم، د گل په څېر به روغه شې.»

افتابه هم په دې ورځو کې ستړې ده او تر سترگو لاندې یې تورې کړۍ ښــکاري؛ دا چې هغه ځواکمنه او تکړه مېرمن وه، شکایت یې ډېر نه کاوه، تر ډېره یې د خلکو خدمت کاوه. له دې ټولو ســره سره یې یو څه وطني غنم په اغور کې واچول او میده یې کړل، وروســته یې ورغاستي ترې جوړ کړل او په منځ کې یې شلغم، گازرې، نخود، کورکمن او لوبیا واچول:

«ای خانم! ورشه خور ته دې هم ووایه ورغاستي تیار دي.»

«مورې، دا دی زه او خور مې راغلو.»

«دا ورغاستي څه ښه بوی لري.»

«ای خانم، نو زه یې ولې پر بوی نه پوهېږم.»

«ظریف ماه لورې! دماغونه دې بند دي، کنه د سرې کړې هوږې او کورکمن بوی سړی وږی کوي.»

«نه مورې دماغونه مې بند نه دي او سهار د شیدو چای په خوند هم هېڅ پوهه نه شوم.»

افتاب مور پوهه شــوه چې لور یې هم د کلي د خلکو په ناروغۍ چې کرونا ورته وایي، اخته شــوې ده. مور یې لور ته هم جوشــانده تیاره کړه، ای خانم او مور به یې هم څښلــه. کله به یې تریخ اش او کله به یې هم ترخه شــوله چې په منځ کې به یې وچې منې او بویي (بهي) هم اچول. ځکه هغه باوري وه چې کرونا ناروغانو ته دا خواړه ډېره گټه لري او دوی ته قوت ورکوي.

د جوزګون د کلي ملا، ملا ســهراب هم جوړ نه و. ټوله کورنۍ یې ناروغه شــوې وه. په ځانګړې توګه د مېرمنې روغتیایي وضعیت یې د اندېښنې وړ و، ان سمه ساه یې اخیستی نه شوه. یو سهار ملا په ډېرو ستونزو سره خپله مېرمن په یوه خره سپره تر افتاب مور ورسوله:

«ملاکاکا، له نورو خلکو خو ګیله نشــته؛ تا دې ولې ښــځه تر داسې حالته پرېښې او اوس دې راوسته؟»

«مور! هرڅه مې چې په توان وو ورسره ومې کړل، فکر مې کاوه جوړېږي، خو ورځ په ورځ بدتره شوه.»

«ملا کاکا، مه وارخطا کېږه، زه یې اوس غمه خورم او د خدای ج په زور به له خیره لکه ګل داسې روغه شي.»

***

«مور! دغه د کرونا بده بلا خطرناکه ناروغي ده، په رښتیا چې زه یې ډېر وېرولی یم، وېرېږم چې خــدای مه کړه په کورودانه مې څه وشي.»

«کاکا! رښــتیا وایې دا ناروغي خطرناکه ده، خو خدای پاچا دی زړه دې مه غورځوه.»

«مور! ما خو ټول عمر داسې ناروغي لیدلې نه وه، وامې ورېدل چې د نړۍ ټول خلک همدې ناروغۍ نیولي دي او په ټولو هېوادونو کې ده».

«زه د دې کلي سپین سرې یم او په پخوا وختونو کې به هم کومه ناروغي پیداکېــده. په یاد مې دي یو ځل د وبــا یا طاعون ناروغي راغلې وه، ډېر خلک یې ووژل، خو دا ډول مې یې لیدلې نه وه».

«اول مـــې خدای ته هیله ده بیا تا ته، زما د کوروداني غمه وخوره چې له دې پرته موږ ټول اوبه وړي او بېچاره کېږو».

«کاکاجانه! توکل په خدای، هرڅه مې چې په وس کې وي ورته کوم یې».

افتاب مور او لورانو یې، لاسونه بډ وهل او د کلي د ملا د مېرمنې په درملنه بوختې شـــوې. شپه او ورځ یې پر ځان یوه کړل او په نوبت سره د ملا د مېرمنې سرته کېناستې او درملنه یې وکړه.

مور، په اوبو کې سرکه اچوله او په دسمال به یې د ناروغ تندی او لاســـونه مالش کول. د ډول ډول بوټو جوشانده به یې تیاروله او پرې څښله به یې:

«مورې! دا دی په خیر سره د سرکې لندې ټوټې ګټه وکړه او د ملا صیب د مېرمنې تبه ورسره کمه شوه».

هوکې لورې د دې ترخنګ د شـــخلي اوبو هم ګټه وکړه او هغه د جمبېلک د چای بخار هم ګټور و، نفس تنګي یې ورکه کړه».

«مورې! د بنفش ګل جوشاندې او زوفام ډېره ګټه وکړه»

«لورې! په دې ټولو بوټو کې حکمت دی، خدای هېڅ یو هم بې ګټې نه دی پیداکړی».

«مورې! هلته وګوره د ملا صیب مېرمن په ځای کې ناسته ده او خبرې کوي».

دوی د ملاســـهراب د مېرمنې کمزوری غږ واورېد چې د دوی له درملنـــې او زحمتونو یې مننه کوله. یوازې دا ناروغه نه وه چې د دې کورنۍ په درملنه او پاملرنه روغه شوې وه، له لرې او نژدې کلیو به ډېر





ناروغان دلته راتلل او درملنه يې کېده.

تر اوسه هم د مياشتو په تېرېدو سره، کرونا ناروغۍ خلک ځورول. پسرلی په خپلې ټولې ښکلا او شينوالي سره د جوزګون کلي د خلکو په سترګو کې له اغزي کم نه و. دې کلي هغه پخوانۍ هوا او حالت نه درلود. خلک له يو بل وېرېدل او څنګ ته کېدل. د مهربانۍ او مينې ځای سوړ چلند نيولی و. په همداسې حالت او هوا کې، تر اوسه هم د افتاب مور د ختيځ کور دروازه د عامو او خاصو خلکو پر مخ خلاصه وه او له سهاره تر ماښامه به يې د ناروغانو درملنه کوله:

«مورې! تاسې موږ خلکو ته خدای ج د يوې پرښتې په توګه رالېږلې ياست».

«لورې! شفا ورکوونکی هم هماغه زموږ تاسې خدای ج دی، زه يوازې يوه وسيله يم او بس».

«د خدای شکر چې تاسې لرم، دلته نه روغتون او نه هم ډاکټر شته، که تاسې نه وای دې کرونا به موږ ټول وژلي وو».

«لورې غم مه کوه، خدای به دا بلا په خير سره ورکه کړي».

افتاب مور توانېدلې وه، د جوزګون ډېرو خلکو ته د بوټو درمل ور وپېژني او د درملو د جوړولو څرنګوالی هم ور زده کړي. خيرمنه مېرمن وه او غوښتل يې خپلې تجربې له راتلونکو نسلونو سره شريکې کړي او که مړه شي، خلک د دې درملو د جوړولو چل زده کړي او وکولای شي له مرګ وروسته يې هم د کلي خلکو ته ګټه ورسېږي.

اوس ډېرې مېرمنې او نارينه د دې کلي د بوټو او ګلونو د درملو پر نبضونو پوهېدل او کولای يې شول د بېلابېلو ناروغيو لپاره درمل جوړ کړي.

پسرلی تېر شو، د اوړي تودې ورځې را ورسېدې. جوزګون کلي يــو ځل بيا تازه روح اخيســـتی و، خلک په کار، مالـــدارۍ او کرنې بوخت وو. کرونا ناروغي ورو ورو په يوه وېروونکې کيسه بدلېده او خلکو په وېره د خپلې ناروغۍ او بېچارګۍ ورځې يادولې. څه چې په دې کيســـو کې هيله ورکوونکي وو او دوی ته يې روح ورکاوه، د افتاب مور هڅې وې او د جوزګون کلي د خلکو د ســـاتنې لپاره يې پاک نيت او اخلاص و.

خلک به له خپلو محصولاتو سره د افتاب مور کور ته چې د ټولو په سر به لکه لمر يو ډول ګرځېده راتلل او د خپلو محصولاتو په ډالۍ کولو سره به يې مينه ورسره ښوده.

د دې کلي ســـاړه ســـهارونو به د دې مهربانې او زيار ويستونکې مېرمنې تصوير په حافظه کې درلود او د دې سيمې ټول بوټي او ګلونه د افتاب مور له نوم ســـره بلد وو. د سيمې ماشـــومانو افتاب مور ته ســـندره جوړه کړې چې هر وخت به يې هغه ليده ورته زمزمه کوله به يې.

جوزګون، څه لري؟
افتاب مور
جوزګون، څه لري؟
ښه بوټي
اې افتاب مورې!
اې افتاب مورې!



## سپېڅلي سپین چپني

د سږ کال ژمی له سړې هوا او فصلي ناروغیو سره ژر را ورسېد. د سږ مني پیل هم د ژمي په څېر سوړ و. یوازې واوره نه ده ورېدلې. نیا به مې ویل که یو څوک له مني ووځي، له ځلې هم وتلای شي. مطلب یې دا و چې که په مني کې ناجوړه نه شوې په ژمي کې هم نه ناجوړه کېږې، خو ډاکټر عمر داسې نه و. ښه احساس یې نه درلود. زکام او د ستوني درد یې پر ځان نښتي وو.

په پام کې ده د هغه په همکارۍ یو کنفرانس وچلوم. په داسې حال کې چې د وړیو خولۍ یې په سر کړې او ماسک یې هم اچولی دی، مېز ته مې نژدې راځي، کاغذونه راته ښيي. رنګ یې یو څه تور بخن شوی، یو څه کړوپ شوی او وچ ټوخی هیڅ وار نه ورکوي:

په موسکا ورته وایم:

«ډاکټر صیب! کرونا خو نه یې؟»

«د څه کرونا، زه حساسیت لرم او ځینې وخت مې همداسې

سخت نیسي. کېدای شي فصلي ناروغي وي.»

داسې حس کوم چې پوښتنه پرې ښه نه ده لگېدلې، شنې سترگې یې تنگې کړې او په غوسې یې وویل:

«زه ډاکټر یم او پوهېږم ناروغي مې له سړې هوا سره د حساسیت له کبله ده او بس».

میاشـــتې کېږي، د کوید ۱۹ په اړه په ټولنیزو رســنیو کې مطالب لولم. له خپلو همکارانو مې هم چې په دې ناروغۍ اخته شــوي وو اورېدلي. د ډاکټر عمر په خبرو مې شــک راځي. په هماغه ورځ مې خپله وېره له خپلې همکارې ســره شــریکه کړه. هغې مې هم زما د خبرې تصدیق وکړ او په ټوکو یې وویل:

«نه پوهېږم، ډاکټران ولې داسې فکر کوي چې کرونا یې نه نیسي»؟

ورځې په کرونایي خبرونو ســره پیلېږي او دردوونکې دا ده چې د دې ناروغۍ په لومړیو قربانیانو کې ډاکټران هم شـــامل دي. زموږ اندېښـــنې هره ورځ زیاتېـــږي او زه فکر کوم چې کېدای شـــي ټول ډاکټـــران، د ډاکټر عمر په څېر بې پروایي کـــوي او دا فکر لري چې کرونا ډاکټرانو ته ضرر نه رسوي.

شـــپه مې رویا خور زنگ وهي، بیا هم خپلې گډې اندېښنې سره شریکوو. د هغې په غږ کې هم اندېښنې څپې وهي:

«رویاجانې، بیا دې غږ ولې نیولی ښکاري»؟

«نه پوهېږم دغه کرونایي ژوند مې بیخي فکر خراب کړی دی».

«خور جانې خدای دې خیر پېښ کړي».

«امممممم، رښتیا خبره شوې»؟



«په څه شي»؟

«د غابښـــونو په هغه ډاکټر چې زموږ د ســـړک په اخر سر کې يې کتنځی درلود».

«نه، څه پرې شوي»؟

«هغه هم کرونا نيولی و او مړ شو».

«وووووئ، بېچاره ځومره ځوان و».

د کرونا ناروغۍ په لومړيو قربانيانو کې د ډاکټرانو مړينې د خلکو ذهن ګډوډ کړی و. د رسنيو د شپې راپورونو او د ټولنيزو شبکو اوازو دغې ذهني ګډوډۍ ته لاهم لمن وهله. حقيقت دا دی چې رښتينې شـــمېرې نشته او همدې چارې خلک نور هم په اندېښمن کړي دي. موبايل مې په لاس کې دی او د فېسبوک پاڼه مې هم پرانيستې ده:

«د کابل د اندرا ګاندي د ماشوم روغتيا روغتون جراح ډاکتر اقبال عمري د کرونا ناروغۍ له کبله مړ شو».

تر دې متن لانـــدې د يوه ځوان عکس راغلی چـــې په ځلېدونکو سترګو راته ګوري. لږ ښکته ځم. لکه دا چې د ډاکټر له اغېزناکو سترګو پرهېز کوم. راته د منلو نه ده چې هغه به روغتيايي لارښـــوونې رعايت کړې نه وي خو خامخا به اړ و له ناروغانو سره له نژدې اړيکه ولري او درملنه يې وکړي.

سره له دې چې ځينې وخت داسې خبرونه هم اورم، دا ډول ځينې ډاکټران خپلو شـــخصي کتنځيو ته نه ځي، ځان ساتنه يې د کار خنډ ګرځـــي، خو په دې برخه کې يو بل خبر ډېر راته په زړه پورې دی ان حيرانوونکی دی. د کرونا له ناروغانو ســـره د مرســـتې لپاره يو شمېر

مسلکي ډاکټران له بهر څخه افغانستان ته راځي، چې له عامې روغتیا وزارت ســـره د کرونا ناروغانو په پېژندنه کې په رضاکاره ډول مرسته وکړي. شپه مې بیا له خور رویا سره په موبایل خبرې کوم:

«رویاجانې! اوس هم پیاز او کچالو په صابون مینځې او له هغې وروسته یې کور ته وړې».

«هههههه هو خورجانې، همدا چې جمشــېد ســـودا راوړي ټول مینځم ».

«هههههه ان لوبیا او نخود»؟

«نه کنه، خو باور وکړه چې ټولې کڅوړې پاکوم او بیا یې اخلم».

«هههههههه دې خدای وهلې کرونا، زموږ تاســـې جنجالونه ډېر کړي دي».

«امممممم لاسونه مې پرته له هغې هم حساسیت لري، اوس نو بیخي حســـاس شوي او د لاسونو پوستکی مې بیخي ګونځې شوی دی».

«رښـــتیا ووایم خورجانې، زما د لاســـونو بندونـــه هم د کوڅې د ماشومانو په څېر کلک او چاودې شوي دي».

«اړه یم هره دقیقه یې په صابونووینځم».

«ههههههههه هوکنه ځان په سرې ګران وي».

«په رښـــتیا تېره ورځ مې یو خبر واورېد چـــې څو ډاکټران له بهره راغلي، له خلکو او ډاکټرانو ســـره مرســـته کوي چـــې پر کرونا اخته ناروغان روغ شي».

«ما هم همدا خبر واورېد. ډاکټـــر عزیز روحاني له برېتانیا څخه

ننګرهـــار ولایت ته تللی او ډاکټر ســـیف الرحمن هم افغانســـتان ته راغلی او غوارې له افغانانو سره مرسته وکړي».

«په دې خبر مې زړه خوشاله شي».

«هوکې، انسانیت تر اوسه مړ نه دی ، ژوندی دی».

یو ځلي نړۍ بل رنګ اخیســـتی دی. په ښار او بازار کې ملګری او دوســـت په سختۍ پېژندی شې. د ځوان او بوډا، نارینه او مېرمنې نیم مخ پټ شـــوی دی. هره ورځ د ماســـک او مینځونکو موادو بیې لوړېږي. د خلکو په سترګو کې وحشت په ښکاره لیدی شو. د کورنیو تر منځ تګ راتګ ډېر کم شـــوي دي او هېڅوک هم د مېلمه راتګ ته نه خوشاله کېږي. مېلمه له عزراییل سره برابر شوی دی.

خو زما روحیه یوې اوازې ځواکمنه کړې ده:

«زما د وینې ګروپ +ORH دی که مې کرونا څنګ ته راشي بڼکې یې سوځي».

رښـــتیا هم پر دې اوازې مې باور کړی دی. یـــو ځای مې په یوه څېړنه کې ولوستل چې ORH+ وینه لرونکي کسان به په کرونا اخته نه شي او نه باید د نورو شـــاوخوا خلکو په څېر اندېښنه ولرم. دغې موضوع یوه بله پېښـــه هم پیاوړې کړه. هغه داسې چې ټول همکاران مې په کرونا اخته شول خو زه د یوې معجزې په توګه روغه ترې پاتې شـــوم. خو د بدو خبرونو او له اوازو په ډک چاپېریال کې کولای شو تر ډېره وخته اندېښـــنه ونه لرو؟ همدا چې غوارې خوشاله وې او په روغتیا دې شکر وباسې، بیا هم داسې یو خبر اوري چې روح دې له منځه وړي. یو له همکارانو مې چې ځوان او خوشـــاله ځوان دی، د

ده د خوشاله طبیعت پر خلاف په خپګان سره وایي:

«ډاکټر اریوبي له ځان سره کور ته هم کرونا وړې ده».

«اریوبي، هغه څوک دی».

«هغه ډاکټر چې نن مړ شو».

«اوففففف بیا مو یو ډاکټر ضایع شو».

«یوه ورځ مخکې یې چې خور کرونا نیولې وه مړه شوه او نن خپله مړ شو».

«وووووی»!

«ورور یې کمـــال اریوبي وایي، ورته ومې ویل څه کوې، کرار په کور کې کښېـــېنه چې وضعیت سم نه دی، خو ویې نه منله لاړ چې د ناروغانو درملنه وکړي. دوې درې ورځې وروســـته زموږ په کور کې وضعیت خراب شو».

«څومره بدبختي ده، دربغه پام یې کړی وای».

«ورور یې هم اوس د کابل په یوه روغتون کې بســـتر دی. درې نور ورونــه یې په کور کې قرنطین دي او وایـــي چې یوه خور یې هم پرې اخته ده».

«یوســـف اریوبي چې خپله هم ډاکتـــر و، ولې د دې ناروغۍ په نښو پوه نه شو»؟

«وراره یې ویلي، په کور کې ټول ناروغ شوي وو، خو د ازمایښت پایله یې ورته ښودلې وه چې محرقه دي».

«په رښتیا هم ډېری کسان فکر کوي محرقه دي».

«د ده یې هم ان شپږ میاشتې وروسته ښودلې وه چې دوه تنه یې

په کرونا اخته شوي دي».

«بېچاره ګان»

«وایــي مور یې چې د خپل زوی جنازه نه ده لیدلې اوس یې زړه اچولی»

له ځان سره فکر کوم، خلک تل د خپلو شتو په ارزښت نه پوهېږي. اوس وګوره چې په اوونیــو به د خپلوانو له لیدو لرې پاتې کېږي. نه شــې کوی د مور، ورور، خور او نورو خپلوانو کورونو ته لاړ شې او ویې وینې. ان نه شې کوی د ملګرو او دوستانو له جنازو سره خدای په اماني وکړې. له ځمکې او اســمان اندېښنه او پرېشاني اوري. ان چې ماشومان هم په امن نه دي. له لوبو او ساعتېرۍ پاتې دي.

که زموږ مسافرین زنګ وهي، لومړۍ خبره د کرونا ده. د دې لویې نړۍ په ټولو څنډو کې دې واړه ویروس سر راپورته کړی او د نړیوالو ژوند یې په جهنم بدل کړی دی.

زموږ د ګاونډي مېرمن شــریفه ترور وینم. هم ډنګره شوې او هم اندېښمنه ده:

«تروري، ښه یې»؟

«ښه یم لورې، خو د شکرې ناروغي ښه والی نه لري».

«پام خو کوې»؟

«څنګه یې نه کوم لــورې، باور وکړه چې ځینې وخت مې زړه په شیریني پسې لړزېږي، بیا هماغه ټابلېټونه چې د شکر ناروغانو لپاره دي، په ګیلاس کې اچوم او له خدایه صبر غواړم.»

«تروري، اوس هم سپورټ کوې»؟



«نه بابا، اولادونه مې نه پرېږدي، وايي شکر هم لرې، که خدای مه کړه کرونا دې ونيسي بيا موږ څه وکړو»؟

«امممم ملامت نه دي وېرېږي».

«لورې ټولې کيسې يوه خوا او دا بله خوا چې زما معالج ډاکټر هم په کرونا وفات شو».

«اخخخخ، بېچاره».

«يوازې د هغه دوا يو څه ګټه راته کوله او بس».

«ترورې هغه څه نومېده».

«ډاکټر سلام نجرابي».

د يـــوه بل ډاکټر د مړ کېدو خبر مې بيا هم روح ځوروي. له ډېرې پرېشـــانۍ مې فېسبوک خلاصوم. ســـترګې مې په دريو نورو پېژندل شوو ډاکټرانو لګېږي. د سترګو د ناروغيو متخصص ډاکټر محب‌الله محب، د پوســـتکي د ناروغيو متخصص ډاکتـــر حليمي او د زړه د ناروغيو متخصص ډاکټر سلطاني. دا ټول په وېرې او لړزې سره لولم چې دوی هم د کرونا له لاسه مړه شوي دي.

خدايه! دا څه حال دی. د نړۍ تر ټولو تاوده خبرونه له دې کثيف ويروس سره تړلي دي او ټوله نړۍ يې لېونۍ کړې ده.

د مرګونـــو، ځورونو او دردونو په دې چاپېريـــال کې، يوازې يوه خوشالي لرم چې د شپې مې له خور رويا سره په ټليفون خبرې کوم. مياشـــتې کېږي هغه هم ښوونځي ته تللې نه ده. قرنطين ښوونکي او زده کوونکي له زده کړو او ښوونځي لرې ساتلي دي:

« خورجانې، سات دې تېر دی بې غمه په کور کې يې».

«ربښــتیا د نن ورځې نسل بدل شوی، انسان ژر ستړی کوي، نه د پخوا په څېر له زده کړو سره مینه لري او نه خپلو کړنو او خبرو ته پام کوي، خو بیا هم په زده کړو او ښوونځي پسې خپه شوې یم».

«ههههههه خورجانې دنده سپېڅلې وي».

«ربښتیا هم همداسې ده».

«مور مې څنگه ده»؟

«شکر ښه ده، تاسې ډېره یادوي او درپسې خپه شوې».

«زه هم ډېره خپه شوې یم، خدای دې د کرونا کور وران کړي، زه کوښښ کوم د مور په خاطر مې در نه شم».

«انســـان هېڅ فکر نه کوي چې په یوه قدم لاره کې، ونه شې کوی له یوې کوڅې بلې ته لاړ شې».

«خورجانې همداسې ده، امیرجان صبوري ربښتیا ویلي...»

«وای از دنیا که یار از یار میترسد...»

«ربښتیا خبره شوې، د فرېبا ترور خاوند هم په بغلان کې مړ شوی دی».

«ډاکټر فضلي یادوې، په هغه څه شوي وو»؟

«نه پوهېږم چې ســکته یې کړې او یا هم په کرونا وفات شـــوی دی».

وروسته یې بیا هم په فېسبوک کې لولم:

«ډاکټر فضلي ۹۹یم ســپېڅلي سپین چپن والا دی چې په کرونا ویروس د اخته کېدو له کبله مړ شو».



## د توتانو مېله

د مني سړې ورځې دي. زه د رژېدلو او پرېشانه پاڼو په منځ کې قدم وهم او ځان هم لکه همدا ژېړې پاڼې رژېدلی او پرېشانه حس کوم.

لاس مې په مړاوي پیکي وهم او له غمه ډکه چیغه کوم:

«وخت ناروغ دی، ځمکه ناروغه ده، طبیعت ناروغ دی او زه ناروغه یم. باور وکړئ ان داسې احساس لرم چې د شاوخوا مرغان او ونې هم ټول ناروغ دي او ان کومه هوا چې تنفس کوم ناروغه ده».

ســـوړ اسوېلی باســـم، راپه یادېږي د یکشنبې په سهار چې له خوبه ویښـــه شوم، په ستوني کې مې یو سوی او وروسته مې په سینه کې درد حس کړ. فکر مې کاوه سینه بغل شوې یم؛ ځکه چې همدا یې فصل و.

وروسته هم بلغم لرونکی ټوخی، ټوله شپه ویښتیا او بشپړه سر دردي. مسکن، انتي بیوټیک او د خوب لپاره مې هم قوي درمل واخیستل چې لږ تر لږه یو ســـاعت خو ویده شم، خو دې درملو یوه هم اغېزه ونکړه او بیا مې شپه ړنه تېره کړه.

شـــپه وه، څه اوږده شپه، هېڅ نه سبا کېده. ســـبا په هماغه مات او ځپلي حالت دفتر ته روانه شـــوم. په رســـنیو کې کار اسانه نه دی، هره لحظه باید تیار اوســـې چې د دې ځمکې له بدو خبرونو ســـره مخ شې او هره ورځ تدریجي مړه کېدل تجربه کړې. هوا ډېره ســـړه وه او ګازي بخارۍ یې چالانه کړې وه، ســـر مې ډېر ګنګـــس و او زړه مې بدېده. فکر کوم ګاز نیولې یم. په دســـتکول کې یو پاکټ اسپرین او څو پاکټه جوشانده لرم، هغه کاروم.

اشپز ته مې وویل د چای په ترموز کې مې تازه زنجبیل واچوي. غرمه د ډوډۍ پر مهال مې هېڅ اشـــتها نه لرله، پـــه بدن مې یو ډول کمزوري حاکمـــه وه. نه ټوخېدم او نه مې درد درلود. له ځان ســـره مې ویل که په کرونا اخته شوې وم، نو باید له سختې او پرله پسې سر دردۍ، تبې، وچ ټوخي، اسهال، زکام، ستوني او ځان دردي هم باید ولري چې زه یې نه لرم، نو بیا په یقین سره کرونا نه یم.

بې حالۍ ځورولم، له انار او مستو پرته مې هېڅ شي ته زړه نه کېده او ډېره نېکمرغه وم چې د انارو فصل و. ماسک مې د دفتر موټر ته چې ختلم اچاوه او په دفتر کې هم د احتیاط لپاره له نورو لرې ګرځېدمه.

ماښـــام کور ته ورسېدم، د لومړي پوړ په زینو کې کمزورې شوم، په حیرانۍ مې له ځانه سره وویل:

«خدایه! اوس تر څلورم پوړ پورې څنګه لاړه شم»؟

ګنګســـیت او بې اشتهایي لا هم پرېښـــې نه وم. یوه ورځ خوړنځي (طعام خانه) ته لاړم، یو دوې مړۍ ډوډۍ مې په سختۍ له ستوني تېره کړه او یوه ټوټه نارنج مې له ځان ســـره شعبې ته راوړ چې چای کې یې واچوم. نارنج مې د تور چای په ګیلاس کې ونیناوه، لاســـونه مې پوزې



تـــه نژدې کړل چې بوی حس کړم، د نارنج په بوی مینه یم، خو یو ځلي مې ټکان وخوړ:

«وووی خدایه!د نارنج په بوی ولې نه پوهېږم».

یوې همکارې ته مې وویل داســې احساسوم چې کرونا نیولې یم. هغې وخندل او ویې ویل:

«کرونا دومره اسانه نه ده، بې غمه اوسه کرونا نه یې»!

هره لحظه مې وېره او اندېښنه ډېرېده، که مې اولادونو ته ووایم، دوی به ووېرېږي، په ځانګړي ډول مشر زوی مې چې له کرونا ډېره وېره لري او که ونه وایم او خدای مه کړه دوی په دې ناروغۍ اخته شول څه وکړم!

له ځان ســره مې هوډ وکړ، تر بیا رغېدو پــورې به څه نه ورته وایم، خو له دوی ســره به واټن مراعات کړم. ګنګسوالي او بې اشتهایۍ مې اولادونه اندېښمن کړي وو، یوه ورځ رودابې لور په اندېښنه راته وویل:

«مورې! ولې خوراک نه کوې»؟

«لورې! د مور خبره مې شات ته مې هم زړه نه کېږي.»

«څه درباندې شوي، بل وخت به چې ناجوړه شوې دومره خو نه بې اشتها کېدې»؟

«دا پوښتنه ماته هم پیدا ده، زه هېڅ وخت داسې نه وم شوې چې ان د ډوډۍ بوی بد را باندې ولګېږي».

«یو څه ووایه چې درته تیار یې کړم، داسې خو هم نه کېږي».

«د سر صدقه دې شم، په مستو کې لږ انار میده کړه او له یوې قاشقې سره یې راوړه، له مستو او انارو پرته مې هېڅ هم زړه ته نه کېږي».

کوټه مې له اولادونو بېله وه، سره له هغې به مې هم وړوکي زوی غېږ راکوله او مخ به مې یې مچو کاوه. په خندا به مې ورته ویل:

«گرانه، له ما لرې اوسه، داسې نه چې له ځان سره مې کرونا راوړې وي».

یو ســـهار له لمانځه وروسته مې د کوټې دروازه خلاصه شوه، گورم چې وړوکی زوی مې کیومرث تښتېدلي رنګ او سپېره شونډې کوټې ته را ننووت:

«مورې! سر او پښې مې ډېر درد کوي».

«خدای دې نکړي زویه، درد دې په غرونو او کڼګونو شه»!

«زړه مې بد بد کېږي».

دومـــره ټکان مې وخوړ او وارخطا شــــوم چې یـــوه لحظه په څه نه پوهېدم، په حواســـو مې حاکمه نه وم. پوهه شــــوم چې کرونا مې خپل زوی ته انتقال کړې او د ګناه حس مې روح داسې وځپله لکه چې ځوک مې زندۍ کړي او یو درد مې ستونی ومروړي.

ژر مې انار دانه کړل او یو مســـکن ټابلیټ مې هم ورکړ. یو دوه ساعته وروسته مې بیا کوټې ته راغی، ویې ویل:

«مورې! ډېر وږی شوی یم».

«له ســــره دې ځار شم، ښه شو چې روغ شوې، ووایه څه ته دې زړه کېږي»؟

«هر شی چې وي».

«گرانه، اوس دستي ډوډۍ درته تیاروم»!

همدا چې پوهه شوم، زوی مې د لوږې احساس کوي او حالت یې هم ښه دی. د ځمکې او اسمان په اندازه شکر مې ویوست او رنځور زړه مې دویم ځلي ارامه شو.

د شپې مې لورکۍ ته وویل، شپې ته یو قاب پیاز زما او یو قاب دې د

وروړ له سر سره کېږده، سره له دې چې خپله مې بوی نه حس کاوه. سبا ته مې سپېلني دود کړل، لړ يې په بوی پوهه شوم او بس. د خولې خوند مې ګډوډ شـــوی و. سره له دې چې تريخ، خواږه او تروش به مې حس کول؛ خو د خوړو په اصلي خوند نه پوهېدم.

فکر مې کاوه چـــې دا ويروس ماته څه ډول ولېږدول شـــو. ما ټول روغتيايـــي پروتوکولونه پالللي وو. هر څومره مـــې چې په خپلو ماغزو فشـــار را ووړ، خو را په ياد نه شـــول. ناڅاپه مې را په زړه شول چې يوه کوهستاني همکار مو، زه او نور همکاران د کوهستان دويمې حصې ته د توتو مېلې ته بللي وو. د توتو او بادرنګو فصل و، زما هم چې د کاپيسا ښايسته شنه ولايت ته زړه کېده نو همکار ته مې مثبت ځواب ورکړ.

را په ياد شـــول، هماغــه ورځ چې مېلې ته تلو، په څه شـــوق مو د چاريکارو له بازاره بادرنګ اخيستي وو، داسې بادرنګ چې ټول له اوبو ډک وو او هېڅ تخم يې نه لاره. وروســـته له صياد تېر شـــوي وو، نژدې ملګرې مې وجيهې رانه وغوښتل، همکاران راضي کړم چې د صياد له پله سره دمه وکړو چې هغه دې هماغه واړه کبان چې له سرو مرچکو سره پخېږي وخوري؛ مور به يې دا کبان ډېر خوښول:

«چې رښتيا شي زما خو دا واړه واړه کبان هېڅ نه خوښېږي، فکر کوم هماغه د سيند د اوبو خام بوی ورکوي».

«پرېږده يې خورې، زموږ زړه مه رابدوه، پرېږده چې دا کبان مو طبعه راجوړه کړي».

«هههههههه دارو مو شه، ما مې نظر ووايه».

له صياد پله ورو ورو تېر شـــوو او د کاپيســـا ولايت په لور لاړو، زه چـــې په ونـــو او بوټو مينه وم، له موټروان نه مې هيله وکړه چې ســـوکه



مزل وکړي. د سړک دواړو خواوو ته مې د چنارونو له ډول ډول ونو او سنځلو بې کچې خوند اخیست.

زموږ کوهستاني همکار نجیب، له موټروانه وغوښتل چې د هغې لویې کلا تر څنګ چې ډېره پخوانۍ ښکاري، ودرېږي. موږ یو یو له موټر نه ښکته شوو او په همکار پسې د باغونو په کوڅه کې لاړو.

وجیهه ملګرې مې چې کابلۍ وه او هېڅ کله یې ولایتونو ته سفر نه و کړی، داسې خوشاله او هیجاني وه چې د ټولو به ورته پام کېده، هغې به زما مټ ته ټکان ورکاوه:

«وووووی خدایه! دا ځایونه څومره ښایسته دي».

«امممم، زه هم په همداسې ځایونو مینه یم. دې دوو خواوو ته وګوره د کوڅې دواړو لوریو ته د سپېدار او چینار څومره ښکلې ونې دي».

«هلته وګوره، دغه ونه د څه شي ده او مېوه یې څه نومېږي».

«ته ودرېږه، زه یې یوه دانه وخورم...»

«نامینځلې دې وخوړه»؟

«پاک دي، دلته نه د کابل په څېر دوړې شته او نه هم کثافات او مرداري».

«ووایه دا څه دي»؟

«فکر کوم دولانه ده».

«دولانه»!

«امممم دا د درملو بوټی دی، مور مې د وینې غوړ لپاره کاروي».

د اوبو د شرشرې او د رود د څپو غږونه مو چې یو پر بل لګېدل، له نژدې اورېدل. داسې ښکارېده چې تېره شپه باران شوی وي، د خاورو

او شنو بوټو بوی زموږ روح لېونتوب ته رسولی و.

موږ د یوه لوی باغ په منځ کې وو چې د توتو بې شـــمېره لویې ونې پکې وې. همکاران مو کورنبانه شمېرل کېدل. د یوه بوډا بنوال په مرسته چې نور بابا یې ورته وایه، د چنار تر ونو لاندې فرش اوار شـــو. چا ډډه ولګوله، څوک کېناستل او څوک هم د سیند د اوبو شرشرې ته لاړل چې د باغ له څنګه تېرېده.

ومې لیدل چې زموږ همکاره وجیهه او بله همکاره ویدا چې ځوانه او شوخه نجلۍ وه، د رود پر غاړه پر ډبرو ناستې دي. زه به ان له ماشومتوبه د رود له غږ او توپاني څپو وېرېدم، هېڅ به مې زړه نه غوښـــتل څنګ ته یې ورشم.

ســـترګې مې د ترکاري په پټیو ولګېدې. په خوښۍ مې نور بابا ته غږ وکړ:

«نور بابا! کولای شم له دې پیازو او ګشنیزو ځان ته ټول کړم».

«ټول دې له ســـر صدقه شه لورې، ویې شکوه. تاسې زموږ مېلمانه یاست او ستاســـې قدمونه زموږ په لېمو دي، که نور څه دې هم په کار وي ووایه».

«ژوندی اوسې باباجانه، زما ترکاري ډېره خوښېږي».

پام مې شـــو چې نور بابا ســـخت ټوخېږي او له ډېـــر ټوخي یې له مهربانه سترګو اوښکې بهېږي:

«بابا، ښه یې»؟

«لورې، ناجوړه وم».

«خو اوس هم ټوخېږې».

«لږ لږ ټوخېږم، د بوډاتوب دې رنګ ورک شي».

«بابا، درمل دې اخيستي»؟

«هههههههههه نه لورې، دلته چې څو پورې له پښو ونه لوېږې ډاکټر ته به نه ځې».

«خو د ټوخي لپاره بايد يو ځل خامخا ډاکټر ته ورغلی وې».

«لورې، حال خو مې ښــه وينې، په رښتيا هم چې دومره ډېر ناروغه شوی وم، چې داسې ناروغي مې ټول عمر ليدلې نه وه».

«پوه نه شوې چې ولې؟»؟

«پوه نه شوم، د اولادونو مور ويل کېدای شي (خله) نيولی وې».

«خله؟»

«ههههههههه تاسې يې سينه‌بغل بولئ».

څو ګېډۍ پياز او ګشنيز مې برابر کړل، خپل همکار يما ته مې ورکړل چې د ســيند په اوبو يې ووينځي. نجيب چې رښــتيا هم ډېر مهربانه، نجيب او مېلمه پال شــخص و، له نور بابا سره لرې لاړ، ليدل مې چې ټولو همکارانو ځولۍ نيولې او بابا نور توت ته ختلی، توت را څنډي.

يو ساعت وروسته يې د توتو ټوکرۍ چې د سيند په سړو اوبو وينځل شــوي وو، د بادرنګو له يو سطل شــړومبو سره زموږ مخې ته راوړل. د لومړي ځل لپاره مې ترخې شړومبې څښلې. موږ په کابل کې هيڅ کله هم په شړمبو کې له بادرنګ سره مرچ نه اچوو.

د ډوډۍ وخت شــو، سترخان يې اوار کړ، د ښــوروا کاسې يې له پاستيو (نازکې ډوډۍ) سره زموږ مخې ته کېښودې. ما پياز او ګشنيز په قابونو کې واچول او په سترخان مې کېښودل. د ښوروا ګلدارو کاسو ته مې پام شو، د خپلې نيا کاسې را يادې شوې چې ښوروا به په همداسې کاسو کې له مرچو سره ډېره مزه کوله.

د نور بابا تنکي زلمي زوی شېرپاچا هم له خپل پلار سره کمک کاوه. پام مې شــو چې هغه هم د پلار په څېر سخت وچ ټوخی لري او داسې ډنگر او وچ کلک دی چې فکر کوې همدا اوس د ناروغۍ له بستر نه را پورته شوی دی. په اندېښنه مې ترې وپوښتل: ناروغ يې؟

«هو، تروري، څه موده کېږي چې ټوله کورنۍ مو ناروغه ده».

«څه درباندې شوي»؟

«نه پوهېږم، تبه او لړزه مو لرله او ستوني مو درد کاوه، ټول يې له پښو وغورځولو».

زما ملگرې وجيهې په شوخۍ او خندا وويل:

«نور کاکا، کرونا خو به نه ياست نيولي»؟

«څه وايې لورې، په دې ځای کې کرولا مرولا نشته. موږ له سهاره تر ماښامه په همدې باغ او شنو بوټو کې يو».

«پلار مې رښتيا وايي، که دلته کرونا وای بيا دا خلک کله دلته د مېلې او ساتېرۍ لپاره راتلل».

«شـــېرپاچا رښـــتيا وايي، د توتانو په وخت کې خو موږ بيخي ډېر ســـتړي وو، مېلمانه چې له کابل څخه له سهار راپيل شي بيا تر ماښامه ځي راځي».

«هو، همدا د توتانو لښتې دي چې ماتوو يې او دوډۍ پرې پخوو».

«ناشکري دې نه شي لورې، همدا زموږ د شپې ورځې کار دی».

د توتانو د مېلې د ورځې په يادولو ســـره پوهه شـــوم چې نجيب او څو تنه نور همکاران مو له همغې ورځې وروســـته ناروغ شول. زړه مې وغورځېد، موبايل مې را واخيست، وجيهې ملگرې ته مې زنگ وکړ:

«سلام خورجانې، غږ دې ولې نيولی ښکاري»؟

«پوښتنه مه کوه، د مرگ له خولې را ووتم».

«خدای دې نه کړي ولې»؟

«له هماغه مېلې وروسته، داسې ناجوړه شوم چې توبه».

«وجیهه جانې مه پسې گرځه ما هم له تاسې بدې ورځې تېرې کړې».

«څه وایې»؟

«باور وکړه، تر اوسه مې هم خونده نشته، نه په بوی او نه هم د خوړو په مزه پوهېږم».

«زه هم ستاســې په څېر وم، حال مې ســم نه دی، ټول بدن مې درد کوي».

له وجیهې ســره له خبرو پوهه شوم چې هماغه ورځ مې د توتانو له ټوکرۍ سره کرونا هم په ډالۍ کې راوړې وه.

چټې په چټې خندا راغله، نجیب ته مې زنگ وکړ، ورته ومې ویل:

«خدای خبر څومره کورنیو به زموږ په څېر د توتانو له مېلې وروسته له ځان سره کرونا هم خپلې کورنۍ ته په ډالۍ کې راوړې وي».

په خندا یې ځواب راکړ:

«هههههههه زه څه پوهېدم چــې بې ځایه مهرباني له ځورونې کمه نه ده».



## مات خوبونه

ماښام له خپلو ټولو زړه تنګيو سره راغلی او د رخشانې پر بستر يې د درد خړه برېــــتن غوړولې. خاوند يې طارق په سرو سترګو د خپلې تازه ناوې له کټ سره ناست دی او پرله پسې ساړه اسويلي باسي.

تر اوســـه يې له واده دوې مياشتې تېرې شوې نه دي نو ځوان زړه يې ځکه د مېرمنې د ناروغۍ تاب نه لري. رخشانه په تبه کې سوځي، له ستوني يې له درده ډکې اوږدې چيغې پورته کېږي:

«خدايه! مړه کېږم».

«خداى دې نه کړي زما رخشانې، دښمن دې ومره».

«ټول بدن مې درد کوي، بند په بند خوږېږم».

«ښه کېږې که خير و، صبر ولره».

د تودو او رڼو اوښــــکو څاڅکي يې د ســــترګو لـــه کونجونو دانه دانه راتويېږي. طارق د خپلې مېرمنې د درد او چيغو شـــاهد دی او په حيرانۍ ګوري چې مېرمنه يې د څو ورځې ناروغۍ له لاســـه څومره

ډنګره او کمزورې شوې ده. هغه احساسوي چې ټوله نړۍ ناروغه ده او ټول عمر یې له یوې تیارې شپې پرته بل څه نه و.

ماشـــوم و چې مور یې مړه شـــوه، پلار یې ډېر ژر بل واده وکړ او دی یې خپلې نیا ته وســـپاره. سره له دې چې نیا ته یې د خپلو سترګو پـــه څېر ګران و او ډېره پاملرنه یې ورته کوله، خو د مور تش ځای یې هېڅ کله هم ورته ډک نه کړای شو.

ور یادېږي چې د مور له مړینې وروسته یې د پلار مینه هم له لاسه ورکړې وه. پلار یې دومره له مېرمنې، اولادونو او ژوند ســـره بوخت و چې دا یـــې هېڅ په یاد نه وو چې د طارق په نوم هم یو زوی لري.

یادېږي یې چې یوه ورځ یې له خپلې نیا پوښتنه کړې وه:

«نیاجانې، پلار مې ولې له ماسره مینه نه لري»؟

«نیا دې ځار شه، مینه درسره لري، ولې به یې نه لري، داسې څوک شته چې له خپل اولاد سره مینه ونه لري»؟

«نو ولې یې یوه ورځ هم غېږ کې وانه خیستم او ویې نه نازولم»؟

«زویه په دومره خبرو پســـې مه ګرځه، نـــه وینې چې هغه غریب سهار وځي او شپه کور ته راځي».

«ماته یوازې تاسې کالي کوئ خو پلار مې خپل نور اولادونه بازار ته بیایي او ډول ډول جامې ورته اخلي».

«هی هی زویه، خدای دې د چا له سره د مور سیوری نه کموي».

نیا به یې هر وخت په پرېشـــانۍ ویل، خـــدای دې له هېڅ مومن او مســـلمان څخه د مور سیوری نه کموي او بیا به یې سوړ اسوېلی وویست.



طـــارق ته ور یادېږي چې په بیماریو کې به یې تل نیا په ځنګ کې وه او ده ته به یې پرهیزانه پخوله او له بوټو به یې درمل ورته جوړول؛ خو نور وروڼه او خویندې به یې چې ځنګه سر درد شول، پلار به یې په موټر کې کښېنول او له چاریکار څخه به یې کابل ته بوتلل چې په ښه ډاکټر یې درملنه وکړي.

هغه له ماشومتوب بیا تر ځوانۍ پورې، یو زر او یو محرومیتونه او نهیلۍ تجربه کړې دي. د ژوند له دې ټولو دردونو او ستونزو وروسته نیا یې د رخشـــانې رویباري ورته وکړه چې بیا یې مېرمن شوه، طارق خپلـــې ټولې پرېشـــانۍ او محرومیتونه د خپلـــې ځوانې او مهربانې مېرمنې تر ځنګ هېر کړل.

رخشانه دومره عاطفي  او مهربانه وه چې ان د طارق میره د هغې په ناروغۍ خپه وه. پوره یوه اوونۍ کېده چې رخشـــانه په بســـتر کې لوېدلې وه او په سخته تبه کې سوځېده. سره له دې چې د طارق پلار له کابل نه ډاکټر ورته راوســـتی و؛ خو درملو هېڅ ګټه نه ورته لرله او درد یې نه پرې کمېده. ځینې وخت به د کلي مېرمنې چې له مشـــرې خواښـــې ســـره یې پېژندل او ملګرې یې وې، لیدو ته راتلې او هرې یوې به د یوې دوا سپارښـــتنه ورته کوله. یوه ورځ یوې مېرمنې طارق ته وویل:

«طارق جانـــه! که زما منې ناوې دې یو ځل د کوهســـتان ملا ته وروله».

«تروري! کوم کار چې خدای ونه کړي ملا به څه وکړي».

«تا له پخوا هم عقیده نه لرله، د خدای ښښلې نیا له مړینې وروسته

دې، همدا چې موږ ستاسې له کوره لاړو، ټول د کټ شو، لکه د مرغانو ټوغکی ټول یو ځای ناروغه شوو، د خدای کړه وو او د همدې ملا دم او دعا چې موږ جوړ او روغ شوو».

د کلیوالې مېرمنې له تلو وروسته، طارق ته ور یادېږی چې رخشانه هم د نیا له مړینې وروسته ناروغه شوې وه او هغه مېرمنې چې د نیا د مړي په مینځلو کې یې برخه اخیستې وه هم ناروغه شوې.

ور په یاد شول چې د دوی په کور کې هم ټول ناروغ شوي وو، خو د رخشانې ناروغي دومره سخته وه چې د نورو دردونه یې پرې هېر کړل. سر یې د رخشانې په پښو کېښود او په چیغو چیغو یې وژړل. هغه له ځانه، له بخته او له ژونده گیله من و او شکایت یې کاوه:

«خدایه! له ما سره ولې داسې کېږی؟ څه گناه مې کړې چې دومره جزا راکوې؟ لومړی دې مور رانه واخیسته او له ماشومتوبه دې د پلار له مینې بې برخې کړم، نیا مې چې یوازنۍ تکیه او پناه وه هغه دې هم رانه واخیسته، ډېر صبر مې وکړ، زغم مې وکړ او څه مې ونه ویل، خو اوس د رخشانې د ناروغۍ تاب نه لرم».

رخشانې، نالبنت وکړ او په کمزوري غږ یې وویل، نفس اخیستی نه شم. طارق ولیده چې هغه لکه کب چې له اوبو وباسې ځان غورځوي، لاس او پښې وهي. د طارق ساه بنده بنده شوه. فکر یې وکړ، دا به یې د خوږې مېرمن د ژوند وروستۍ لحظې وي. په ډېر زړه نا زړه او بېچارگۍ یې پلار ته غږ وکړ».

«پلاره! پلاره! ژر راشه چې په رخشانې څه وشول».

«څه خبره ده زویه، ولې دومره چیغې وهې».

«پلاره که په رخشانه څه وشي زه هم مړ کېږم».

«خدای دې نه کړي، زما په نږور څه نه کېږي، ژر موټر چالان کړه چې کابل ته یې بوځو».

***

څو ورځې وروسته رخشانه د کورنۍ او ډاکټرانو له ډېرې پاملرنې وروســـته وکولای شول بېرته په پښـــو ودرېږي؛ خو اوس به هم ډېره ګنګسه وه او خوړو ته به یې اشتها نه لرله.

د کلي مېرمنو په نوبت پیرکي ورته پخول. چا د وطني سبو، نورو هم له کدو او یا کچالو ورته پخول. یوازې همدا خواړه یې خوښېدل هغه هم باید ډېر ترخه وای؛ څه چې یې هېڅ نه خوښېدل ویې خوري او نه یې غوښتل ان په خوله یې ولګوي، غوښه وه.

د بدن کمزوري او ټیټ فشـــار په ځلونو د دې لامل شو بې هوښه شـــي. په پای کې له ډېرو معایناتو وروسته معلومه شوه چې امیدواره هم ده.

دې خبر نه یوازې رخشانه او طارق خوشاله او هیجاني کړل بلکې ټوله کورنۍ یې په خوښیو کې ډوبه کړه او ټولو به ویل چې هلک دی که نجلۍ او نوم به یې څه وي. رخشانې به هره ورځ په ډېرې مینې او لېوالتیا ســـره خپل ماشوم ته چې نړۍ ته به راځي، جاکټونه او جرابې اوبدلې او جامې به یې ورته جوړولې. هره شپه به یې خوب لیده چې یو ښـــکلی ماشوم یې غېږه کې وي او ســـبا یې په زړه د هیلو غوټۍ ریښه نښلوي او شنه کېږي. طارق هم ډېر خوشاله و، دا چې هره ورځ



به د درزي له دوکان څخه راته، د ټوکر څو ښایسته او ښکلې ټوټې به یې خپلې مېرمنې ته ورکولې چې خپل نازولې ته جامې وګنډي. څو میاشتې وتلې وې چې یوه ورځ رخشانې ته ګاونډۍ مېرمنې په حیرانتیا وویل:

«لورې! خېټه دې نه لویېږي، څومره مې چې لیدلې وه اوس هم هماغه ډول ده».

رخشانه د ګاونډۍ مېرمنې د خبرې له کبله په اندېښنو کې ډوبه شوه، څو ځله یې په ډېرې وېرې سره په خېټې لاس تېر کړ چې لږ را وتلې وه».

«خدایه! زما ماشوم په خپله پناه کې وساته».

د شپې ډېره ناارامه وه او رنګ یې تښتېدلی و. طارق اندېښمن ورته وکتل او ویې پوښتل، ښه یې څه ستونزه خو به نه وي:

«نه پوهېږم طارقه، هېڅ ښه نه یمه او زړه مې بل ډول دی».

«ولې، څه شوي»؟

«نن د ګاونډي مېرمن راغلې وه...»

«نو څه وشول»؟

«ما ته یې چې وکتل، ویل یې خېټه دې څومره وړه ده، امیدواره نه ښکارې».

دې خبرې د طارق طبیعت هم خراب کړ. هوډ یې وکړ سبا خپله مېرمن کابل ته بوځي او په یوه ښه ډاکټره یې معاینه کړي.

کابل ته د دوی سفر تر ټولو تریخ سفر و؛ ډاکټر تر ټولو بد خبر

ورته ورکړ، هغه دا چې د مور په ګېډه کې ماشوم ژوندی نه دی. مور یې د کرونا ناروغۍ پر مهال، په خپل سـر درمل خوړلي او د ډاکټرانو له لوري هم ډېر درمل ورکړل شـوي؛ ځکه هېڅوک نه پوهېدل چې هغه امیدواره ده. د ډېرو او هر ډول درملو خوړل د ماشوم په زیان تمام شوي او هغه یې له ودې پرېښی دی.

طارق او رخشـانه، له یوه نړۍ نهیلیو سره چاریکارو ته لاړل. له دوارو خوب او ارام وتښتېد او ځای یې پرېشانیو ونیو. د رخشانې شپه او ورځ ژړا د دې سـبب شوه چې جنین سقط شي. د هغه ماشوم له لاسـه ورکول چې هېڅکله ونه زېږېد او د مور د غېږې بوی یې حس نـه کړ، د مور روحي حالت وځوراوه. د ماشـوم د وړو او رنګارنګ جامو جوړول چې په زرګونو هیلو سره جوړ شوي وو، رخشانه یې په لیدو هره ورځ ځورېده. یوه ورځ د طارق میره ورته راغله او ویې ویل چې د ګاونډي مېرمن یې لیدو ته راغلې:

«لورې! پورته شه څو دقیقې په انګړ کې وګرځو، وګوره د مرسل ګلونه څومره ښه غوړېدلي او یو ساعت به تر څپرې لاندې کښېنو، د ګاونډیانو مېرمنې هم ستا لیدو ته راغلې دي».

«هېڅ مې زړه نه کېږي بهر ووځم، خیر دی ما یوازې پرېږدئ».

«لورې! که ټوله ورځ د غم پـه زانګو کې وزانګې او په کوټه کې یوازې کښېنې، ماغزه دې خرابېږي، پورته شه بهر ووځو چې فکر دې په بله شي، پورته شه ګرانې»!

د کورنۍ مینې او مهربانۍ رخشـانې ته هـره ورځ نوی ځواک ورکاوه. مازیګـر چې به طارق هم له دوکانه راغی، رخشـانه به یې

د ارغــوان گلونو غونډۍ ته بېوله. طــارق پوهېده چې مېرمن یې پر گل غونــډۍ او ارغوان گلونو مینه ده، د بېرتــه راتلو پر مهال به یې شیریخ ورته اخیســت او ځینې وخت به دواړو د چاریکارو په بازار کې گرځېدل او سودا به یې اخیسته او خوشاله به کور ته راستنېدل.

پــه پای کې د گل غونــډۍ ارغوان گلونه د هوا په تودېدو ســره ورژېدل؛ خو د رخشــانې په بدن کې یو ښایسته گل په غوړېدو شو، هغې احساس وکړ چې بیا هم په خپل بدن کې یو ماشوم روزي.

اوس یې هم کورنۍ په دې هڅه کې وه چې رخشانه له هر پلوه د ارامۍ احســاس وکړي؛ ځکه ټول په دې پوهېدل چې سالم ماشوم د خوشاله او تندرستې مور په بدن کې وده کوي او لویېږي.



## د دنیا نانځکې

یو څوک په لاسونو د ونې وچ ښاخونه ماتوي: ترک، ترک، ترک. د وچو ښاخونو د ماتېدو غږ هغه ورځې را یادوي چې بلخ ولایت ته له جګړو تښتېدلي وو.

مازیګر به مې له ترور سره چې په هغه وختونو کې مورږ ټولو په یوه کور کې ژوند کاوه، بوټي او وچ ښــاخونه په همدې ډول ماتول او په تناره کــې به مو اچول. له تناره څخه به چې اور پورته کېده او د هغو بوټو بوی چې ســوځېدل به په هیجان راوســتم. هېڅ نه پوهېږم چې هغه بوټي څه نومېدل؛ خو مــوږ به غرني بوټي ورته ویل. دې غرنیو بوټو دومره ښــه بوی لاره چې د اور اخیســتو پر مهال به یې د انسان روح په مستۍ راوسته.

د لرګیو او وچو ښــاخونو ترک ترک ماتېدل، ما د هغه چا خواته بیایي چې د ویالې په پورې غاړه کې د چنار تر یوې لویې ونې لاندې ناســت دی. یو سپین ږیری وینم چې په خپلو خیالونو کې ډوب دی

او تر ځنګ يې وچ او مات شوي ښاخونه پراته دي:

«سلام بابا جانه»!

«سترې مشې لورې».

«جوړ اوسې باباجانه، له هغې شپې چې مې د لرګيو د ماتېدو غږ واورېد، طاقت مې ونه شو ان د ويالې له هغې غاړې دلته راغلم».

«خير يوســـې د بابا د سترګو توره. موږ خو خپله ورځ له همدې لرګيو سره تېروو».

«رښـــتيا بابا، د څه په اړه دې فکر کاوه چې زما په راتلو هېڅ خبر نه شوې، تر دې چې ما غږ در باندې وکړ»؟

«هی هی، اندېښنې خو کمې نه دي».

«باباجانه بيا هم...»

« ګرانـــې، همدا اوس مې د تېرو وختونو په اړه فکر کاوه، د هغو ورځـــو په فکر کې ډوب وم چې په دې پولو او پټيو بکې به خلک نه ځايېـــدل، هغه د درواغجنو خبره چې ســـتن به دې وغورځوله نه به ځايېده».

«نو اوس ولې دومره ارامي او چوپتيا ده»؟

«هی هی، خلکو شکر ونه کړ...»

«د څه شي شکر»؟

«د خپل روغ بدن شـــکر، د هغه وخت شـــکر چې له خپلوانو او قوميانو سره به يې ليدل».

«نو بابا تاسې فکر کوئ دا ټول د خلکو د ناشکرۍ پايله ده»؟

«بلکل.»



«رښتیا بابا، زړه مې تنګېږي، وایه د دې کلي خلک چېرته تللي»؟

بوډا دومره ګونګې خبرې کولې چـــې په مفهوم یې هېڅ پوهه نه شوم. د ویالې د اوبو د څپو غږ په قوت سره اورېدل کېده چې اړ وم له بابا سره په لوړ غږ خبرې وکړم.

په زړه پورې شـــمال لګېده، د چنار ونې څو لویې او ښکلې پاڼې زما په اوږو او د بابا پـــر ګونډو را ولوېدې. پر دې ونې او پر پاڼو یې چې د منګولې غوندې دي، مئینه وم. د اوبو غږ، د ونو د پاڼو شور او د کلي ارامي، پر ما جادو کړی و او په ټول وجود سره مې په دې کلي پورې زړه تړلی و. وامې ورېدل چې بوډا غمجنه زمزمه کوي:

شیرین عمر چې تېرېږي تېرېږي دریغه

د اوبو په څېـــــــــر بهېږي دریغه

«بابا، تاســـې بختور یاســـت چې یو څو ورځې خو مو ارامي او خوښي ولیده»!

«له توپان مخکې ارامي، له توپان مخکې ارامي...»

«باباجانه که رښتیا ووایم، په هدف دې سمه پوهه نه شوم»!

« بابا ته ګرانې، هماغه څو ورځې ارامي ستاسې په وینا، همدې ناارامیو ته لاره برابره کړه».

له تاسې څه پټه، د بابا په کیسو کې ورکه شوې وم، هر څومره یې چې کیســـه کوله لار ورکې کېدم. پام مې شـــو چې د کورتۍ له جېبه یې، چې رنګ یې هېڅ نه معلومېده، یو پړی را وویست او د ښاخونو او وچو بوټو په تړلو یې پیل وکړ. احســـاس مې وکړ چې دومره بار د بابا د اوږو له وسه بر دی. د وچو ښاخونو پنډ مې شا ته کړه:

«بابا، اوس مخکې څه چې له شا درپسې یم».

«په عمر دې برکت شـــه، رښتیا نن مې هېڅ په وس کې نشته چې دا لرګي تر کوره ورسوم».

«ههههههـــه باباجانه په خـــدای ګران یـــې، دا دی زه یې درته را ورسولم».

«موږ ګناهګار بندګان یو، نا شکره بندګان».

«خدای دې خیر پېښنوي بابا، خدای لوی او ښښونکی دی».

«بې شکه بې شـــکه بابا ته ګرانې، له دې دېوال راتاو شه، همدا زموږ غریبانه کور دی».

«ښنګه غریبانه بابا، نام خدا ښومره شین او له ونو ډک انګړ لرئ».

«شکر کوم. شکر دی».

«اوهو، د برنډې په سر مو ښومره نانځکې کتار کړې دي، دا کار خو دې لمسۍ کړی کنه بابا»؟

«هو، هو، دا مې د لمسۍ کار و، دا نانځکې او دا د لوبو سامانونه د دنیا و. زما د دنیا ».

«دنیا»؟

«هو، دنیا مې یوازنۍ لمسۍ وه، خدای مې زوی ته له لسو کلونو وروسته یوه لور ورکړې وه».

«ورکړې یې وه؟ یعنې څه بابا، دنیا اوس چېرته ده»؟

«هغه خدای له موږ څخه بېرته واخیسته...»

«ولې ولې، په دنیا څه وشول»؟

«اخخخخ، دنیا لاړه او زموږ زړونو ته یې هم اور ورته کړ او ورځ

یې را توره کړه».

«په دنیا څه وشول بابا»؟

«خدای دې د کرونا کور وران کړي، موږ په کرونا د مرګ له ویرې ونه توانېدو دنیا واکسین کولو ته بوځو. همغه وه چې هغه د زړه ټوټه مو ناروغه شوه او له موږ ډېر ژر لاړه».

د بوډا په سترګو کې اوښکې ډنډ شوې. د هغه د غم او پرېشانۍ لیدو زه هم دردمنه کړم. له ځانه سره مې فکر کاوه، دې وینه زبېښونکي ویروس به نورې څومره کورنۍ په غم کښېنولې وي.

له کوره مې تته کړېکه واورېد چې له درده ډکه وه:

«یا مولا، دلم تنگ آمده

شیشهٔ دلم ای خدا، زیر سنگ آمده

یاران و برادران مرا یاد کنید

تابوت مرا ز شاخ شمشاد کنید

یا مولا، دلم تنگ آمده

شیشهٔ دلم ای خدا، زیر سنگ آمده»

د اواز په اورېدو مې غوني ځیږ شول، په تلوسې سره مې د غږ څښتن لټاوه، ځیرک بوډا چې راته ځیر و، ورو یې راته وویل:

«دا مې بېچاره نږور ده چې هره ورځ د لېونو په څېر، برنډه جارو کوي او بیا د خپلې دنیا نانځکې راوړي او دلته یې کتاروي».

«توبه خدایه، څومره سخته ده»!

«ډېره سخته ده ډېره، ځینې وخت دریا هم راوړي او نانځکو ته یې وهي. بیا د لېونو په څېر خپل مخ او وېښتان شکوي.

«اخخخخ، بېچاره مور»!

«ځینې وخت داسې د زړه له سوخته ډکې سندرې وایي چې د ډبرې زړه هم پرې سوځي.»

«افرین یې، دا چې ژوندۍ ده، دا هم لویه خبره ده.»

«همداسې ده، خو یوازې په نوم ژوندۍ ده.»

«بس نو، خدای ج له لسو کلونو وروسته یو اولاد ورکړ او په هغې هم دا بلا راغله، اسانه خو نه ده».

بوډا وویل، د کلي د بې کسۍ او چوپتیا دلیل هم همدا کرونا ده. خلک د ځان له وېرې نه راوځي او ماشومان یې هم په کورونو کې بند کړي دي.

احساس مې وکړ، هغه ډېر بوډا او سپین ږیری دی. په غریو نیولي غږ یې د هغې شپې په اړه چې دنیا یې ناروغه وه وویل:

«عجبه توره تروږمۍ وه».

«بابا هماغه شپه یادوې چې لمسۍ دې ناروغه وه»؟

«هوکې، هماغه شپه چې دنیا مې ناجوړه وه، زموږ دنیا ناجوړه وه».

«څه پرې شوي وو».

«مخ و ځټ سره اوښتې وه.»

«وووووووی شری پرې پورې وه.»

«هو، داسې شری مې په خپل ټول عمر کې لیدلی نه و.»

«تبه یې هم وه»؟

«هی هی، هر څه چې کوم له هغې بدې شپې وتښتم او هېره یې

کـــړم نه کېږي چې نه کېږي. هغه زموږ نازولې ماشـــومه، هغه زموږ يکدانه د تبې په اور کې سوځېده.»

«اوففففف تبه يې دومره لوړه وه؟»

«لوړه وه، تبه يې ډېره لوړه وه، دريغه يوازې تبه يې لرلای، ماشومه مو د سرخکانو تر څنگ له خولې او لمنې هم وه.»

«وووووووی، يعنـــې هم يې نس ناســـتی درلـــود او هم يې زړه بديده»؟

«هو، په خېټه کې يې هېڅ هم نه پاتې کېدل، خواړه يې گرځول، ماښام يې معده خرابه شوه، له بده مرغه چې په هغه شپه يې پلار هم په کور نه و او کابل ته تللی و».

«په کابل کې يې څه کول»؟

«د دوکان سودا يې خلاصه شوې وه، د دوکان په سودا پسې تللی و».

«نو چې داسې وه، دنيا يې هم بايد د درملنې لپاره له ځان سره بېولې وای»!

«هی هی، انســـان بې پروا دی، هغه وخت مې چې زوی کابل ته سفر کاوه، دنيا يې لکه گل داسې جوړه وه، هېڅ مې له ياده نه وځي، کله يې چې پلار په غېږ کې واخيســـته او له مخ يې مچو واخيسته، پلار ته يې خندل او سترگې يې داسې رپولې چې توبه.»

«اوفففففف بېچاره پلار يې.»

«امممـــم پلار بېچاره يې له کابل څخـــه د خپلې دنيا لپاره ډول ډول نانځکې، جامې او د لوبو توکي راوړي وو...».

ژړا وار ور نـــه کړ، ډنگرې اوږې يې له ډېـــرې ژړا په لړزه وې او



ټکان یې خوړ. د تســـلۍ لپاره مې هېڅ کلمه پیدا کوی نه شوای چې د غـــم له څپو یې رابهر کـــړم. د بوډا او ناوې لپاره مې زړه درد وکړ. د خپلو خلکو په ژوند او بدو ورځو ژړا راغله، هسې خو هم خلکو لږو امکاناتو ته هم لاسرســـی نـــه لاره؛ اوس چې دا بلا راغلې، خلک په بشپړ ډول بېچاره شوي دي.

غوښتل مې له بوډا سره خدای په اماني وکړم، په ډېرې هیلې یې له لستوڼی کش کړم او ویې ویل:

«راشه دلته سیوري ته کښېنه.»

«ژوندی اوسې بابا، نوره ځم.»

«کښېنه، ژوندی یم چې داسې درته وایم.»

«بابا، اوس ځم، بیا دې کوم بل وخت لیدو ته راځم.»

«د بابا د ســترگو توره چېرته ځې، کښبــېنه چې یو گیلاس وطني شیدې درته تودې کړم.»

بوډا دومره په مینه رانه هیله وکړه چې کښبــېنم، ډوډۍ او شـــیدې ورســـره وخورم چې نور مې ونه شو کړی غوښتنه یې رد کړم. د بوټي بوی چې له جوش شـــویو شیدو سره یو ځای شو، ځان ته ور جذب کړم. په ټول عمر کې مې داسې خوندور خواړه ډېر لږ خوړلي وو.»

کله مې چې له بوډا ســـره خدای په اماني وکړه او له کوره یې بهر شـــوم، په ټوله لاره مې په دې ترخه کیسه فکر کاوه او غوښتل مې د دې بوډا او نازولې لمســـۍ کیسه ولیکم؛ افســـوس چې د کیسې او داســـتان لیکل اســـتعداد غواړي او زه تر اوسه ان توانېدلې نه یم، یوه خاطره ولیکم.



## خوبونه

همــدا نن د ســختې چاودنې په غږ له خوبه را ولټېدم. تر اوســه مې د خپلو فکرونو په راټولولو نه یم توانېدلې. ذهن مې ســخت ګډوډ دی. غواړم له بیدارۍ وتښــتم او خوبونو ته مې پناه یوسم؛ اوففففف، خوبونه مې هم له خپسو ډک دي. خوب مې لیده چې وېښتان مې ګېډۍ ګېډۍ تویېــږي، نه نه، دا خوب نه دی، د بیداري غوندې ده. له هغې بلا او افت وروسته چې کرونا یې بلله وېښتان مې تویېږي. باور وکړئ چې د وېښتانو له رژمنځولو وېرېږم، که یې په تشخیص کې کرونا محرقه لیکلې، د ډاکټرانو ګناه نه وه. دغه چټله ناروغي انسان هم له د ننه خرابوي او هم په اور کې یې سوځوي.

دهلیز مو په روښــانه ګلابي رنګ فرش شوی. د فرش رنګ د دهلیز د غولي د څنډو له خط سره یو شی دی او لیدونکي ته ښه احساس ورکوي. پښې مې ورو ورو پر دې فرش کېکاږم او هیندارې ته مخامخ درېږم:

«وووووی، مخ مې زېړې منې ته ورته دی چې له د ننې خرابه شــوې،

یعنې زه له یوې وروستې او آفت وهلې منې پرته بل څه نه یم».

لومړی ځل مې د کرونا ویروس نوم له رســنیو واورېد. کرونا، چین او ووهان ټولو له یو بل سره تړاو درلود. هېڅ راته مهمه نه وه چې دا ویروس څه دی او څه یې له لاسه کېږي. فکر مې کاوه چین له موږ دومره لرې دی چې موږ ته هېڅ د اندېښنې ځای نه پیدا کېږي.

هغه وخت زموږ په زړه کې وېره پیداشــوه چې وامورېدل هره ورځ له ایران څخــه په زرګونو کورنۍ وطن ته راځــي او د ځان له وېرې بیا هم همدې جګړه ځپلي هېواد ته پناه راوړي.

چنان قحط سالی شد اندر دمشق

که یاران فراموش کردند عشق

ټوله ورځ مې دا بیــت په ژبه چلېده او په تعجب مې ورته کتل چې د کورنیــو غړي د مینې او محبت وچکالي تجربه کــوي او هم له یو بل نه وېرېږي او لرې ګرځي. کېدای شــي مبالغه درته ښــکاره شي، خو رښتیا رښتیا دي چې یوه ګاونډي مو په غټو کرښو پر دروازه لیکلي:

**ګرانو ملګرو او دوستانو! پوه شئ چې مینه درسره لرم؛ خو د کرونا تر پای مو له راتګ ښښنه غواړم.**

هېچــا فکر نه کاوه په ژوند کې دې داســې کوم څه تجربه کړي او ان د ټولو طریقو او فرهنګي ارزښــتونو پر خلاف دې د مېلمه له منلو چې د خدای ج دوست دی ډډه وکړي.

له الماری مې وړه راډیو را اخلم. د اشارې ګوته مې پر هغې بټن چې څپې پرې بدلېږي څرخي. د احمدظاهر غږ اورم چې د بلخي مولانا شعر وايي:

**رو سر بنه به بالین، تنها مرا رها کن**
**ترک من خراب شبگرد مبتلا کن**

احساس کوم شــعر زما دی او دا غږ هم زما له ستوني وځي. کېدای شـــي دغه حالت ډېرو کسانو تجربه کړی وي او ناروغۍ یې روح شونډو ته را رسولی وي.

وړه تــوره راډیو مې د خوب په تخــت ږدم او د رهنور زریاب کتاب (چهار گرد قلا گشــتم...) ته لاس وړم. کتاب مې پای ته رســولی و. د لیکوال په وینا د روزگار یو حکیم ناروغ دی، کله یې چې پلار ترکي ډاکټر بستر ته راولي، هغه ورته وایي چې زوی یې د محرقې ناروغي لري. دغه وړوکی حکیم چې کله د خپلې ناروغۍ نښې وایي، له کویډ ۱۹ سره چې خلک کرونا ورته وایي هېڅ توپیر نه لري، سخته تبه، ځان دردي او...

پوره دوه اونۍ کېږي، کوټه کـــې مې بیخي یوازې یم. همدا چې له کوڅې د ماشومانو غږ اورم، زړه مې په شور راځي، زړه مې غواړي د خپل عادت خلاف کوڅې ته ووځم او هر ځومره ماشومان چې کوڅه کې دي ټولو ته موسکا او سلام ډالۍ کړم:

«د دې مستو او شوخو ماشومانو په خندا او شوخیو پسې ځومره خپه شوې یم».

د خیال پلوونو ډکه بوجۍ په شا کوم او د کړکۍ څنګ ته ځم. د کوټې ســـرمه یي پرده ورو څنګ ته کوم. سترګې مې په ګاونډۍ مېرمنې لګېږي چې له دریو پېغلو لوڼو سره یې د کور فرشونه وینځي. څو ځله کړکۍ په زوره بنده او پرانیزم چې د هغوی پام را واړوم او یو څو دقیقې د زړه خواله ورســـره وکړم. اخر د کړکۍ له څو ځله خلاصولو او بندولو له غږ سره، د

گاونډي د مېرمنې پام شو او په خندا يې سلام راته وکړ. ما ورته وويل:
«سترې مشې، فرشونه مينځې»؟
«ژوندۍ اوســـې، مجبور يو ويې وينځو څه وکړو چې ويې نه وينځو خو بوی کوي».
«رښتيا وايې، له ژمي وروسته خو هرڅه ککړ او خيرن وي».
«امممم دا دی نوروز هم له خيره نژدې دی».
«هو، څو ورځې وروسته له خيره نوروز دی».
د دې جملې په اورېدو، د هغه کور مشره پېغله چې حقوق او سياسي علوم يې لوســتي او څو مياشــتې کېږي په يوه دفتر کې کار کوي، خپل ټکری تر غاړې لاندې کلک غوټه کوي او په شوخې خندا سره وايي:
«تــروري! کال څه چې ان پېړۍ بدلېږي، څومره په زړه پورې ده چې موږ تاسې ذوالقرنين يو».
تر دې وړه خور يې تکراروي:
«ذو القرنين ذو القرنين! يعنې چې موږ دوه پېړۍ وينو»؟
تنکۍ پېغله يې هم شوخ طبيعت لري او خبرو ته په خندا ادامه ورکوي:
«چونګښې هم ذو حياتين دي هههههههه ذو حياتين.».
وېرېږم د کار مزاحمت يې ونه کړم؛ بيا هم لږ په تشريفاتو سره وايم:
«که مرستې ته اړتيا لرئ، زه هم لستوڼي بډ وهم»؟
«نه خورې، ته کله جوړه يې، د کال دوولس مياشتې درمل خورې».
نـــه پوهېږم چې د گاونډۍ پـــه دې خبره مې ولې پـــر خپل ځان زړه وســـوځېد. ژر مې خدای په اماني ورسره وکړه او بېرته مې خپلې کوټې ته پناه يوړه. ځان مې په خپل زوړ تخت چې له ډېر زوړوالي څخه يې لرگي



له یو بل بېل شوي او ژغ ژغ کوي وغورځاوه، مخ مې په بالښت کېښود او په چیغو چیغو مې وژړل.

دغه اوښکې نه پوهېږم د څه لپاره وبهېدې. د زړه تنګي او که د کورنۍ د نه مینې له کبله. یادېږي مې په دې ټول وخت کې مې زامنو له بهر څخه یو دوه ځله او خور مې هم یو ځل زنګ وهلی.

زوم مــې د پردیو غوندې، زما د اړتیا ســودا په اوونۍ کې یو ځل راته راوړي او هغه هم د بلاک له دروازې سره ږدي، داسې نه چې زما د کرونا ویروس پرې سرېښ شي. لور مې ان یو ځل هم خبر نه دی اخیستی او نه یې پوښتنه کړې چې ژوندۍ او که مړه یم. کېدای شي وېرېږي به د مبایل له لارې کرونا ور نه شي:

«هی هی، ځان څومره خوږ دی»!

یادېږي مې د کورنۍ د هېڅ غړي یوه ورځ ســر دردي مې زغملای نه شوای او د هر یوه لپاره مې بېلې بېلې منذې کړې دي او سترې مې ګاللې دي. نن چې د سلام او کلام اړه یم هېڅوک مې کیسه کې نه دي:

«دا چې دغه نړۍ زموږ د عمل غبرګــون دی دروغ دي، دا هم دروغ دي چې دنیا زموږ د ټولو کړنو هینداره ده، دا هرڅه له دروغ او چل پرته بل څه نه دي، دا ټول دا ټول».

فکــر کوم مخامخ یې «بوف کور» راته ویســتی دی او د دې رومان د مبهمو کرښــو تر منځ ورک شــوي یو. ټولو ښکلاوو ته د شک په سترګه ګورو او فکر کوو که یې پرده له مخ لرې شــي، یوازې د بدچلند ورې یو او بس.

د تــرکاري پلورونکي د موټر غږ مې له ناروغــۍ ډوله خیال پلو بهر

کوي:

«گندنـــه گېډۍ په لس، پالک په لس. غټ غټ کچالو، وطني ســـره کچالو، زېړچکی پیاز، قلمي بادرگ...»

د ســـختې لوږې حس مې څوروي، د کمزورۍ او ناتوانۍ احساس کوم:

«دریغه یـــو دوه د گندنې پیرکي وای، نازک نـــازک، وچ وچ او تاوده پیرکي چې گندنه یې له بهره د ننه ښــکاري. ترخه پیرکي د سرو مرچو له چکني سره».

د دروازې ټک ټک مې بېرته خپل حال ته راولي، احساســوم چې زړه مې خوندورو او ترخو خوراکونو پســـې سولېږي. توره پلاستیکي کڅوړه چې د پیپسي یوازې څو تش قطۍ په کې دي، په لاس کې اخلم او غواړم هغه ماشوم ته یې ورکړم چې کثافات ټولوي.

احساسوم لاسونه مې ســـخت لړزېږي، را په یادېږي چې په دې دوو اوونیو کې مې ان دوه ځله هم په پوره اشـــتها ســـره خواړه خوړلي نه دي. حیرانېږم چې له دې ټولو ورځو وروسته مې اشتها ولې دومره ښه شوې او خوړلو ته سخته لېوالتیا لرم.

په لړزېدلو لاســـونو مې د اپارتمان دروازه پرانیزم او د کثافاتو کڅوړه ورته ورکوم. د لور خندا مې سخته حیرانوي:

«له مور مې ځار شم چې پر ما یې د کثافت والا خیال وکړ».

«وئ لورې تـــه یې.... ته څنگه راغلې. هلـــه لورجانې لرې ودرېږه، هله».

«هههههههههه ځار دې شم مورې، ولې لرې»؟

«ځکه چې زه په کرونا اخته یم، ځکه چې زه ناجوړه یم...»

«دښمن دې ناجوړ شه مورې».

«لورې! ته خپله یې که زه خوب وینم»؟

«مورې! دا خبرې مه کوه چې بیا ژړا راځي».

«د څه شي ژړا، ژاړې خو هغه څوک چې زړه ولري، ژاړي هغه څوک چې یوه ذره مینه ولري».

«داسې مه وایه مورې چې زړه مې چوي».

«بیا وایې ؟ ته او زړه؟ په کومه لاره چې راغلې یې بېرته پرې لاړه شه، دلته ماته ځان مه ښیه، څه چې اولادونه او نازولی مېړه دې ناروغ نه شي، څه چې زه مې دروازه بندوم».

«مورې! ولې داسې کوې»؟

«بیا وایې ولې».

«زما خبره خو واوره، هر ورور مې زنګ کاوه ویل یې، پام چې مور ته نژدې ور نه شې، له دې ناروغۍ څخه ټول د مرګ تر کچې وېرېدل...»

«نو اولادونه د همدې لپاره لویوو؟ که پر ما څه کېدی راباندې خبرېدئ هم نه...»

«خدای دې نه کړي مورې داسې مه وایه».

درېدی نه شوای، په سترګو مې تیاره راتله. لور مې چې په حال پوهه شـــوه ژر یې له لاســـه ونیوم او خپلې کوټې ته یې بوتلم. د مېوې یو لوی ګیلاس اوبه یې راته جوړې کړې، د مېوې اوبه مې په وحشي ډول وڅښل. بیا پخلنځي ته لاړه او له یو غوري تودو پیرکیو سره بېرته راغله:

«وووووی له خدای مې ځار کړې چې د خېټې غړ څومره ژر اوري».



«پوهېدم مورې چې اوس شکر ښه يې. سهار وختي مې په دروازه کې څو ګېډۍ ګندنه واخيسته، ميده مې کړه، نل کې اوبه راتلې، له لس ځله ډېره مې ومينځله او د مالګې په اوبو کې مې کېښوده، واخله وخوره دارو دې شه».

«ښه خو اوس کيسه وکړه چې دا ډېرين زړه دې څنګه نرم شو او خواته مې راغلې»؟

«مورې! ټولو ويل د کرونا ناروغ له دوو اوونيو وروســته ښه کېږي، دا دوه اوونۍ شپې او ورځې شمېرلې».

«راتلی خو نه شـــوې، څه کېدل چې په ورځ کې دې يو ځل زنګ راته کړی وای او زما خبر دې اخيستی، که نه ځان دې دومره درته ګران و چې فکر دې کاوه د ټليفون له لارې دې هم زما ناروغي نيسي»؟

«ځار دې شم مورې، مبايل مې وسوځېد، زوی مې د خپل پلار د چای په ګيلاس کې واچاوه او وسوځېد».

«ښه نو داسې»؟

«ښه نو، بيا هغه دومره هوښيار هم دی چې ورته ومې ويل، زما مبايل دې وســـوځاوه، په ګيلاس کې يې لاس کړ، ويل يې دا چای کله ګرم دی چې مبايل دې وسوځوي هههههههههههههههههه».

«هههههههه ځار يې شم، څنګه مې زړه ورپسې خپه شو».



## د مور تش مقام

هوا گرمه شوې ده. له چاپېریال د غم او ماتم بوی پورته کېږي. چڼچڼکه د گاونډي د بام پر ژۍ ناسته ده او په یوازې ځان کوکوکوکوکو چیغې وهي. د امنې سترگې د رنگارنگ کوترو د سترگو په څېر دي چې د مخامخ گاونډي پــه تخت بام یې، تنکی ځوان زوی ټوټې په ډانگ پورې تړلې او کوترې پرې الوزوي.

د سور خال لرونکو کوترو هېڅ زړه نه کېږي چې د بام له څنډې والوزي او د اســمان په لور لاړې شي؛ خو تنکی ځوان یې د ډانگ او کیش کیش په زور الوتلو ته اړ باسي.

امنه د کوترو له منظمې او ښایسته الوتنې خوند اخلي او خوښېږي یې. تل یې د کوترو غومبر او وزرې پړکول خوښېږي، په یاد یې دي چې په ماشومتوب کې یې سپینې کوترې لرلې چې تور خالونه یې لرل.

په یاد یې دي چې د کوترې سترگې یې دوه رنگه لرل او ځینې وخت به دې ته حیرانه وه چې د یوې کوترې سترگې څنگه دوه رنگه لرلای شي.

امنه له بهره ســـترګې راټولوي او دننه پر کوټه یې خوروي او د مور د تش ځای په لیدو له غمجنو سترګو یې اوښکې بهېږي او سوړ اسوېلی کوي. بې ارادې چیغې وهي:

«خدایه ولې؟ خدایه ولې»؟

ژړا وخت نه ورکوي. په لوړ غږ په چیغو چیغو ژاړي. هرڅه یوه وېروونکي خوب ته ورته دي، په دردمن غږ وایي:

«خدایه! دریغه دا هرڅه په رښتیا یو خوب وای»!

«هیڅ مې باور نه کېږي چې مور مې نوره نشته».

پر کړکۍ خړه پرده راکشوي او د کوټې په بر کونج کې کښېني، له درده ډک سر پر زنګنو ږدي. سترګې یې یوه ټکي ته ځیر کېږي. ور یادېږي چې یوازې همدا څو ورځې مخکې یې مور ورته ویلي وو:

«لورې، اوچت بخت دې په نصیب شـــه، مور دې د کور او جوړې غم خوړلی...»

«مورې، بیا دې هماغه کیســـه پیل کړه، څومره درته ووایم چې زه اوس واده نه کوم».

«مور دې ځار شـــي، مقصد ما خپل دین پوره کړ، حق را باندې لرې او هماغه څه چې اړین دي، هماغه مې درته اخیستي او تیار کړي دي».

امنه هغه بکس ته ځیر کېږي چې د کوټې په کونج کې ایښودل شوی او احساسوي چې زړه یې په سینه کې د ننه اور اخیستی:

«دریغه په یوه بله ځمکه کې زېږېدلې وای، دریغه چې په دې وطن کې نه وای»!

ور یادېږي چې دوې اوونۍ مخکې یې مور ناروغه شوې وه او یوه ورځ سهار د وخته د خپلې مور په زګیروي له خوبه را ویښه شوې وه:

«مورې مورې! څه درباندې وشول»؟

«سر مې، اخ سر مې له درده چوي».

«ودرېږه مخ مې ومینځم، اوس به ډېر ژر د درد درمل درکړم».

«درمل مرمل ګټه نه کوي، له بېګا تر سهاره مې د درد څو ګولۍ خوړلې دي؛ خو د ستنې د سر په اندازه ګټه یې هم نه ده کړې».

یادېږي یې چې د مور حالت یې شېبه په شېبه خرابېده. پلار په پرېشانۍ یوه شخصي روغتون ته یوړه. ډاکټر له کتنې وروسته یوازې دوه درې قلمه د درد درمل ورکوي او بس.

مور یې زړه بدوالی او شدیده تبه هم پیدا کوي او له اشتها لوېږي:

«مورجانې! یو غړپ یخني وخوره چې درمل دې درکړم».

«اوففففف نو ارام ته مې نه پرېږدئ، درته ومې ویل، مړه یم او هېڅ شي ته مې هم زړه نه کېږي».

«څه دې خوړلي چې مړه یې؛ پورته شه مورجانې».

«نجلۍ! ته خو هېڅ په خبره نه یې، پرېږده چې سر مې کېږدم، د ډوډۍ بوی راباندې بد لګېږي».

د امنې مور ژر له پښو لوېږي او سخته نفس تنګي ورته پیدا کېږي. پلار یې چې ډېر پرېشانه دی، څو کلینیکونو او روغتونونو ته یې بیایي؛ خو هېڅ روغتون یې نه مني، وایي چې هغه په کرونا اخته ده او دوی اړین وسایل او د اکسیجن ماشین نه لري؛ د امنې پلار چیغې وهي:

«تاسې مسلمان یاســـت، مېرمن مې مړه کېږي او تاسې په دومره نوم او

نشان سره یو د اکسیجن ماشین نه لرئ».

«راځه پلاره! له دې ځایه لاړ شو، ماما مې زنګ وهلی و چې افغان جاپان روغتون ته یې یوسئ چې د کرونا ناروغانو لپاره دی».

پلار او لور له بلا اندېښنو سره یو ځای د افغان جاپان روغتون ته روانېږي.

«پلاره! دلته څه حال دی، دومره ګڼه ګوڼه، وګوره ټول ناروغان یې بهر را ویستلي».

«لورې، بده ورځ راغلې خان او فقیر ټول دې روغتون ته اړ شوي دي».

یـوه لویه برخه ناروغان د روغتون په انګړ کې په ځمکه او یو شـمېر په بسترونو پراته وو. کم کسان د اکسیجن له بالونونو سره وصل شوي وو. ډېری نورو ناروغانو هم اکسیجن ته اړتیا لرله خو اکسیجن نه و. په همدې مهال یو ډېر لوکس موټر په ډېرې چټکتیا سره د روغتون په انګړ کې ودرېد. څو تنه په بیړه ترې راښـکته شول او د موټر له شا دروازې یې یو بوډا راښکته کړ. همدا چې امنې او پلار یې تازه هوډ درلود، د ناروغانو له منځه د اصلي ودانۍ په لور لاړ شي. هغو کسانو بوډا ناروغ په وېلچر کې کښېناوه، د بوډا ساه بنده بنده کېده، په بیړه د روغتون د انګړ په لور راغلل. امنه او پلار یې اړ شول د امنې مور لږ شاته یوسي چې هغوی یې له څنګه تېر شي. ناڅاپه له ودانۍ چیغې پورته شوې. له ودانۍ څو تنه سپین چپن والا را ووتل، یوه یې چیغې کړې:

«وه خلکو، څو ځله درته ووایو، نور ځای نشته. تاسې نه وینئ چې ان په انګړ کې هم ځای نشته، ناروغان مه راولئ، ناروغان دلته مه راولئ، مړه کېږي. اکسیجن نشـــته، ډاکټر نشته، نرس نشته، درمل نشته، بستر نشته، د خدای په لحاظ په کومه ژبه درته ووایم»!.

تازه راغلي کسان لږ ورو شول. یو یې په ورو قدمونو د سپین چپنو لور ته



لاړ:

«ډاکټر صیب، پلار مې وروستۍ ســـاه باسي، د خدای په لحاظ یو کار وکړئ...»

امنې نور د دوی غږ نه اورېده. د هغه غږونو پر ځای د ناروغانو زګیرویو غوږونه ور ټپ کړل. په پوره بېچارګۍ سره یې په انګړ کې ناروغانو ته کتل. ټول ځایونه له ناروغانو ډک وو. یوه به تېزه تېزه ساه ویسته او یوه به ژړل. نور په ځمکه، په توشکو یا کمپلو ویده وو. په هماغه ډول یې خپلې مور ته وکتل چې په ویلچر کې بې حاله ناســـته وه. پلار ته یې وکتل، پلار یې د دې ننني احساسات په سترګو کې کتل:

«پلاره، راځه له دې ځایه لاړ شو».

«لورې چېرته لاړ شو، دا هماغه روغتون دی چې شپه او ورځ یې تر سل ډېر اعلانونه خپرېږي».

«رښتیا یې ویلي چې د ډول غږ له لرې ښه لګېږي».

«اې خدایه، څه پوهېږم چې پر موږ به څه وخت رحم کوې»؟

«هره ورځ خبرونه اورم، له کرونا سره د مبارزې لپاره څومره نقدي مرستې کېږي؛ خو نه پوهېږم چې دا ټولې پیسې چېرې لګوي»؟

«لورې، که دغو خاینینو د غواوو غدود قدري دلته لګولی، موږ به په دې ورځ نه وو».

باد، پردې ښـــوروي او امنه له پرېشانوونکو خیالونو را بهره کېږي. خپل ډنګر لاس په زړه ږدي. احساسوي چې زړه یې له هر وخت نه زیات درزېږي. له ځایه پورته کېږي او د کوټې المارۍ ته لاس اوږدوي، غواړي قلم او کتابچه را واخلي او خپل دردونه پرې ولیکي. له ځان ســـره فکر کوي، د مور له تګ

وروسته ځومره ناویلې کیسې او د ویلو لپاره څومره خبرې لري:

«اې خدایه، اوس له چا ســـره کښېنم او کیسې وکړم، په کومه ورځ چې به له درس نه راغلم، ټول هغه څه چې مې لیدلي یا اورېدلي وو، مور ته مې ویل».

تودې اوښکې یې، ځوان رخسار خو تښتېدلی رنګ لندوي. د لستوڼي په شا خپلې سترګې پاکوي او په سپینه پاڼه لیکي:

**«مورې! دا اتم لیک دی چې تا ته یې لیکم، ســـره له دې چې پوهېږم دا لیکونه به هېڅکله ونه لولې. یوه لحظه مې هم له ذهن او زړه نه یې وتلې. د کور په ټولو کونجونو کې ستا یادونه انځور شـــوي. ان د بالښت پر سر چې هره شپه یې تر ســـر لاندې ږدم، تر اوسه هم ستا د لاسونو بوی لري. د دې کور په هرڅه کې ته یې. که رښـــتیا ووایم دا کور په تا باندې کور و. پلار مې دې ژوندی وي او عمر یې اوږد، خو ســـتا ځای په دې کور او زما په زړه کې د تل لپاره تش دی.**

**مورجانې!**

**زړه مـــې هېڅ صبر نه کوي، کله کله فکر کوم که په بل هېواد کې وای او په خپل وخت ډاکټر او درمل درته رسېدلي وای، کېدای شي اوس له موږ سره وای. اوففففف هېڅ مې نه هېرېږي چې په هغه ورځ ما او پلار مې څومره هڅې وکړې او څومره مو هرې دروازې ته ستا د ژغورنې لپاره منډې وکړې. پوهېږې، بېچاره ماما مې په ډېرو ستونزو یو د اکسیجن بالون درته واخیست او راووړ؛ خو هغه، هغه نوش دارو وه چې تر**

مرګ وروسته سهراب ته رسېدلې وه. څنګه به هېره کړم چې څومره غريبانه او مظلومانه راڅخه لاړې.

مورې قسم خورم چې دا څو ورځې مې يوه مړۍ ډوډۍ هم په ښه زړه خوړلې نه ده. همدا چې په ياد مې شي تا څو ورځې له اوبو او ډوډۍ پرته يوازې سيروم واخيستل، زړه مې اور اخلي. نن مې چې د ګاونډي کوترې وليدې، زړه مې له احساساتو ډک شو، داسې مې احساس کړه چې زړه مې نور په تنګ دی ډېر په تنګ او تر څنګ مې يوې لويې تشې خوله خلاصه کړې او ژوندۍ مې تېروي.

اخخخخ مورجانې!

له تا وروسته څومره مينه چې تا راکوله بل څوک يې کله راکولای شـــي، څوک به په مهربانه لاسونو زما پر وېښتانو لاس کشـــوي او ما به د نړۍ تر ټولو ښکلې وبولي؟ کېدای شي دغه ليکونه يوه ورځ د کوم چا لاس ته ورسېږي، کېدای شـــي يوه ورځ څوک پوه شـــي چې ستا په نشتوالي کې مې څومره يوازېتوب او درد احســـاس کړی او تش ځای دې زما زړه څومـــره له غمونو ډک کړی. کېدای شـــي يو څوک پوه شي چې کرونا هغه بلا وه چې مور يې سره بېل کړو. نه نه، يوازې جسم مو سره بېل دی، خدای پوهېږي چې ته مې په هر نفس کې شـــته يې ان د شپې احساسوم چې د تخت سر ته مې راځې او په هماغه مهربانه لاسونو مې په کوڅيو لاس تېروې، ماته په هماغه نوم غږ کوې او د نړۍ تر ټولو ښکلې



**نجلۍ مې بولي».**

امنه خپله کتابچه بېرته په الماری کې ږدي او پخلنځي ته ځي چې د شپې لپاره ډوډۍ تیاره کړي. له کومې ورځې یې چې مور بلې نړۍ ته تللې، هم د دې او هم یې د پلار د خولې مزه کوچېدلې.

ناڅاپه ور یادېږي چې په دې څو ورځو کې یې له پلار ســره یوازې څو خبرې کړې دي او بس. پلار یې هم ســهار وختي دوکان ته ځي او ماښام د اندېښنو او غمونو له پنډ سره کور ته راځي.

مور یې د کور د ملا تیر وه او کومه د جاذبې قوه یې چې درلوده، کورنۍ یــې پر ځان راټوله کړې وه. امنې پرخپل ســر لاس ږدي او هوډ کوي چې د پلار شتون لوی غنیمت وګڼي او د کورنۍ غم او درد په خپلو ځوانو لاسونو پاک کړي.

د دروازې ناڅاپــي ټک ټک یې له خیال پلوونو را بهر کوي، د دروازې په لور ځي، دروازه چې پرانیزي له خوښۍ او تعجب چیغه کوي:

«سلام پلار جانه! نن څنګه وخته راغلې»؟

«لورې! په لاره کې مې یو شــی درته اخیســتي وو، ویل مې تر ماښام مخکې یې درته ورسوم».

«وووووی...»

«د پلار خوږې، دا مې تا ته اخیســتې. پوهېدم چې له ماشــومتوبه دې سپینې کوترې خوښېدې».

که څــه هم کوتره ووړ موجــود و؛ خو په امنه کې یــې ډېر لوی بدلون راووست او د یوې شیبې لپاره یې د کرونا او د مور له لاسه ورکولو غم هېر کړ.



# انسانیت ژوندی دی

پسرلي ته بشپړه میاشت پاتې ده، خو ټولو ونو او غوټۍ کړې دي، بې رنګه بې ډوله غوټۍ. زرینه چې هر وخت دې ونو ته ګوري، خپل حال ور یادېږي او ځان د دې ستومانه غوټیو په څېر احساسوي:

«ډېر وخت کېږي باران نه دی شوی او ژمی هم پوره وچ تېر شو. ونو او بوټو ته چې اوبه ونه رسېږي، حال یې تر دې نه ښه کېږي».

زرینه په خپل وړوکي دوکان کې ناســته وه. د دوکان کړکۍ یې د ګاونــډي د باغ لور ته خلاصه کړه. د خیاطــۍ ټوټې پر هغه زاړه مېز چې له مشرې خوابنې ورته په میراث پاتې وو، ګډې وډې پرتې دي. یــو کال کېږي چې دوکان ته یې هېــڅ پیرودونکی راغلی نه دی او د خیاطۍ کار وبار او په لاس ګنډل شــوي توکي یې هېڅ پیرودونکی نه لري.

مانیجنه له ځانه سره وایي:

«څه ورځې وې، په کار پســې مې نه رسېدم، تر نیمې شپې به زه

وم، ستن او ټوکر».

دا لا څه کوې چې هغې د خپل دوکان د یو کال کرایه هم ورکړې نه ده او هر ځل چې صمد کاکا ویني، ځان ناګاره اچوي چې ګواکې هېڅ یې لیدلی نه دی:

«چـــا فکر کاوه چې د کرونا په نوم ویـــروس به ټوله نړۍ له تورو خاورو ســـره خاورې کوي او هغو کسانو ته چې په دې جګړه ځپلې ځمکه کې ژوند کوي ډېر زیان رسوي».

زرینـــې، د بغلان ولایت، پلخمري په تنګو کوڅو کې یو وړوکی غریبانه کور درلود. مېړه یې په جګړو کې له لاسه ورکړی و او له دریو وړو اولادونو سره یې سخت ژوند تېراوه. زرینې کلونه کلونه خیاطي کړې وه او پـــه دې توانېدلې وه چې ۳۰ زره افغانۍ ټولې کړي، مواد پرې واخلي او خپلې خیاطۍ او لاسي کارونو ته پرمختګ ورکړي او په خپله کوڅه کې یو دوکان په کرایه ونیسي.

کار یې ډېر ښـــه و، پېرودونکي به له لـــرې ځایونو ورته راتلل، د غاړې، څادر، ټکري، ګلدوزي دســـمالونو او چرمو فرمایشونه به یې ورکول. په ځانګړي ډول کوژده شـــوو نجونو به د چرمو د بالښـــتونو پوښونه غوښتل. ان د لاسي صنایعو یو سوداګر به هره میاشت راته او د زرینې لاسي صنایع به یې د کابل بازارونو ته وړل.

د هغو ورځو یادولو به زرینه ځوروله او کریغې به یې کولې:

«خدایه! د ماشـــومانو پلار دې رانه واخیســـت، خلکو ویل صبر وکـــړه همدا به د خدای رضا وه ما هم صبر وکړ. ودې لیدل چې خپل اولادونه مې لکه پیشـــکه چې خپل پیشـــونګوري په خوله کې نیسي



وپالل، شپه او ورځ مې پر ځان یوه کړه، ستن مې ووهله، خیاطي مې وکړه چې لوی یې کړم. سترګې مې څه نه ویني او د ګوتو سرونه مې سوري سوري دي، پســې ونه ګرځېدم، ویل مې خیر، د خپلو دریو ماشومانو لپاره کار کوم. کله چې یوه مړۍ ډوډۍ برابره شوه او دوکان مې ونیو، دغه د مرګ ناروغي کرونا دې راته ولېږله، خدایه ووایه چې زه اوس دا ژوند څه ډول مخته بوځم»؟

د خپــل دوکان څلورو کونجونو ته یې وکتل، نیمه ګنډل شــوې جامې او نابشپړ خامک غاړې د دوکان په کونج کې پرتې وې، ان زړه یې نه غوښــتل ســتن هم لاس کې واخلي او خپل پاتې کارونه بشپړ کړي. په غمجن ډول یې خپله خبره وغځوله:

«د کرونــا پر مهال مې ټوله پانګه له لاســه ورکــړه، ان د دوکان د کرایې د ورکړې وس نه لرم، په یو څه پیسو مې اومه مواد او په یو څه مې تار او ټوکر اخیســتي وو چې لاســي صنایع پرې جوړ کړم، خو اوس دا وضعیت وګوره چې نه پیرودونکي لرم او نه بازار».

له ډېره درده یې خپلې وړې راډیو ته پناه یوړه. د راډیو د ویاند لوړ غږ واورېدل شو:

«د سوداګرۍ خونو او د مېرمنو د لاسي صنایعو څېړنې ښیي چې په افغانســتان کې د کرونا د لومړۍ څپې له پراخېدو سره سم ۸۰ په سلو کې وړې سوداګرۍ له ســقوط سره مخ دي او ۲۰ په سلو کې وړو ســوداګریو هم کارونه معطل کــړي دي. د کرونا کړکېچ د نړۍ اقتصاد له مخ په ځوړ حالت ســره مخ کړی او افغانستان هم له دې قافلې شاته پاتې شوی نه دی».

دغــه څېړنــه د کرونا ویــروس د لومړۍ څپې لــه پراخېدو او د مارکېټونو له بندېدو سره، د ۱۵۰ سوداګرو مېرمنو تر منځ ترسره شوې ده. د سوداګرۍ خونو د څېړنو پر بنسټ، ډېر شمېر مېرمنې چې وړې سوداګرۍ یې لرلې د دویم ځل کار پیلولو لپاره مالي ورتیا نه لري...»

د زرینې طبیعت نور هم خرابېږي. راډیو بندوي. تر اوســه لا له دوکان څخه د راډیو غږ په بشــپړه توګه غلی شوی نه و چې خور یې ګل جانه دوکان ته راځي. د راډیو د غږ ځای د ګل جان غږ نیسي:

«خورجانې! ډېر غم مه کوه، خدای مهربانه دی».

«د خدای ج په مهربانۍ کې شک نه لرم، خو ته پوهېږې چې زه یو غم نه لرم، په زرګونو غمونو او جنجالونو پسې اخیستې یم».

«خیر دی، په هرې تیارې پسې رڼا وي».

«باور وکړه ګل جانې، چې ژوند مې هره شېبه تر ستوني نیسي او کله کله مې بیخي له ژونده زړه توربېږي».

«زرینې خور توبه وباسه».

«وووووی، ته څه پوهېږې، کله چې د دوکان څښتن وینم او ځان تېر باســم، زړه مې درزېږي چې اوس غږ را باندې ونه کړي او کرایه ونه غواړي».

«زرینې پوهېږم، سختو ورځو ســره دې مخ ده خو باید حوصله ولرې».

«ګل جانې ویل یې اسانه دي».

«اوس خو دا حال یوازې پر تا نه دی راغلی، مخامخ ګاونډی دی وګوره، ستا خو شکر دی کور خپل دی، هغه بېچاره په کرایي کور کې

اوسېږي او مجبوره دی هم د کور او هم د دوکان کرایه برابره کړي».

«دا خو رښتیا وایې گل جانې، زما کار خو که بازار نه لري، لږ تر لږه څه مې چې جوړ کړي خرابېږي خو نه، د هغه بېچاره په سطلونو سطلونو چکني، مربا او اچار خراب شول او بهر یې وغورځول».

گل جانې زرینې ته روحیه ورکړه چې د ژوند د ستونزو پر وړاندې صبر ولري او بېرته په پوره انرژۍ سره خپل نابشپړ کارونه بشپړ کړي.

څنگه یې چې خور له دوکانه بهر شــوه، ټولې نیمه کاره ټوټې یې راټولې کړې او هوډ یې وکړ چې نابشپړ کارونه یې بشپړ کړي او د یو گرېوان په جوړولو لگیا شوه.

«دسمال می دوزم دستمال زیبا که زیب دست یارم باشه...»

د تنکۍ لور غږ یې د زمزمو دا څپې گډې وډې کوي.

«اوهو مورې، سترگې مې روښـــانه چې بیا دې تار او ستن لاس کې واخیستل».

«شیلا لورې، د ژوند بل نوم مجبوریت دی».

«پوهه نه شوم مورې، مقصد دې څه دی»؟

«مقصد دا چې د چلولو وړلو لپاره باید کار وکړو».

«رښتیا مورجانې، نن مې چې ته ولیدې بیا د پخوا په څېر خیاطي کوې، ډېره خوشاله شوم».

«لورې، خدای دې گل جانې ته ښه صحت په نصیب کړي، ویې هڅولم چـــې کار مې بېرته پیل کړم. کنه زړه مـــې نور له خیاطۍ او گنډلو سټړی شوی و».

«ترور مې دې خیر یوسي».

«امین!»

«مورې، زه هم کار نه لرم، کولای شم مرسته درسره وکړم؟»

«راشـــه لورې، دغه د بالښت پوښونه چې د چرمو کار یې خلاص شوی، قات او پورته یې کړه چې له مخې مې لرې شي».

«مورې، زړه مې وایي، له خیره هرڅه بېرته سمېږي او خیاطي دې هم بازار پیدا کوي».

«خدای دې ستا د خولې په خبرو برکت واچوي لورې، اوس هڅه کوم که دا بشـــپړ کارونه څوک په نیمه بیه هم واخلي خرخوم یې چې د صمد کاکا د دوکان کرایه برابره کړم. کور یې ودان چې دومره وخت یې څه ونه ویل او کرایه یې ونه غوښته».

***

زرینې کلک هوډ درلود چې د لاســـي صنایعو د کارونو په پلورلو سره د صمد کاکا د دوکان کرایه پرې کړي. له همدې کبله یې شپه او ورځ کار کاوه او ستړیا یې نه پېژندله. هغې د خلکو جامې په نیمه بیه هم ګنډلې او پیسې یې سپما کولې. شیلا هم ډېره مرسته ورسره کوله، ځینـــې وخت به له تاوده او لاچي لرونکي چای او یو څه وچ خټکي ســـره هم ورته راتله او له شوخۍ په ډکو خبرو او خندوونکو کیسو به یې مور خندوله.

که په داســـې حالت کې چا دغه مور او لور لیدلای، فکر یې کاوه چـــې مور او لور نـــه بلکې دوې ملګـــرې دي. د زرینې زړه د خپلې نازولې او شـــوخې لـــور په لیدو ځواکمن کېده او هرې موســـکا یې انرژي ورکوله.

زرینه ډېره ځوانه وه چې یوه ورځ یې مېړه د کار کولو لپاره له کوره ووت خو بېرته رانغی. په هماغه ورځ ډنډ غوري ولسوالۍ کې چې د مېړه کار ځای یې و، سخته جګړه روانه وه او ماښام مهال و چې د مېړه جسد یې ورته راوړ. هر وخت به چې زرینې ته هغه تریخ ماښام او نورې ترخې ورځې ور یادېدې، زړه یې له وینو ډکېده او اوښکو وار نه ورکاوه.

زرینې په یوازې ځان درې د زړه ټوټې په یوازې ځان لویې کړې، پرته له دې چې څوک کومه مالي مرسته ورسره وکړي او یا یې مالي ملاتړ وکړي. یوازې هماغه ختین کور یې لویه پانګه وه چې دې او اولادونو ته یې په میراث پاتې و او د دوی لپاره پناه و.

شیلا اوس تنکۍ پېغله او د سهار او ماښام لکړه یې وه:

«مورې ، څوک دروازه ټکوي».

«خدای خبر چې په دې ناوخته وخت کې به څوک وي»؟

«زه ورشم»؟

«نه، صبر زه خپله دروازه خلاصوم».

«هغه ده مورې قیس دروازه خلاصه کړه».

«وووی په خدای چې صمد کاکا دی، اوس څنګه وکړم»؟

«مورې، رنګ دې ولې وتښتېد»؟

«لورې، صمد کاکا خامخا د دوکان په کرایې پسې راغلی».

«ډېره اندېښنه مه کوه، مخکې لاړه شه، کېدای شي په کرایه پسې نه وي راغلی».

«په کرایه پسې چې نه دی راغلی نو په دې وخت څه بلا غواړي»؟



«ورشه مورې چې مالومه شي».

«صمد کاکا ستړی مه شې»!

«خير يوسې لورې».

«کاکا بيخي درته خجالته يم، لــه خجالتۍ بيخي درته کتلای نه شم».

«خدای دې نه کړي لورې، دا څه وايې»؟

«کاکا، هغه ورځ مې له اولادونو ســره هم دعا درته وکړه، پوهېږم کــه مې ورور او پلار هم وای دومره حوصله چې تا راته وکړه هغوی به نه راته کوله».

«په دې خبرو پسې مه ګرځه، زه بل څه وايم».

«نه کاکا، که څوک سيال وي پوهېږي، په دې نژدې وختو کې دې د دوکان يوه برخه کرايه درکوم».

«بېخ دې مه وځه، ته نه يې خبره شــوې چې ما ستا او په بازار کې د نورو دوکانونو کرايې او خپلو دريو نورو ګاونډيانو ته ببنلې دي».

د زرينې په وچو شونډو موسکا خوره شوه.



## د کتاب کوډې

پسرلي خپلې ښکلاوې غوړولې وې. چمنونه شنه او له نوروزي زېړو وړو ګلونو ډک وو. د بادامو او زردالو ونو، خپلې غوټۍ غوړولې وې، په شـــنو او ځلېدونکو پاڼو سره پوښل شوي او د شفتالو او ناکو ونې، تر اوســـه هم د ګلونو له غوټیو ډکې وې. د شنو وښو، ګلونو، باران او خاورې بوی او د چڼچڼو غږونه چې د ګلونو په څانګو کښېني او سندرې وايي، د انسان زړه په ټوپونو راولي او هیجاني کوي يې.

ژمی له ټولو ســـختو ورځو سره، سوړ او له ناروغیو سره يو ځای تېرېږي او له ځان ســـره وايم او دعا کوم چې بیا هېڅ کله هم داســـې ترخې ورځې راباندې رانشي.

هر ځل چې را په ياد شـــي، دغه له ځوږ ډک ښـــار په يو غلي او چوپ ښار بدل شوی له حیرانتیا او وېرې مې ماغزه اور واخلي.

هېڅ فکر مې نه کاوه چې ناڅاپه دې په يوه ډارن او بې وزله انسان بدل شم. ان کله به مې چې مور له دفتر راتله، زړه مې هېڅ نه غوښتل

ورسره مخامخ شم او سلام ورته وکړم. په دې فکر وم چې له خپلو او پردیو ټولو ضرر راته رســېږي او د ناروغېدو لامل مې کېږي. تر نیمو شــپو به ویښ وم عجیب خیالونه مې لرل او وېرووونکي خوبونه مې لیدل. اوففففففف د هغې ورځو او ســاعتونو د هرې لحظې یاد مې دومره ځوروي چې یوازې الله تعالی پوهېږي او بس.

ژوند مې په تورو او پوچو فکرونو کې پوښــل شوی و. باور مې نه کېده بېرته به هغه کس شم چې وم او نړۍ ته به د هیلې او مینې له هنداره وګورم.

تر اوسه هم تنفسي ستونزه چې ماسک پوښلو راته جوړه کړې وه له منځه تللې نه ده او تر اوسه هم د شپې له لوري کله چې د کویډ۱۹ د ناروغۍ وېره راباندې راشي، له ټول بدن مې سړې خولې بهېږي او د خپل زړه اواز مې چې ټکان کوي اورم.

څومره سخت او ستونزمن حالت مې تېر کړ. په اونیو له کوره بهر نه شوم، هېڅ ترکاري او مېوه مې ونه خوړل. یوازینۍ هیله مې دا وه، د کرونا له بې رحمه لاسونو وتښتم.

په ټوله مانا یو بل انســان شوی وم، وېښتان او ږیره مې دومره سره پېچل شــوي وو چې ځینې وخت به مې خپله هم ځان نه پېژانده. له دې وېرې چې له ســلمان او وســایلو څخه یې د کرونا ویروس راته انتقال نشــي، میاشتې وشوې سلمانۍ ته تللی نه وم. یوه ورځ مې د مور خبرې لکه خنجر داسې راباندې ولګېدې:

و هلکه، څه حال دې جوړ کړی، یو ځل هنداره ته وګوره له ځانه دې څه جوړ کړي، پوستکی دې په بدن سرېښ شوی او د نی په څېر

وچ شوی یې.

موريې، ارام مې پرېږده.

زړګیه، دومره وېره ښه نه ده، هوښیار هلک یې، پوهېږې چې وېره په خپله هم بدن کمزوری کوي.

پــه خپل واک مې نه ده، پوهېږې چې هــره ورځ مې له ډول ډول خلکو سره سروکار دی.

زړګیه، ځان په هرچا ګران دی، ډېره اندېښــنه مه کوه. څو ورځې کېږي چې یوه غرمه دې هم سمه ډوډۍ نه ده خوړلې.

ډوډۍ ته مې هېڅ زړه نه کېږي، خوله مې ډېره ترخه ده.

ټول دې له خپل لاسه دي، په ډېرو اندېښنو دې ځان ناروغ کړ.

موريې! فکر کوم په کرونا اخته شــوی یم، سر مې ګنګس دی، د ډوډۍ او غوړیو بوی ډېر بد راباندې لګېږي.

هېڅ خبره نه ده زويه، هسې بې ځایه ځان ځوروې.

ډېر ســاړه مې کېږي، د بخارۍ اور ته چې هر څومره لرګي اچوم هېڅ نه تودېږم.

همــدا چې له بهر به کور ته راتلم او ماســک به مې لرې کاوه، د پخلنځــي په لور به مې منډې کړې، اوبه او مالګه به مې غړغړه کړل، په دې وخت کې به مې د مور غږ پورته شو:

ستونی دې پرې وشړاوه، په ورځ کې یې یو یا دوه ځله غړغړه کول ښودلي نه هر ساعت او هره دقیقه.

موريې! کار مه لره.

زويه زړه مې بیخي ټوټه ټوټه کېږي، په ســتوني دې دومره فشــار

راوړې چې هر ډول کرونا وي له منځه ځي.

څه وکړم مورې، فکر کوم، په ســتوني کې مې کوم څه بند شوي دي.

ټول د ډېرو اندېښــنو له کبله دي، ځــان ډېر مه ځوروه، وګوره په کابل ښــار کې لږ او ډېر شپږ میلیونه انسانان ژوند کوي، غم چې په عالم دی هغه غم نه دی.

داسې هم نه ده مورې، ځان ساتنه فرض ده.

مور مې رښــتیا ویل، دا چې اوبه او مالګه مې ډېر غړغړه کړې وو ســتونی مې شړېدلی و او ان کله به وینې هم ترې راتلې، خو د کرونا وېرې ارام ته نه پرېښــودم، اورېدلي مــې وو، که تودې اوبه او مالګه غړغــړه کړو، مخکې له دې چې کرونا ویــروس مو بدن ته ننوزي په ستوني کې یې ووژنو او له شر یې ځان بې غمه کړو.

ډنګر وم، بیخي ډنګر شــوم او نه پوهېږم چې د وېرې او زړه نازړه توب له لاســه مې څو کیلو وزن بایللــی و. د مخ ټیکونه مې څومره لوېدلي وو او ســترګې مې هم راختلې وې. ډېرې اونۍ شــوې وې چې خوښي او موسکا مې له مخ الوتي وو او په ځان کې ډوب شوی وم. یوه ورځ مې هوډ وکړ پرته له معاش مې له دندې رخصتي واخلم، ځکه نور مې نه غوښــتل له همکارانو ســره مې پاتې شم. هره ورځ مې اورېدل، پلانی او پلانی په کرونا اخته شــوي دي او د دې خبرو اورېدو مې حالت بدتر کاوه.

هــره ورځ به مې د کوټې د کړکۍ له هنداري ســره درېدم او هیله مې کوله، هماغه پخوانۍ ورځې بېرته راشي او وکولای شم له وېرې





پرته ښار او بازار ته لاړ شم، له ملګرو سره ووینم او د نوي ښار په یوه هوټل کې مې د خپلې خوښــې پیتزا وخورم، اوه هېڅ مې نه هېرېږي چې یوه ورځ مې بهزاد ملګري زنګ راته وکړ:

سلام ورره، په کور کې یاست؟

نه نه، په کور کې نه یم.

چېرته یې؟

نه پوهېږم...

ههههههههه، فکر کوم کرونا بیخي لېونی کړی یې.

مطلب مې دا دی چې نه پوهېږم څه وخت کور ته رسېږم...

پته راکړه، هر ځای چې یې زه درځم.

نه نه، بهزاد جانه، نه کېږي.

و هلکه جوړ یې؟

هو هو جوړ یم، خو...

د خــدای روی ته وګوره و هلکه، له ما څه پټوې، که جوړ نه وې چې کوم ډاکټر ماکټر ته دې بوځم.

اخخخخخ هر وخت مې چې هغه ورځ په یاد راځي له شرم څخه په خولو کې ډوب شــم، زموږ د ملګرتیا په ټوله موده کې مې بهزاد ته چې د ورور په څېر و راته، هېڅ کله هم دروغ ویلي نه وو؛ خو اوس اړ شوی وم چې هر څنګه وي د راتګ مخه یې ونیسم.

کله به حیران شــوم، ولــې د بهزاد په څېر نه یم، د هېڅ شــي په کیســه کې هم نه دی. هغه د نړۍ تر ټولو نېکمرغه او زړور کس راته ښکارېده ځکه چې له کرونا څخه د یوې ستنې په اندازه هم نه وېرېده

او په کیســـه کې یې نه و. قســـم کوم که مې ســـر د لحد په ډبره هم ولګېږي د بهزاد نېکۍ به هېرې نه کړم. په همغې سختو ورځو کې یې زنګ راته وکړ:

و هلکه، ستاســـې په دروازه کې مې یو کارتن اېښـــی ورشه چې څوک یې یونسي.

سل زړونه مې ســـره یو کړل، ماسک او لاس پوښوني مې په بیړه واغوســـتل او په بیړه د دروازې په لـــوري لاړم، همدا چې دروازه مې خلاصه کړه، د کتابونو په یوه لوی کارتن مې سترګې ولګېدې.

اې زما خدایه، د بهزاد ښـــېګڼې او احسان به هېڅ کله اداء نکړای شم.

کارتن مې له ځمکې په سختۍ پورته کړ او د خپلې کوټې په لوري مې یووړ. په دســـمال او ډېټول مې یو یو کتاب پاک کړ وروسته مې د کوټې په طاقچه کې یو یو کېښود.

د کتابونو د نومونو لوستو مې هیجان ورو ورو ډېراوه. هغه پوهېده چې د کومو لیکوالو کوم کتابونه مې خوښېږي:

رښتیا یې ویلي چې ښه ملګری له سرو زرو ډېر ښه دی.

په ځان پورې مې وخندل او له ســـرو زرو سره د بهزاد پرتله کول مې نامناسب وبلل، د نړۍ ټول سره زر هم د بهزاد له یوې ګوتې سره برابرېدی نشـــي. بهزاد وکولای شـــول خپله مینه او محبت له بل هر وخـــت زما په زړه کې ځای کړي. په ډېرې مینې او هیجان ســـره مې کتابونه تنظیم کړل:

لومـــړی «پنځم درویـــش» وایم، له هغې وروســـته کوم یو ولولم

امممممممم «د کارامووزوف وروڼه» نه نه له هغې وروسته به «جنایات او مکافات» ولولم.

گرانــه بهزاده! دا نیکـــي او مینه دې څـــه ډول اداء کړم؟ له هغې وروسته مې شپه او ورځ هېڅ ډول زړه تنگي او ستړیا نه لرله، لکه یو تږی چې اوبو ته رسېدلی وي ټوله ورځ مې کتاب لوست.

هـــر کتاب به مې چې ختم کړ، بهزاد ته به مې زنگ کاوه او دواړو به په ساعتونو ساعتونو د کتاب پر منځپانگه او متن بحث کاوه. ځینې وخت به مو بحثونه د کتاب په اړه کره کتنې ته واوښتل. ځینې وخت بـــه مو د کتاب د لیدلوري په اړه مخالف نظرونه لرل او کله به مو هم بحث شـــخړې ته اوښت. یوه ورځ مې مشر ورور چې په ایرلېنډ کې اوسېده زنگ راته وکړ:

گرانه وروره څنگه یې، رښتیا ووایه له کرونا اوس هم ډېر وېرېږې؟

لالاجانه، کېدای شي باور دې ونشي چې کرونا مې د اوبو په څېر تېره کړه.

څه وایې، څه وخت کرونا نیولی وې؟

نن مې پوره شلمه ورځ ده.

ووی اوس څنگه یې؟

د خدای شکر دی جوړ تیار یم.

ښه شو، ناروغي څنگه تېره شوه تاسې خو ډېر ترې وېرېدئ؟

رښـــتیا ووایم لالاجانه، خدای دې بهـــزاد ملگري ته خیر ورکړي چې بېخي یې زما روحیه بدله کړه.

بهزاد؟



امممممم هماغه ملګری چې له شپږم ټولګي مې ټولګیوال و.
هغه پېژنم، وایه چې تاسې ډارن ته یې څنګه روحیه درکړه؟
یوه ورځ یې یو ډک کارتن کتابونه راته راوړل...
و هلکه، د کتاب یې له کرونا سره څه؟
لالاجانه خبرې ته غوږ ونیسه، د کتاب لوستل او له هغې وروسته د کتاب پر منځپانګه زما او بهزاد بحث، له ما بیخي بل انســـان جوړ کړ...
هغه څنګه وروره؟
موږ به هره شپه د کتاب د موضوع په اړه خبرې کولې، د کتاب له نوم نیولې، د کتاب د لیکلو تر ډول، د موضوع را اخیستل، د موضوع پیل او پای، لنډه دا چې په ټول کتاب مو نظر ورکاوه او نقد مو کاوه.
ګوره، بـــاور وکړه چې کتاب ویلو دې په عـــادي خبرو هم اغېزه کړې.
ههههههههه ټوکې کوې.
ټوکې نه کوم، مخکې به مې چې زنګ وکړ، له زړه تنګوالي به دې خبرې کولې، فکر به مې کاوه له یوه روحي ناروغ سره خبرې کوم.
ههههههههه زه دې روحي ناروغ بللی وم وروره!
باور وکړه، هر وخت به مې چې خبرې درسره کولې، تر یوې اونۍ پورې به پریشانه وم.
ههههههههه لالاجانه اوس دا رواني ناروغ څنګه دی؟
چې رښـــتیا شـــي نو، دروغ دروغ، نن مې له تاســـې مثبته انرژي واخیسته.

کوم کتابونه چې بهزاد راته لېږلـــي وو، کوډې يې راباندې وکړې له ما يې بل انســـان جوړ کړ. اوس زه يم چـــې ملگري مثبت لوري تـــه رابولم او پوهوم يې. هر ځل مې چې پام شـــي ځينې ملگري او دوستان له ورته ستونزې سره مخ وي، ژر ځان ور رسوم، کتاب ورته رسوم او هغه لارې ورته ښايم چې په سختو حالاتو کې يې له ماسره مرسته کړې وه.

کتاب اخيستل او کتاب لوستل مې دومره عادت شوي وو چې که يوه ورځ له ځان ســـره کتاب ونلرم، ان ملگري او دوستان مې هم رانه پوښتي چې ولې کتاب راسره نشته.

په تېر وخت کې مې يوازې څو د پوهنتون کتابونه لرل؛ خو اوس د بهزاد او د هغه د کتابونو د کوډو له برکته، د کتابتون ښښـــتن يم او د مور په وينا مې، ټول وخت پر کتابونو کې سرگردانه يم او له مطالعې او کتاب لوستنې هېڅ نه ستړی کېږم.

ځينې وخت هم متنونه، لغتونه، تصويرونه او د کتابونو شخصيتونه مې له ذهن سره لوبې کوي. ډېر ځله داسې شوي چې ځان مې د هغه رومان يو شخصيت گڼم چې لولم يې او له ځان سره وايم که زه د هغه پر ځای وای، داســـې او داسې مې کول او يا هم ځينې وخت ځان د ليکـــوال پر ځای دروم او وايم کـــه زه د دې رومان د ليکوال پر ځای وای، د دې کتاب تر ختمولو وروسته مې بل ليکه.



## د مور ښوونځی

رابعې خپل ماشومتوب او ځواني په جګړو کې بايللي وو. په ياد يـــې نه وو چې د ژوند په دې ټولـــو کلونو کې يې دې يوه ورځ هم له جګړې پرته تېره کړې وي.

تل به يې د خبرونو سرټکي د جګړو، وژلو او ويجاړولو له پېښو را اخيستل. هغه د جګړو په تورو کلونو کې زېږېدلې وه او په همداسې بدو ورځو کې لويه شوې وه.

د دې ټولو تباهيو تر منځ يې ډېرې هيلې، له لاســـه ورکړې وې او پرته له دې چې پوهه شي پېغله شوې وه او واده يې کړی و. ډېر ځله د دروازې مخې ناســـته او په ډېر حسرت سره يې د ښوونځي نجونو ته کتلي وو.

هغه په يوه ســـنتي او متعصبه کورنۍ کې زېږېدلې او لويه شوې وه او ســـره له دې چې له زده کړو سره يې زياته مينه لرله، هېچا اجازه ورنکړه ښوونځي ته لاړه شي، زده کړې وکړي او د ټولګي په چوکۍ

کښېني.

لور يې د پلار او مور په هڅونه ښـــوونځی بشپړ کړی و او اوس د کابـــل پوهنتون په اقتصاد پوهنځي کې محصله وه؛ خو زوی يې تر اوسه هم د مکتب په نهم ټولگي کې و.

پـــوره درې کاله مخکې يې خاوند په جگړو کې له لاســـه ورکړی و، په دې موده کې يې ډېرې ســـتونزې گاللې وې. شپه او ورځ يې د خلکو جامې گنډلې، د اولادونو د ښوونځي او پوهنتون لگښتونه يې پرې پوره کول.

لور به يې چې د خپلو زده کړو او ټولگيوالو کيســـې کولې، رابعه به ډېره خوشاله شوه او په مينه به يې ويل:

لورې، کله چې تاســـې کيسه کوئ چې څه لولئ او له ټولگيوالو سره څه وايئ، باور وکړه من من غوښې اخلم.

هههههههـــه گرانې مور جانې، نو چې دومره غوښـــې اخلې بيا ولې دومره ډنگره يې؟

تا دې خدای لري، له هرې خبرې خبره جوړوې.

مورجانې مه غوسه کېږه ټوکه مې وکړه. خدای دې تاسې وساتي چې زموږ د هر يوه د زده کړو له پاره څومره زحمت باسئ.

په مور گرانې، هر څومره زحمت چې باســـم دا هم کم دی، ځکه چې تاسې او ورور دې زما ټولې هيلې پوره کوئ.

رابعه ســـره له دې چې ډېر زحمت يې ويســـت، له کار يې زړه نه توريده او نه هم ستړې کېده؛ ځکه چې له لاسه وتلې هيلې يې د خپلو اولادونو په وجود کې لټولې.

هر سهار به له ټولو مخکې ویښېده او د خپلو اولادونو له پاره به یې توده ډوډۍ او چای برابرول او غرمه به یې هم د هغوی راتګ ته تلوسه وه. که به یې کومه ورځ کوم اولاد لږ ناوخته کور ته راته، ځمکې او اسمان به ځای نه ورکاوه او پرېشانه به د کور په دروازه کې ناسته او سترګې به یې په لاره ګنډلې وې.

د دې لحظې په درد یوازې هغه میندې پوهېږي چې همداسې حالت پرې تېر شوی وي. ډېری ورځې به ان په دې هم نه توانېدل، یو ګیلاس خوږ چای له وچې ډوډۍ سره وڅښي او تر غرمې به یې په وږې ګېډه خپلو اولادونو ته انتظار کاوه او له خپلو مینه ناکو سره به یې یو ځای د غرمې ډوډۍ خوړله.

ناڅاپه حالات بدل شول. اوس به په ورځو او شپو زهره او شمس په کور وو، تر نیمې ورځې به ویده او د شپې به هم تر نیمو شپو پورې ټلویزیون ته ناست وو.

رابعه چې له داسې یوه حالت سره عادت نه وه، هره ورځ له پخوا پرېشانه کېده او ځان ته خپه وه فکر یې کاوه د کلونو ثمره یې په اوبو لاهو شوه. یوه ورځ دومره پرېشانه شوه چې ناڅاپه یې چیغې وکړې:

خدایه! دا څه حال دی، زه د دې حالت د لیدو توان نه لرم او لېونۍ کېږم.

مورې، ټول ګاونډیان دې غږ اوري، څه خبره ده؟

نور څه وشي؟ تاسې ورور او خور تر نیمې ورځې ویده وئ نه درس وایئ او نه لیکل کوئ.

اوففف مورې ما ویل چې آسمان نړېدلی دی.

تاسې ته خو دا هرڅه عادي ښکاري.

مورې، ولې بې ځایه ځان پرېشـــانه کوې، په دې کار کې نو زموږ گناه څه ده، ټول خلک همداسې شوي.

د زهرې خبرو یې پر مور اغېزه وکړه او پوه شوه چې هغه حق وایي. د کرونا ویروس ډېر خپرېدل د دې لامل شوي وو چې پوهنتونونه او ښوونځي رخصت شي، زده کوونکي او محصلین په کور پاتې شي.

رابعې تصمیم ونیو داسې یو کار وکړي چې اولادونه یې له تنبلۍ او بېکارۍ خلاص شي او له وخت ښه استفاده وکړي.

ســـبا سهار یې هغوی را ویښ کړل او له کرونا د مخکې ورځو په څېر یې د ســـهار چای ورته تیار کړ، بیا یې د هغوی د درسي کتابونو کوټې ته بوتلل:

راځئ راځئ زامنو، نن مو زه ښـــوونکې کېږم او تاســـې ته درس درکوم.

مورې! په رښتیا هم تاسې درس راکوئ؟

شمس ورور مې ولې حیران شوې، تر نن پورې ما او تاته مور لږ درس راکړی؟

دا خو سمه ده، خو د مور د ښوونځي درسونه زده نه دي.

غلی شه لېونیه چې بیا مور خپه کېږي.

زهرې لورې، شمس ورور دې رښتیا وایي زما لیک لوست زده نه دي، خو په دې پوهېږم چې تاسې ته څنگه درس درکړم.

هماغه ورځ مور له خپلې لور زهرې هیله وکړه، د شمس له پاره یو منظم درسي مهال وېش جوړ کړي او هره ورځ په هماغه ټاکلي وخت





درس ورکړي چې بوخت شـــي او هم له وخت ښـــه استفاده وکړي. همـــداراز یې خپلې لور ته وویل چـــې خپله هم په منظم مهال وېش ســـره درس ووایي او هم یې له مور سره د کور په کارونو او خیاطۍ کې مرسته وکړي.

یوه ورځ شـــمس د پیازو او کچالو اخیستو له پاره د کوڅې دوکان ته لاړ او په لاره کې یې د خپل ښوونځي ټولګیوال مراد ولید:

شمسه، بیخي د کور چرګ درنه جوړ دی له کور نه راوځې.

مراده، ولې دې ماسک نه دی اغوستی؟

زه څه وایم او دمبوره مې څه وایي.

زه دې په خبره پوه شوم، خو تاسې زما په خبره پوه نه شوئ.

شمســـه، ځان لوی لوی مه ښایه، خیر چې د یوه ماسک پر ځای دې دوه اغوستي هههههه

مراده، غټ هلک یې او پوهېږې چې کرونا څومره ډېره شوې، که د ځان په کیسه کې نه یې مور ته دې پام وکړه.

پرېږده شمسه، له څه وخت راهیسې مې ښوونکی شوې؟

خبره د ښوونکي نه ده، دغه ناروغي ډېره خطرناکه او ساري ده.

څه ارام مو پرېږده، زه خوشاله یم چې ښوونځی نشته او اوس ته راغلې په کوڅه کې درس راکوې.

شـــمس د کور ته راتلو پر مهال له ځان سره فکر کاوه، که یې مور کور کې ټولګی نـــه وای ورته جوړ کړی، نو دی به هم د مراد په څېر هره ورځ په کوڅه کې ګرځېده او څه به یې نه زده کول.

رابعـــې به د خپلو اولادونو د نیم درس پر مهال دروازه په قاشـــقه

ټکوله او په موسکا به یې دوی ته ویل:
اولادونو د تفریح وخت دی.
مورې، نو په تفریح کې څه خورو؟
شمس وروره، ته یوازې د خېټې غم اخیستی یې هههههههههه
خیر دی زهرې لورې، شـــمس ورور دې رښتیا وایي او په تفریح کې باید یو سپک شی وخورئ.
مورې نو څه خورو؟
زویـــه، نن مې تاوده تاوده د گندنې پیرکي درته پاخه کړي دي، ژر مو لاسونه ومینځئ چې ساړه نه شي.
مور ښـــه پوهېده چې د کور ټولگی د خپلو اولادونو له پاره څنگه په زړه پورې کړي. هغه کلونه رنځېدلې وه چې ولې یې کورنۍ د زده کړو اســـانتیا ورته برابره نه کړه؛ په داســـې حال کې چې ټول پوهېدل رابعه د زده کړو مینه واله ده. ځینې مهال به یې زړه غوښتل له اولادونو سره کښېـــني او زده کړه ترې وکړي؛ که یې وخت موندلای په ډېرې مینې ســـره به یې زده کړې کړې وې او د درســـي کوټې په کنج کې به کېناسته څه چې شمس او زهرې لوستل دې به هم زده کول.
گاونډیانو به یې بخیلي پرې کوله او تل به یې خپلو اولادونو ته د زهرې او شـــمس بېلگه ورکوله چې له وخت څنگه استفاده کوي او څومره کوښښ کوي. یوه ورځ یې د کور د ښي لور گاونډۍ شریفه د دوی دروازې ته راغله:
سلام رابعې خورې، څنگه یې؟
ژوندۍ اوسې د نجیب جان مورې، ته خپله ښه یې؟

مننه ته هم ژوندۍ اوسې
راځه کور ته لاړ شو.
نه ورک یې کړه د دې خدای وهلې ناروغۍ له لاسه نشم درتلی، ټول وایي چې تګ راتګ مه کوئ.
رښتیا هم دې مرګونې ناروغۍ ټول له ژوند او کاره ویستي.
دې ناروغۍ ماشومان هم ټول له زده کړو او ښوونځي ویستی.
خور جانې رښتیا وایې.
ټوله ورځ ماشـــومان دي چې د یو بل سر ماتوي، که رښتیا ووایم خورجانې هېڅ حوصله موصله نه ده راته پاتې...
رښـــتیا هم، ځینې وخت تا ویل او ما ویل بیخي د ســـړي ځواک اخلي.
هی هی، ســـتا خو شـــکر دی زوی او لور دې هوښیار دي، هم درس وایي او هم د خیاطۍ په کاروبار کې مرسته درسره کوي، خدای دې زموږ له ماشومانو ساته چې خبره نه مني او نه په خبره پوهېږي.
رابعې او اولادونو یې ډېر زحمت ویســـت چې له هغې رخصتۍ څخه چې د لوړو زده کړو او پوهنې وزارتونو له لوري د کرونا ناروغۍ له کبله زده کوونکو ته ورکړل شوې وه ښه استفاده وکړي او ګټه ترې واخلي.
یوه ورځ، یوه ګاونډۍ چې د کوڅې په کنج کې یې کور و او څو کوره په یوه کور کې اوسېدل د رابعې کور ته راغله.
رابعې خورې، جنجال مې درته راووړ...
څنګه جنجال؟



نه پوهېږم خبره یې کنه، په همدې اونۍ کې مې د دویم زوی واده دی...

دا خــو جنجال نه دی، واده یې دې پخیر وی او خدای مو د نږور پل بختور کړه.

رابعې خور ژوندۍ اوسې، جنجال دا دی چې هاغه زموږ خیاط ناروغ دی، وایي چې کرونا ده که څه بلا هغې نیولی دی.

ووووی خوارکی.

هو، اوس زموږ ټولې جامې پر ډاګ پاتې دي او ان د ناوې جامې هم نه دي ګنډل شوې.

څــه وایې خورې، بله اونۍ مــو واده دی او دلته مو ټولې جامې ناګنډلې دي!

همداســې ده، اوس به یې خدای کوي، ته به یې کوې چې ورته تکړه شې او ټولې جامې وګنډې.

څو جوړه جامې دي؟

یوه یوه جوړه زموږ دي او څلور، پنځه جوړې هم د ناوې دي.

دا خو بیخي ډېرې دي، زه هم یوازې یم، په دومره لږ وخت کې به دومره ډېرې جامې ونشم ګنډلی.

داســې مه وایه رابعې خورې، زړه مو مــه غورځوه، زموږ د ټولو هیلې تاسې ته دي.

تاســې خو پوهېږئ چې له دروغجنــو خیاطانو نه یم او له وعده خلافۍ مې هم بد راځي.

له همدې خاطره تاسې ته راغلم او زړه مو دربانډې ډاډه دی.

گاونډۍ مېرمنې دومره ټینګار وکړ چې رابعه اړ شـــوه جامې یې ترې واخلي؛ خو ډېره پرېشانه وه چې وبه نشي کوی په ټاکلي وخت جامې ورته وګنډي، له ځان ســـره په فکرونو کې ډوب وه چې زهرې او شمس له فکرونو بهر کړه.

موري، ډېر فکر مه کوه.

زهرې لورې، فکر مې ګډوډ دی، وګوره یوه او دوه جوړې نه دي یو کوټ جامې دي.

مورې د زهرې خور په خبره لـــه فکر کولو څه نه جوړېږي، هېڅ فکر مه کوه زه او خور مې مرسته درسره کوو.

شکر زویه چې تاسې یاست، خو جامې ډېرې زیاتې دي.

مورې، ښـــه شـــو چې په کورني ټولګي کې دې د درس تر څنګ موږ ته خیاطي هم را زده کړه هههههههههه اوس دا دی مرسته درسره کوو، هله شمس وروره د خیاطۍ ماشین راوړه او په ستن کې یې تار واچوه.

صبر کوه زویه، د جامو په رنګ تار پکې واچوه.